بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلامي تاريخ له پاڼو ځخه

(۳)

ډاکټر کفایت الله وردګ

د کتاب په اړه

●●●●●●●●

د کتاب نوم : د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه (۳)

لیکوال : ډاکټر کفایت الله وردګ

د کمپیوټر چارې : محمد نذیر (ذبیح)

د چاپ وار : دوهم

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه

فهرست

سر لیک
مخ

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو ورونو زما ددې لپاره ملاتړ کړی دی چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هيڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالی رضا ده او پدې سلسله کې مونږ ځو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه کول .

٣. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه کول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلکو ته ور په يادول چې اوس هم په کومه نه کومه وجه د کفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلمانې جامعې ته موقع ورکول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردی، قربانۍ ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي

رسالو او کتابونو په شکل کې ددوی د اسانتیا لپاره وړاندې کول .
دا پورتنۍ او څه نورې داسې نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې روانې ساتلو ته هڅوي او انشاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړۍ به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړۍ دریمه کړۍ هم در ورسېده که ژوند بقاء وکوله ډېر زر به یې څلرمه کړۍ هم در ورسیږي او پدې کړۍ کې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه د صحابه وو په غزواتو باندې بسم الله کړېده زما امید دی چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړۍ ته د لا زیاتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لرې او یا خذمت کول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او یا دې لړۍ په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نیوکه، نکته، نظریه او یا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به یې له ستاسې نه د کور ودانې په ویلو سره په ورین تندې واورې او په راتلونکو کتابونو کې به یې په یاد لرې . مننه

ډاکټر کفایت الله وردګ
E-mail: phdwardak@gmail.com

د اسلامي دعوت مراحل

د رسول الله صلى الله عليه وسلم دعوت تر دريو لويو مرحلو تېر شو او څلرمې مرحلې ته ورسېدو

اوله مرحله : پټ دعوت (دا تر دريو کلونو پورې وو)

دوهمه مرحله : په ښکاره سره دعوت لکن جنګ نه کول صرف په ژبه دعوت کول وو (دا تر هجرت پورې وو)

دريمه مرحله : په ښکاره سره دعوت کول او که چا به د دعوت مخه نيوه او يا به يې په مسلمانانو باندې تېرى کولو نو دهغه سره جنګ کول وو (دا مرحله تر صلح حديبة پورې وه).

څلرمه مرحله : په ښکاره سره دعوت کول او جهاد کول .

لمړۍ مرحله (پټ دعوت کول)

کله چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې الهي احکام نازلېدل شروع شول نو آيتونه نازل شول چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې حکم کولو چې هغه بايد تبليغ او دعوت وکوي :

سورة مدثر آية ١-٧

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۝٤

وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ۝٥ وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ۝٧

ترجمه : ای په ځان باندې جامه را نغښتونکيه را پورته شه خلکو ته د عذاب نه ویره ورکړه او د خپل رب پاکي بیان کړه خپلې جامې پاکې کړه پلیدي له ځانه لرې کړه څه چې ورکوې هغه ته په غټه سترګه مه ګوره د الله تعالی لپاره صبر کوه .

په پورتنيو آیتونو کې په مختصر ډول سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم شوی چې خلکو ته تبلیغ وکوي او ددې آیتونو مطلب هم دادی چې ای په خپله کمپله کې پېچلیه پا څېږه د ارام او اطمنان وخت اوس لاړو، په کور کې د کېناستلو وخت لاړو اوس د مجاهدې وخت دی اوس د تکلیف تېرولو وخت دی پا څېږه تبلیغ وکوه او خلک د اور له عذاب نه وډار کړه رسول الله صلی الله علیه وسلم شروع وکړه او د الله تعالی ددین لوري ته یې خلک را بلل او د بتانو د عبادت نه یې منع کول لکن دا دعوت په پټه سره روان وو او د دعوت سره سره یې ددې کوښښ کاوه چې د مکې مشرکان پرې خبر نشي ددې امله په لویو مجلسونو

له لارې خبر د قريشو تر غوږونو پورې نه رسيږي او دا به هغه كسان وو چې يا به د رسول الله صلى الله عليه وسلم نېږدې خپلوان وو او يا به دهغه مخكني شناخته وو په هغه كسانو كې چې د همدې پټ دعوت په نتيجه كې د اسلام په اوائلو كې په اسلام مشرف شوي وو لاندې كسان شامل وو.

په اول اسلام راوړونكو كې حضرت خديجه

حضرت خديجه بنت خويلد چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم محترمه بي بي وه رضى الله تعالى عنها د نېكو اخلاقو خاونده وه او رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې عقل ، تېز دماغ او د راتلونكې په اړه ښه پوهېدل معلوم كړي وو نو ځكه يې په داسې وخت كې ددې نكاح قبوله كړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د پنځه ويشتو كلونو وو او خديجه رضى الله تعالى عنها په څلوېښت كلنۍ كې وه او د زمكې په سر باندې اول هغه انسان دى چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د ايمان په نعمت باندې مشرفه شوېده او هغه وخت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د زمكې په مخ باندې يوازې وو صرف دا يې د راز شريكه وه او دې به و رته تسلي وركولې چې الله تعالى به درته دا كار اسان كړي او چې الله تعالى څوك هم پيغمبر را وليږي نو الله تعالى بيا ورسره مرسته كوي چې د دعوت

په اول اسلام را وړونکو کې حضرت علي (رض)

حضرت علي ابن ابي طالب چې وړوکی ماشوم وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ایمان مشرف شو څرنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سکه د تره زوی وو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په مینه سره پالنه کوله او بیا یې ورته خپله لور حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها هم ورته په نکاح کړه.

په اول اسلام را وړونکو کې زید ابن حارثه (رض)

زید ابن حارثه (هغه بختور چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته زوی ویلي وو) او په اول کې دا دغلام په صفت سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو او حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها ورته تحفه کړی وو دا هم له هغه بختورو مسلمانانو څنې وو چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرف شوی وو او په اصل کې هم دا غلام نه وو دا ازاد وو کله چې دده د مور او د پلار په مینځ کې په څه کورنی خبره باندې لانجه راغله نو مور یې دده له پلار نه خفه شوه نود کور نه ترې را ووتله او دا ماشوم یې په غېږ کې وو چې د خپل پلار کور ته لاړه شي په لاره کې څه کسان ناست وو

ماشوم يې ترېنه واخيستو او په بازار کې يې د غلام په توګه باندې خرڅ کړو دا د مکې بازار ته راوړل شو نو حضرت خديجې رضی الله تعالی عنها چې مالداره ښځه وه هغې واخيستو او بيا يې چې کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره نکاح وکوله نو دا هلک يې هغه ته په تحفه کې ورکړو له بله پلوه يې کورنۍ ور پسې ګرځيده چې دا ماشوم بېرته پيدا کړي او د چا سره چې وي هغوی ته ووايي چې دا غلام نه دی په پوښتنه کې يې دا معلومه کړه چې په مکه مکرمه کې خرڅ شوی دی نو راغلل او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په کور کې يې پيدا کړو او قيافه شناس ورسره وو او په هغه وخت کې قيافه پېژندونکي معتبر خلک وو او پداسې موضوع ګانو کې به ددوی خبره د کلکې ګواهي سره برابره وه او د هغوی دا کار وو چې معلومه کړي او ووايي چې دا هلک ددې سړي زوی دی چې کله يې پلار په خپل زوی باندې دعوه وکوله چې دا زما زوی دی رسول الله صلی الله عليه وسلم بغير ددېنه چې هغه ته ووايي چې دا خو اوس زما مملوک دی او يا بل څه دليل ورته ووايي نو په ورين تندي يې هغوی ته وويل چې سمه ده دا چې ستاسې زوی دی نو که درسره ځي نو بوځې زئ دده خوښه ده که ستاسې سره ځي نو لاړ دې شي چې کله يې ده ته اختيار ورکړو ده وويل : ای رسول الله صلی الله عليه وسلم زه ستا په بدل

څه کوي که زما سره ځي نو يو ازاد هلک به وي او دلته خو ته مملوک يې د غلام په حيث شپې کوې آيا ته غلامي خوښوې او ازادي نه خوښوې؟ ده ورته وويل : هو ! چې هرڅنګه وي زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په بدل کې بل څوک نشم غوره کولى کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبره ترېنه واورېده نويې زوى ورته وويل او ښه عزت يې ورته ورکړو او د څه کسانو په مخ کې يې وويل چې خبر شئ د نن نه وروسته دا زيد ابن محمد دى زيد ابن حارثه نه دى پدې اړه بيا آيت نازل شو:

سورة احزاب اية ٥ .

ٱدۡعُوهُمۡ لِأَبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ

ترجمه : نسبت وکړئ ددوى خپلو پلرونو ته د الله په نزد دا سمه خبره ده.

ددېنه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيا را ووتلو او خلکو ته يې وويل زيد ابن حارثه بېرته هماغه زيد ابن حارثه شو ددېنه وروسته زيد ابن محمد نه دى .

او دى رضى الله تعالى عنه په غزوة مؤتة کې شهيد شو الله تعالى يې دې په جنتونو کې درجې لوړې کړي

لاس كې وو بيا يې ورته و فرمايل كه چېرته دا شهيد شو نو بيا به بيرغ حضرت جعفر (طيار) رضى الله تعالى عنه اخلي او كه هغه شهيد شي بيا به مو امير عبد الله بن رواحة رضى الله تعالى عنه وي او كه هغه شهيد شو نو بيا به هلته تاسې مشوره وكوئ او چې څوك مو مناسب و ګڼل هغه به جنډه پورته كړي او ستاسې امير به شي په قسمت سره دا درى واړه شهيدان شول بيا مسلمانانو مشوره وكوله چې اوس به امير خالد بن وليد وي او دا د هغه رضى الله تعالى عنه په عمر كې اوله واقعه وه چې دى پكې امير وو .

حضرت ابو بكر صديق (رض)

بل له هغه كسانو څخه چې د اسلام په اول كې په اسلام مشرف شوي وو حضرت ابو بكر صديق رضى الله تعالى عنه وو او رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د صديق لقب وركړى وو ځكه هرهغه څه چې بل چا به يې تكذيب كولو نو ده به يې تصديق كاوه او په هغه خبرو كې لويه خبره دا وه چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم په وېښه باندې لاړو لا مكان ته او د معراج واقعه پېښه شوه هغه داسې څه وو چې هېچا داسې په اسانه تصديق نشواى كولى او دهغې واقعې د تصديق لپاره د ټينګ ايمان ضرورت وو نو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم كله دا قصه قريشو ته كوله نو هغوى ورپورې خندل او

بکر صديق رضی الله تعالی عنه ته کوله ده ورته په هره خبره ويل صدقتَ يعني ای د الله رسوله صلی الله عليه وسلم تا رښتيا وويل له هغه وخت نه وروسته ده ته د صديق لقب ورکړل شو بيا حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه په خپلو ملګرو او دوستانو پسې سم شو او ټولو ته يې د اسلام دعوت ورکولو او څرنګه چې دی رضی الله تعالی عنه په قوم او خپلوانو کې د ښې پېژندګلوي مالک وو نو خلکو يې په اسانه سره خبره منله او دده سره د اسلام قبلولو ته راضي کېدل نو دده په لاس باندې ډېر خلک په اسلام مشرف شول او اکثر يې د لوړې مرتبې لرونکې صحابه کرام دي چې دهغوی نه شپږ هغه بختور کسان دي چې په دنيا کې ورباندې د جنت زيری شوی وو .

١. حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه
٢. حضرت زبير ابن العوام رضی الله تعالی عنه
٣. حضرت طلحة بن عبيد الله رضی الله تعالی عنه
٤. حضرت سعد ابن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه
٥. حضرت عبد الرحمن ابن عوف رضی الله تعالی عنه
٦. حضرت عثمان بن مضعون رضی الله تعالی عنه

دوی به ټول په پټه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ملاقات مشرف کېدل او چې کله به يې ايمان راوړو نو هغه ايمان به يې پټ ساتلو او ددې کوښښ به يې کولو چې د مکې مشرکان پرې خبر نشي تردې چې دا د اسلام نوي نيالګي تر دېرشو

دار الارقم بن ابي الارقم وو او ددې ځای موخه دا وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دلته له دوی سره کیني او دوی ته به دین ورزده کوي او ددوی په مخه کې چې څه مشکلات راځي دلته به پرې خبرې کیږي او پدې وخت کې چې د مسلمانانو تعداد تر ۴۰ کسانو پورې ورسېدو چې ۳۹ سړي او صرف یوه زنانه وه دا اکثر غریب خلک وو چې د مکې د خلکو په آند یې څه دنیاوي مرتبه نه درلوده .

او پدې پټ دعوت کې حکمتونه وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې کله د دعوت روانولو حکم وشو نو هغه بیا په خپل ځان باندې نه ډارېدو ځکه چې هغه یقین وو چې الله تعالی ده ته د دعوت کولو حکم کړی خامخا به دده حفاظت او ساتنه هم کوي بلکه پدې کې خپل حکمتونه وو دهغې له مخې دا دعوت پټ روان وو .

دعوت په دوهمه مرحله کې (په ښکاره سره دعوت)

کله چې دا آیت نازل شو چې و انذر عشیرتک الاقربین
نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې مېلمستیا په شکل کې خپل نږدې خپلوان را ټول کړل او

شروع کړې ورته يې وويل : په تاسې کې داسې څوک شته چې زما سره په دين کې ملګرتيا وکوي او زما سره د اسلام ښکلى دين قبول کړي هغوى به له ما سره په جنت کې وي ... او ورته يې زياته يې کړه اى د عبد المطلب اولاده په عربو کې بل چا داسې خير خپل قوم ته نه دى راوړى لکه تاسې ته چې ما راوړى دى بېشکه ما تاسې ته د دنيا او آخرت نيکي راوړې ده

په عام ډول دعوت کول

داسې وخت شو چې د مسلمانانو تعداد زيات شو زنانه ماشومان او نارينه هر ډول خلک پکې داخل شول او د خلکو په خولو باندې په مکه کې د اسلام نوم راغلو او هر چا به يې په اړه خبرې کولې که يې دوستان او که دښمنان وو ، په هر کور کې به دا موضوع در بحث لاندې راتله ، په هر مجلس کې به دخبرو لوى ټکى اسلام وو ، پټې او ښکاره د اسلام په اړه په مجلسونو ، کورونو او محلونو کې خبرې روانې وې .

پدې وخت کې آيت نازل شو :

سورة حجر ۹٤

فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٤﴾

ترجمه : پس ښه ښکاره کړه هغه څه چې تاته يې

ددې آيت نه وروسته د په ښکاره سره د دعوت کولو وخت شروع شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم د صفا د غونډۍ سر ته وختلو او اواز يې وکولو اى د فهر اولاده ، اى د عدي اولاده .... ټولو خلکو کوښښ وکولو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم خوا ته راشي او چې کله دوى د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا اوازونه چې دوى ته يې کول واوريدل نو چې څوک نشواى را وتلى نو يې څوک ور ولېږل چې ته ورشه دا اوازونه د څه په اړه دي او دا څوک دي چې چېغې وهي؟ چې کله دوى را ټول شول رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: که زه تاسې ته ووايم چې دلته په وادي کې د آسونو قافله ده او هغه په تاسې باندې حمله کوي تاسې زما دا خبره منئ ؟ دوى ورته وويل چې هو مونږ ستا خبره منو تا اوسه پورې په کومه خبره کې دروواغ نه دي ويلي رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې بيا زه تاسې ته د دردناک عذاب نه وېره درکوم ... ابو لهب ورته وويل تباه شې ددې لپاره تا مونږ را غوښتي وو.. بيا قرآني آيتونه نازل شول :
سورة لهب اية ١-٥

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ٢
سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤ فِي جِيدِهَا
حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ٥

ترجمه : هلاک د وي دواړه لاسونه د ابي لهب (یعني دی په خپله) دفع به نه کړي دده نه هيڅ شی دده مال او هغه څه چې ده کړي دي و به رسیږي هغه اور ته چې د لمبو خاوند وي او ښځه دده پورته کونکې د خسو (خاشاکو) دهغې په غاړه کې يوه رسی ده چې د خورما د ونې له پتوکي نه جوړه شويده .

د رسول الله (ص) دعوت ته د کفارو عکس العمل

د رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې ښکاره دعوت په مقابل کې هغوی وويل چې مونږ ستا د خبرو لپاره هغه دين نشو پريښودلی چې کوم مونږ ته له خپلو نيکونو څخه په ميراث راپاتې شوی دی رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل دعوت کې پدې خبره کوښښ کاوه چې د دوی په دماغو کې دا خبره ور واچوي چې دا بتان چې دوی يې عبادت کوي دا هيڅ

قدرت سره پيدا كړي دي او كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هم ددوى سره خبرې كولې نو ددوى به صرف همدا يو دليل وو چې زمونږ نيكونو ددې عبادت كړى دى .

په مكه كې د اسلام او كفر مقابله

اوس په مكه كې داسې وخت وو چې د اسلام او كفر مقابله شروع شوې وه او كفارو تر خپله وسه په هر ډول د اسلام مقابله كوله خو دا وخت مقابله د خبرو ، تبليغاتو او دعوت وه هغه كسان چې مكې ته به راتلل نو د مكې كفارو به كوښښ كولو چې دهغوى په زړه كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه كركه او نفرت ور واچوي حتى چې داسې وخت راغلو چې په لارو كې به ناست وو او چې څوك به مكې ته راتلل ورته ويل به يې چې ګورئ په مكه كې يو ساحر پيدا شوى دى هسې نه چې دهغه خبرې په تاسې باندې تاثير وكوي او له لارې مو و باسي حضرت ابو ذر غفاري رضى الله تعالى عنه وايي چې زه كله مكې مكرمې ته راتلم نو دوى مې په غوږونو كې مالوچ (پخته) ددې لپاره كېښوده چې چېرته بلا ارادې دهغه خبرې وا نه ورم لكن چې ما كله وليدو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له څو كسانو سره په مكه كې ناست وو ما وويل چې زه خو څه وړوكى نه يم او نه داسې څوك يم چې څوك به مې په تشو خبرو بې لارې كړي او له

نو دده مبارک صلی الله عليه وسلم مبارکې خبرې مې زړه ته ننوتلې او الله تعالی د اسلام شرف راکړو .

د رسول الله (ص) په اړه د کفارو مشورې

څرنګه چې د قريشو خواهش او پروګرام وو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت بايد په مکه کې غيب شي او نور بايد ښکاره نشي ددې په خلاف د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت مخ په خپرېدو شولو او دمکې نه بهر خلک به ډلې ډلې راتلل او در سول الله صلی الله عليه وسلم خبرې به يې آورېدلې او اکثر به پکې مسلمان کېدل ددې امله د مکې کفارو ته وېره پيدا شوه چې د مسلمانانو داسې ترقي زمونږ د بتانو او د بتانو د پيروانو لپاره خطرناک کېدلی شي پدې اړه دوی جرګه جوړه کړه او دا داسې وخت وو چې هغه وخت را نېږدې وو چې د لرې ځای نه به خلک اوس حج ته راځي دوی مشوره ددې لپاره کوله چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه خلکو ته داسې خبره وکوي چې د خلکو پرې يقين راشي يو کس وويل چې مونږ بايد خلکو ته ووايو چې دا نجومي دی وليد پاڅېدو او دهغه خبره يې رد کړه او ويې ويل چې په قسم سره وايم چې هغه نجومي نه دی مونږ د نجوميانو خبرې آورېدلې دي هغه داسې نه وي ، بيا يوه رايه وړاندې شوه چې مونږ به وايو چې

داسې نه وي بيا رايه وړاندې شوه چې مونږ به ټول په شريکه سره ووايو چې دا شاعر دی او منظوم کلام جوړوي او ددې دعوه کوي چې دا پر ما باندې وحی راغلې ده بيا دا رايه رد کړل شوه او په مجلس کې ووېل شول چې دا ټول خلک په شعر باندې او دهغه په باريکيو باندې ښه خبر دي هېڅوک نشي ويلی چې هغه څه دی وايي هغه شعر دی نو داسې کسان به نور هم په راغليو خلکو کې پيدا شي چې هغوی پدې پوه شي چې دا شعر نه دی چا وويل چې وبه وايو چې دا ساحر دی خو دا خبره رد کړل شوه چې مونږ ساحران ليدلي دي هغوی په کوم شي باندې ور چف کوي او يا کوم شی غورځوي او په سترګو ښکاره کيږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې نه کوي بالآخره وليد بن مغيرة مخزومي خپله رايه وړاندې کړه او ويل يې چې ښه خبره داده چې مونږ ووايو دا ساحر دی او له ځان سره يې داسې يو سحر راوړی دی چې دهغه سحر په واسطه د ورونو، پلار او زوی، ښځې او خاوند او نورو خپلوانو په مينځ کې جدايي راولي په مجلس کې شريکو خلکو دا رايه خوښه کړه خو دا رايه به عملي کوي څنګه ؟ ..ددې لپاره يې څه ډلې جوړې کړې او په هغه ځايونو کې يې کسان و درول چې له هغه ځايونو څخه مکې ته خلک راتلل هغوی به راتلونکو خلکو ته دا خبره کوي او هغوی به پوه کوي چې دده له مخامخ

خپرې شوې او خلک خبر شول چې د مکې قريش هم په زړه کې پدې پوه دي چې دا شاعر، ساحر او نجومي نه دی پدې سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم قدر نور هم زيات شو .

رسول الله (ص) او کورنی ته يې د جنګ اخطار

کله چې دا پروګرام هم له ناکامۍ سره مخامخ شو او نتيجه يې د مسلمانانو په فايده را ووتله نو دې خبرې مشرکين نور هم غصه کړل نو يې وويل چې دا يې هم حل نه دی او په تبليغاتو باندې هم مونږ نشو کامياب کېدلی او پدې پوه شول چې په تبليغاتي جنګ کې رسول الله صلی الله عليه وسلم له مونږ نه ګټلې ده نو يې خپله نا کامي يو ځل بيا په سترګو کې را وګرځېده نو يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د زور په لاره نېولو باندې فکر وکاوه او اخطار يې ورکړو : که چېرته رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ د بتانو د بدو ويلو څخه را ونه ګرځي نو دوی به ورسره جنګ وکوي او ابو طالب چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سکنی نيکه وو اود عبد المطلب نه وروسته يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پالنه کوله هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم حمايت کولو او د قبائلو په وړاندې دهغه سره لکه د سپر په ډول ولاړ وو نو قريشو ورته يوه ډله

وکولې او ددې وفد په مشرۍ باندې چې کوم کس ابو طالب ته ورغلی وو هغه ورته وویل :
ای ابو طالبه! تاسې ته ستاسې د زیات عمر ، شرافت او لوړې منزلې له امله زمونږ په مینځ کې یو خاص قدر حاصل دی مونږ تاسې ته مخکې ویلي وو چې خپل وراره منع کړئ چې زمونږ د بتانو اهانت دې نه کوي زما دې قسم وي چې نور مونږ پدې باندې صبر نشو کولی چې زمونږ د نیکونو په اړه څوک خبرې وکوي او زمونږ هوښیارانو ته څوک بې عقلان ووایي تاسې دا منع کړئ او کنه نو بیا به مونږ له ده سره او له ستاسې سره جنګ وکوو چې یا مونږ ختم شو او یا تاسې .

دې اخطار په ابو طالب باندې ډیر بد اثر وکولو او چې د لوی عمر خاوند وو نو نور یې هم په زړه کمزوری کړو په اول کې خو یې کله زړه ورته ویل چې ددوی سره دا خبره ومني او رسول الله صلی الله علیه وسلم مجبور کړي چې هغه دا خپله لاره پریږدي لکن وروسته یې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته څوک ور ولیږل او را ویې غوښتو د قریشو د وفد په اړه یې ورته وویل او دهغوی د جنګ د اخطار په اړه یې هم ورته وویل او بیا یې ورته وویل چې ګوره دا سخت کار دی د ټول قوم سره دښمني کول دي په خپل ځان هم رحم

باندې داسې بوج مه اچوه چې زه یې پورته کولی نه شم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د تره په تولو اشارو او د قوم په خبرو باندې پوه شو ورته یې وویل :

ای تره زما د قسم په الله وي که دا خلک لمر زما په ښي لاس کې کېږدي او سپوږمۍ زما په چپ لاس کې ددې لپاره چې زه دا خپل کار پرېږدم نو بیا به یې هم زه پرې نه ږدم .

او ددې خبرې د کولو سره له مجلس نه پا څېدو .

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله دا خبرې خپل تره ته وکولې دهغه په زړه ئې زیات اثر وکولو او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې پدې وخت کې تر ده بهر ته وتلی وو ده پسې اواز وکولو او بېرته یې را وغوښتلو چې کله هغه راغلو ورته یې وویل : وراره ځه چې څه د خوښه وي هغه کوه زه تا د هېڅ شي په بدل کې نه ورکوم .

د رسول الله (ص) کورنۍ جنګ ته تیارېدل

او څرنګه چې ابوطالب مشر سړی وو پداسې خبرو باندې پوهېدو نو د خپلې کورنۍ یعنې د بني هاشم او بني عبد المطلب مشران یې را وغوښتل او خبرې یې ورسره وکولې او د نورو مشرکینو سره د ممکن جنګ په اړه یې دهغه سره خپله رایه شریکه کړه او دهغوی رایه یې واوریده د ددوی

نه دفاع کولو ته او که هرڅوک په ده باندې تېرى کوي دهغه سره جنګ کولو ته تيار شول او ابو لهب يې ښکاره دښمني په غاړه واخيسته او لاړو د نورو مشرکينو د مشرانو سره يې خپل ملاتړ اعلان کړو .

د رسو ل الله صلى الله عليه وسلم د کورنۍ د غړيو ددې پرېکړې نه نور قريش خبر شول او چې کله هغوى پدې خبر شول چې يو داسې کار واقع شو چې اميد يې نه کېدو هغه دا چې د بني هاشم او بني عبد المطلب غړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دفاع کولو ته تيار دي پدې سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه خبرې لا زياتې شوې او د هر چا په مجلس کې همدا يو ذکر روان وو او د مکې د کفارو په زړونو باندې نوره هم زلزله راغله او څرنګه چې هغوى ټول مشران خلک وو او دا که پاتې قريش د بني هاشم او بني عبد المطلب سره و جنګيږي نو قريش به په خپل مينځ کې و جنګيږي او پدې سره خو به دا قبيله د نورو عربو په مقابل کې ډېره کمزورې شي او نور هم بد اثرات لري نو ددې نکتو د په فام کې لرلو سره قريشو د جنګ اخطار بېرته واخيست او دې کورني جنګ ته ئې د تيارېدلو نه ډډه وکړه .

رسول الله (ص) ته مال او مشري ور وړاندې کول

عليه وسلم ته ور ولېږلو هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چې وراره ستا پدې نوي تعليم سره زمونږ قريش ډېر سره بې اتفاقه ښکاره کيږي او دا ته چې د کوم شي درس ورکوې دا ډېر لوى شى دي زه تاته ددې په اړه څه خبرې کوم تاسې يې واورئ کېداى شي مونږ کومې فيصلې ته سره ورسېږو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چى د وليد پلاره وايه زه آورم .

ده ورته وويل چې ګوره که ته پدې خپل کار سره پيسې جمع کول غواړې ځان مالدار کول غواړې نو مونږ به په ټول قوم کې د تا لپاره دومره پيسې را ټولې کړو چې ته وربانديې تر ټولو نه زيات مالدار شې او که ته پدې سره ځان مشر کول غواړې نو مونږ به ټول په شريکه سره را ټول شو او تا به خپل سردار مقرر کړو او که چېرته پدې سره ته بادشاهي غواړي تا به خپل مشر ومنو او که چېرته ته بېمار وې او کومه داسې نا روغي وي چې ته ترې ځان نشې خلاصولى نو مونږ به په تا باندې مصرف وکوو او تاته به پيسې جمع کړو او ټول قوم به دې په شريکه سره علاج وکوو .

کله چې ده د خپلو خبرو په آخر کې وقفه وکوله نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل د وليد پلاره ستا خبرې ختمې شوې ؟ ده ورته وويل : هو! بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې اوس زما واوره .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته لاندې آيتونه تلاوت کړل .

سورة فصلت آية ١-٣

حمٓ ۝١ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٢ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ ۝٣

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيتونه تر هغه وخته پورې روان تلاوت کړل چې سجدې ته ورسېدو او د سجدې په ځای کې رسول الله صلى الله عليه وسلم تلاوت بس کړو او سجده يې وکوله او عتبه چې په عربي کلام کې يې ښه مهارت درلود د آيتونو عربيت ته حيران پاتې وو او رسول الله صلى الله عليه وسلم دده د خبرو په ځواب کې همدا آيتونه تلاوت کړل او همدا يې ورته ځواب وګرځولو .

عتبة بن ربيعة چې بېرته لاړو آيتونو وربانديې زيات تاثير کړی وو چې کله د کفارو مشرانو ترې پوښتنه وکوله چې څه دې وکول؟ ده ورته وويل چې ما داسې څه واورېدل چې په ژوند کې مې د اول ځل لپاره واورېدل زما د قسم وي چې نه خو علم نجوم او نه سحر وو صفا پاک او ستره کلام وو زما نظريه داده چې د محمد صلى الله عليه وسلم

ده باندې غالب شول نو بيا خبره خلاصه ده مونږ ضرورت نلرو چې دده سره لانجې وکوو او که چېرته په نورو ټولو عربو باندې دی غالب شو نو بيا به مونږ نېک بخت وو چې زمونږ د يوې کورنۍ سړی دومره لويې کارنامې کوي او بيا به يې په هغه وخت کې مونږ ملاتړ وکوو .

د رسول الله (ص) په کورنۍ باندې اقتصادي بنديز

مشرانو چې دا خبرې دده له خولې نه واورېدې نو يې ورته وويل چې په تا باندې هم د محمد سحر تاثير کړی دی عتبة چې په خپله رايه يې پوره باور وو چې دا ښه رايه ده وويل : دا زما رايه وه او تاسې چې څه کوئ هغه وکوئ .
اوس داسې وخت شو چې د اسلام ترقي تر اوسه پورې د ټولو کوښښونو سره بيا هم نه متاثره شوه او نه و درېده او پدې کاميابه سلسله کې حضرت عمر او حضرت حمزة رضی الله تعالی عنهما هم مسلمانان شوي وو چې پدې سره اسلام لا نور هم معزز شوی وو الله تعالی دې په جنتونو کې ددوی مرتبې لوړې کړي نو د مکې مشران بيا را ټول شول دا ځل يې په بني هاشم او بني عبد المطلب باندې يو ډول بنديز ولګولو او په خپلو مينځونو کې يې يو خط وليکلو چې په هغه کې دوی ليکلي وو چې ددېنه وروسته به په بني هاشم او

څوک لور ورکوي او نه به څوک په دوی کې زوی ته واده کوي او ټول پاتې قريش به ددوی سره مقاطعه کوي او کفارو فکر کاوه چې دا مقاطعه به کېدای شي ډېر اثر وکوي لکن د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې خپلې دواړه کورنۍ بني هاشم او بني عبد المطلب په پوره غيرت سره و درېدلې او کفارو دا پرېکړه دومره په سختۍ سره عملي کړه چې ابو جهل به پخپله کله را وتلو او هغه لارې به يې څارلې چې د دوی علاقې او کورونو ته ورغلې وې .

او قريشو پدې بنديز سره غوښتل چې بني هاشم او بني عبد المطلب دواړه کورنۍ دېته اړ کړي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرتيا نه لاس واخلي او بيا به هغه يو مجرد سړی پاتې شي بيا ورسره هرڅه کېدلی شي او د ابنديز تر دريو کلونو پورې وغزېدو لکن بيا هم نتيجه هېڅ وه سره ددې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په ملګرتيا کې دې دواړو کورنيو پوره تکليفونه و زغمل ، سخته لوږه يې تېره کړه ، او هېچا به ورسره خبرې نه کولې دا تکليف يې تېر کړو لکن بيا يې هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګري پرې نه ښوده او اسلامي ترقي هم خپله لاره پخپله پيدا کوله او ترقي کله هم بنده نه شوه نه يوازې د مکې خلک بلکه له لرې لرې عربو نه به خلک راتلل او په مقدس دين اسلام کې به داخلېدل

د بندیز پورته کېدل

له بله پلوه د بندیز ورځې په بني هاشم او بني عبد المطلب ډېرې سختې شوې او که بیا هم څه شیان پټ نه تېرېدلای نو ډېر خلک به له لوږې نه مړه شوي وو پدې وخت کې څه کسان داسې را پیدا شول چې دوی وویل چې دا بندیز ښه کار نه دی او دا بندیز ددې دوو کورنیو سره ظلم دی دا باید ختم کړل شي او پدې کسانو کې چې دا تحریک یې شروع کړل پنځه مشران کسان وو .

١. هشام بن عمرو بن ربیعة عامري
٢. زهیر بن ابي امیة بن مغیرة مخزومي
٣. مطعم بن عدي بن نوفل بن عبد مناف
٤. بختري بن هشام
٥. زمعه بن اسود بن مطلب اسد

دا پنځه کسان مشران وو په دوی کې دا روحیه را پیدا شوه چې دا بندیز باید نور پای ته ورسیږي او دوی مشوره وکوله چې هرڅنګه وي هغه خط چې ددې بندیز د لګېدلو په وخت کې ولیکل شو او اوس په حرم کې ځړول شوی دی هغه باید لاس ته راوړل شي او وشکول شي چې دا تړون له مینځه لاړ شي نو دوی پټ پروګرام جوړ کړو او سبا لاړل په مجلس کې چې کېدونکی وو شریکان شول د دوی د پروګرام له مخې زهیر ابن امیة پا څېدو او خلکو ته یې خبرې کولې ویل یې :

باندې کوم شی خرڅول کيږي او نه ورڅخه اخستل کيږي زما د قسم وي چې تر څو دا شوی قرداد ونه شکول شي زه به په زمکه باندې نه کينم .
ابو جهل په غصه کې ورته را پاڅېدو ورته ويل يې چې نه دا قرارد به همداسې پاتې وي او دا نشي ختمېدلی د جوړ شوي پروګرام له مخې زمعة بن اسود د ابو جهل خبره ونيوه ويل يې زما دې قسم وي چې ته ډير درواغجن يې دا خط چې په کوم وخت کې ليکل کېدو په هغه وخت کې هم مونږ ورسره موافق نه وو بيا ابو البختري را پورته شو د زمعة د خبرې ټينګار او ملا تړ يې وکولو ويل يې : زمعة رښتيا وايي هغه څه چې پدې خط کې ليکل شوي دي مونږ وربانديې خوښ نه يو او نه يې مونږ منو بيا مطعم بن عدي را پورته شو او ددې قرار داد د ختمولو تائيد يې وکولو او ويې ويل تاسو رښتيا واياست او د ستاسې د خبرې نه بله خبر چې څوک کوي (دا قرارد بايد همداسې پاتې شي) هغه درواغ دي مونږ د الله په حضور کې د هغه نه او دهغه ددې خبرې نه بيزار يو او مونږ يې نه منو .. ددې سر په سر تائيد نه ابو جهل ته خبره شکاره شوه چې دا خو ټول قومي مشران دي اوس دوی غواړي چې دا قرار داد ختم کړي او که اوس ددوی سره ضد وکول شي نو نتيجه به يې خرابه شي نو پرې غلی شو په همدې حالت کې مطعم بن عدي ورغلو او په حرم کې ځړيدلی دا

بني عبد المطلب باندې لګول شوی بندیز پای ته ورسېدو.

د رسول الله (ص) سره د انصارو ملاقات

لکه څرنګه چې مکې مکرمې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملاقات ته د مختلفو ځایونو څخه خلک راتلل پدې سلسله کې د مدینې منورې خلک هم راتلل په اول ځل یو څو کسان د منی سره نیږدې ځای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څو کسان چې مخامخ شول رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکوله تاسې څوک یاست دوی ورته وویل چې مونږ په مدینه کې د خزرج د قبیلې خلک یو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اسلام تعریف کړو او ورته یې وړاندې کړو او څه آیتونه یې ورته تلاوت کړل دوی د مدینې منورې هوښیار خلک وو او په خبره پوهېدل اسلامي خبرو ددوی په زړونو کې ځای ونیو او په اسلام مشرف شول او د علم تاریخ د ځینو علماوو له نظره دا هغه کسان وو چې د اول ځل لپاره یې د اسلام دعوت مدینې ته یوړو او دا کسان په لاندې ډول وو.

١. اسعد بن زاره (بني نجار)
٢. عوف بن حارث (بني نجار)
٣. رافع بن مالک بن العجلان (بني زریق)
٤. قطبه بن عامر بن جدیده (بني سلمه)
٥. عقبه بن عامر بن نابي (بني حمام بن کعب)

د عقبة لمړى بيعت

ددې شپږو کسانو سره د ملاقات نه يو کال وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم د حج په وخت کې د عقبه ځاى سره د دولسو کسانو سره وکتل او ددې شپږو کسانو څنې څلور کسان په هغوى ١٢ کسانو کې هم وو او دې کسانو د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت وکولو چې دوى به د اسلام هر حکم مني او د واجباتو تابعداري به کوي او کوم چې حرام وي هغه به پرېږدي او دې بيعت ته د عقبې لمړى بيعت وايي .

او پدې کې چې کوم صحابه شريک شوي وو نومونه يې په لاندې ډول دي :

1- أسعد بن زرارة .

2-3- عوف ومعاذ ابنا عفراء .

4- رافع بن مالك.

5- ذكوان بن عبد قيس.

6- عبادة بن الصامت.

7- يزيد بن ثعلبة .

8- العباس بن عبادة .

9- عقبة بن عامر.

10- عامر بن حديدة .

11- أبو الهيثم مالك بن التيهان.

12- عويم بن ساعدة .

له يوه پلوه که د مکې کفارو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په تکليف کې زياتوالی را وستلو او د هغه د ملګرو لپاره يې مشکلات زياتول له بله پلوه رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدينې منورې له خلکو سره خپل تعلقات زياتول او د هغوی سره يې د رابطو ساحې ته فراخي ورکوله نو چې کله دا د حج دوره ختمه شوه رسول الله صلی الله عليه وسلم يو سفير د مدينې د خلکو سره وليږلو چې هلته په مدينه منوره کې خلکو ته اسلام ور وښيي او هلته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نائب او سفير په توګه پاتې شي دا صحابي حضرت مصعب ابن عمير رضی الله تعالی عنه وو چې د هغه کسانو له جملې څخه وو چې د اسلام په اوائلو کې په اسلام مشرف شوی وو او په مدينه منوره کې يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نيابت په ډول ښه وظيفه اجراء کړه او مهم خلک او مشران دده په لاس په اسلام باندې مشرف شول چې په دوی کې د بني اشهل قبيلې مشر حضرت سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنه هم شامل وو او تر ۹ مياشتو پورې هلته پاتې شو چې کله يې هلته د اسلام ترقي وليده او خلک يې وليدل چې د مکې په نسبت په مدينه کې ډېر زر زر په اسلام کې داخليږي زړه يې وغوښتل چې دا دخوشحالۍ خبرې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته پخپله وکوي او هغه ته زيری ورکړي او دهغه په مخ کې خوشحالي په خپلو

لپاره راستون شو او رسول الله ته يې هغه ټولې د خوشحالۍ خبرې واورولې .

د عقبة دوهم بيعت

د بيعت اولى نه يو كال وروسته د حج په دوران كې د مدينې منورې نه ۷۳ كسان چې په اسلام مشرف شوي وو او دوه ورسره ښځينه وې چې يوه حضرت نسيبه بنت كعب او بله حضرت ام عماره د بني مازن بني نجار قبيلې نه رضى الله تعالى عنهما وې د حاجيانو د ډلې سره راغلل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ملاقات باندې تبرك حاصل كړي كله چې دوی مكې ته را ورسېدل د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې پټې را بطې شروع شوې بالآخره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د ملاقات وخت او ځای تعين كړل شول چې د اخترپه دوهمه پسې په راتلونكې شپه كې به د عقبې سره په خوا كې خوړ كې چې هلته اوس جمرة عقبه اولى ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ددوی ملاقات كيږي او دا ملا قات په پوره پټه طريقه سره وشو پدې ملاقات كې مشهور صحابه شريكان وو دوی د شپې په مقرر شوي ځای كې انتظار كاوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل تره عباس بن عبد المطلب سره هلته راغلو (سره ددې چې پدې وخت كې لا په اسلام مشرف شوی نه وو لېكن د رسول الله صلى الله عليه وسلم ساتنه يې ددې

مدیني منورې د خلکو څه مشران او مخور خلک وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل چې ددوی سره یو تړون وکوي چې که رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې مدینې ته ورشي دوی به دده صلی الله علیه وسلم حفاظت کوي او د مدینې منورې خلکو هم په پوره مېړانه سره وویل چې مونږ به د خپلو ماشومانو او ښځو په څېر دده حفاظت کوو او که کوم دښمن دده سره مقابلې ته راوتل غواړي مونږ به دده مرسته کوو له چا سره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صلح کوي مونږ به ورسره صلح کوو او له چا سره چې دی صلی الله علیه وسلم جنګ کوي مونږ به ورسره جنګ کوو دا بیعت په کامیابۍ سره پای ته ورسېدو او پدې انصارو کې داسې زړور خلک هم وو چې ویل یې ای رسول الله صلی الله علیه وسلم که ته اجازه کوې نو مونږ ددې مشرکینو سره جنګېدلی هم شو لکن رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه د جذباتو احترام وکولو او بیا یې ورته وویل چې نه ! مونږ ته لا د جنګېدلو امر نه دی شوی .

په دوهم بیعت کې شریک صحابه (رض)

پدې معاهده او بیعت کې لاندې صحابه رضی الله تعالی عنهم شریکان وو .

د اوس د قبیلې نه

- د بني اشهل د کورنۍ نه

۳. سلمه بن سلامه بن وقش بن زغبه

- د بني حارثه له کورنۍ نه

۱.زهير بن رافع بن عدي
۲. ابو برده بن نيار
نهير بن الهثم

- د بني عمرو بن عوف بن مالک له قبيلې نه :

۱. سعد بن خيثمه
۲. رفاعه بن عبد المنذر
۳. عبد الله بن جبير
٤. معن بن عدي بن الجدديه
٥. عويم بن ساعده

د خزرج له قبيلې نه

- د بني نجار نه :

۱. ابو ايوب انصاري
۲. معاذ بن حارث بن رفاعه (ابن عفراء)
۳. عوف بن حارث بن رفاعه
٤. معوذ بن حارث بن رفاعه
٥. عماره بن حزم بن زيد
٦. اسعد بن زراره
۷. سهل بن عتيک
۸. اوس بن ثابت بن منذر
۹. ابو طلحه ، زيد بن اسهل
۱۰. قيس بن ابي صعصعه

۲. خارجه بن زيد
۳. عبد الله بن رواحه
٤. بشير بن سعد بن ثعلبه
٥. عبد الله بن زيد بن ثعلبه
٦. خلاد بن سويد بن ثعلبه
۷. عقبه بن عمرو بن ثعلبه

- د بني بياضه بن عامر نه :

۱. زياد بن لبيد بن ثعلبه
۲. فرده بن عمرو
۳. خالد بن قيس بن مالک

- د بني زريق بن عامر نه :

۱. رافع بن مالک بن عجلان
۲. ذکوان بن قيس بن خلده
۳. عباد بن قيس بن عامر
٤. حارث بن قيس بن خالد

- د بني سلمه بن سعد نه :

1. البراء بن معرور
2. سنان بن صيفي بن صخر
3. مسعود بن يزيد بن سبيع
4. جبار بن صخر بن امية
5. طفيل بن نعمان بن خنساء
6. معقل بن المنذر بن سرح
7. يزيد بن المنذر بن سرح
8. ضحاک بن حارثه بن زيد

- د سواد بن غنم بن کعب نه :

1. کعب بن مالک بن ابي کعب

- د بني غنم بني سواد نه :

1. سلیم بن عمرو بن حدیدة
2. قطبن بن عمر بن حدیدة
3. یزید بن عامر بن حدیدة
4. ابو الیسر (کعب بن عمرو)
5. صیفي بن سواد بن عباد

- د بني نابي بن عمرو بني سواد نه :

1. ثعلبة بن غنمة بن عدي
2. عمرو بن غنمة بن عدي
3. عبس بن عمار بن عدي
4. عبد الله بن انیس
5. خالد بن عمرو بن عدي

- د بني حرام بن کعب بن غنم نه

1. عبد الله بن عمرو بن حرام
2. جاب بن عبد الله
3. معاذ بن عمرو بن الجموح
4. ثابت بن الجذع
5. عمیر بن الحارث بن ثعلبه
6. خدیج بن سلامة بن اوس بن عمرو
7. معاذ بن جبل بن عمرو بن اوس

- د بني عوف بن خزرج نه

3. يزيد بن ثعلبه بن خزمه
4. عمرو بن الحارث بن لبده بن عمرو

- د بني سالم بن غنم بن عوف نه :

1. رفاعه بن عمرو بن زيد
2. عقبه بن وهب بن كلدة

- د بني ساعده بن كعب بن خزرج نه :

1. سعد بن عباده
2. المنذر بن عمرو بن خنيس

په بيعت كې شريكې دوارِه ښځې د خزرج له قبيلې نه وې .

١. مسيبه بنت كعب بن عمرو (ام عماره)
٢. اسماء بنت عمرو بن عدي (امن منيع)

رضى الله تعالى عنهم اجمعين

د رسول الله په اړه د كفارو آخري فيصله

د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د مدينې منورې د مسلمانانو په مينځ كې د بيعت ددې جلسې نه وروسته قريش ځكه خبر شول چې دوى په رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې خپل جاسو سان مقرر كړي وو چې هروخت دهغه څارنه وكوي او هغوى دا خبره معلومه كړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دهغه كسانو سره ليدل كړي چې د مدينې نه د حج په بهانه راغلي وو او دا خبره يې هم را ښكاره كړه چې دوى ورسره تعهد كړى دى چې كه رسول الله

کفارو په زړونو کې وېره زياته کړه او خپله کيښتۍ ورته د ډوبېدو ګودر ته د نېږدې کېدو په حالت کې ښکاره کېده او هر ممکن کوښښونه يې وکول چې د اسلام دعوت سلسله په همدې ځاى بانديې ودروي لکن الله تعالى چې ددې نور پوره کول يې غوښتل ددوى هر کوښښ د ناکامۍ سره مخامخ کولو بالاخره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه د فيصله کونکي مجلس ترتيب ونيولو او ويل يې چې پدې مجلس کې به داسې فيصله کيږي چې دهغې نه وروسته بيا مشکل را نشي او يوه شورى يې جوړه کړه چې لاندې مشران پکې شريکان وو .

- د بني مخزوم قبيلې نه :

ابو جهل

- د بني نوفل بن عبد مناف نه :

جبير بن مطعم ، حارث بن عامر بن نوفل ، طعيمه بن عدي

- د بني عبد الشمس بن عبد مناف نه :

عتبة بن ربيعة ، شيبة بن ربيعة، ابو سفيان

- د بني عبد الدرا نه :

النضر بن حارث بن کلده

- د بني اسد بن عبد العزى نه :

ابو البختري بن هشام ، زمعه بن اسود ابن عبد المطلب ، حکيم ابن حزام .

- د بني سهم نه :

امية بن خلف

کله چې دا کسان را ټول شول د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه يې د ځان خلاصولو په اړه مختلفې رايې وړاندې کړې لکن هره رايه به بېرته د څه دلائلو له مخې باطله شوه لکه ابو الاسود بن ربيعة چې رايه وړاندې کړه چې محمد به له خپل ملک نه جلا وطن کړو او لرې به يې چېرته وشړو مونږ به ترې بې غمه شو په مجلس کې شريکو خلکو دا رايه خوښه نه کړه او يو کس پکې وويل چې تاسې ته معلومه ده چې محمد ډېره ښه خوږه ژبه لري هغه کولی شي چې هرې قبيلې ته لاړشي هلته د خپلې ژبې په واسطه ښه دوستان پيدا کړي او بېرته راشي ستاسې سره جنګ وکوي او واک او اختيار به ستاسې له لاسونو څخه واخلي بيا دهغه خوښه چې څه يې کول لتاسې سره به يې کوي بله رايه ابو البختري بن هشام وړاندې کړه هغه داوه چې محمد به ونيسو او په داسې ځای کې به يې بندي کړو چې هلته صرف ژوندی وي او هغه به تر خپل نظر لاندې ساتو تردې چې مړ شي او هېڅوک به نه پرېږدو چې دده سره وګوري نو مونږ به يې له شر نه په امن شو دا رايه هم باطله ځکه شوه چې وويل شول چې کېدای شي دده قوم به را پورته شي او لتاسې سره به جنګ وکوي او هغه به درنه خلاص کړي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قتل پروګرام

بله رایه ابو جهل وړاندې کړه هغه دا وه چې محمد به قتل کړو او دده په قتل کې به د قریشو د ټولو قبائلو خلک را ټول شي او په شریکه به یې قتل کړو نو دهغه وینه به په ټولو قریشو کې خپره شي دده کورنۍ به له چا نه بدل اخلي او له ټولو قریشو سره خو دوی جنګ نشي کولی بالآخره به هغه له مونږ نه دیت وغواړي او دیت خو اسان کار دی ټول قریش به په شریکه سره دیت ورته جمع کړو او دوی ته به یې ورکړو .

ددې رایې تردید چا ونه کولو او په همدې باندې اتفاق وشو او د عملي کولو وخت یې راغلو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور د شپې محاصره کړل شو او انتظار کېدو چې سبا کله رسول الله صلی الله علیه وسلم را ووزي نو د قریشو د ټولو قبیلو ګروپونه په انتظار کې ورته ولاړ دي په شریکه به یې قتل کړي.

مدینې منورې ته هجرت

د شپې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ټولو هغه حالاتو خبر ورکړو چې بهر دي او ده ته یې مدینې منورې ته دهجرت کولو حکم وکولو .

ليدلى او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت تلاوت كولو:

سورة يس آية ۹

وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾

ترجمه : او جوړ كړى دى مونږ ددوى مخې ته او شا ته يو ديوال مونږ په دوى باندې پرده راوستلې ده دوى څه نه ويني .

په مكه مكرمه كې د رسول الله (ص) لټون

رسول الله صلى الله عليه وسلم ترې لاړو او په خپل ځاى يې حضرت علي رضى الله تعالى عنه پرېښود دده په مباركه بستره باندې څملاست او دده په څادر كې پټ شو كفارو به چې وركتل نو ورته ښكاره كېده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تر اوسه پورې ويده دى رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت ابو بكر صديق رضى الله تعالى عنه له ځان سره روان كړو او مدينې منورې ته يې هجرت شروع كړو په شپه شپه كې د مكې مكرمې نه ووتل او تر غار ثور پورې ورسېدل او خپل سفر يې دلته ددې امله و درولو چې دوى پوهېدل چې اوس به د مكې كفار ددوى په طلب كې وزي نو دوى دلته په سوري كې

کړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو نيږدي متعلقينو کورونه يې وکتل او د حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه کور ته هم ورغلل هلته يې د اسماء بنت ابي بکر رضی الله تعالی عنها نه پوښتنه وکوله چې پلار دي چېرته دی؟ هغې رضی الله تعالی عنها ورته وويل چې ماته معلوم نه دی او بيا يې تر مسلسل دريو شپو پورې په هر طرف باندې ولټولو لکن د لټون هېڅ فايده په لاس رانغله سره ددې چې دوی داسې حد ته هم ورسېدل چې دهغه کانې په سر باندې و دريدل تر کوم لاندې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه ناست وو که يې ښکته کتلي وای نو دوی به يې ليدلي وو لکن ددوی حفاظت او ساتنه وکوله او هغوی ته يې دومره وس ورنه کړو چې تر کانې لاندې وګوري رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې غار کې درې شپې تيرې کړې پدې وخت کې د عبد الله بن ابي بکر رضی الله تعالی عنه وظيفه دا وه چې هغه به ټوله ورځ د قريشو د کفارو سره تېروله او څه به يې چې ليدل د شپې به ورتلو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به يې قصه کوله او دهغوی د پروګرامونو څخه به يې خبرولو او د ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه د غلام عامر بن فهيره وظيفه دا وه چې د شپې له مخې به دوی دواړو ته خوراک ور رسولو د دريو شپو تېرېدلو نه وروسته

صديق رضی الله تعالی عنه سره د مديني په سفر باندي روان شول.

د رسول الله (ص) په سر انعام مقرر کول

په مکه کې مشرکينو اعلان وکولو چې څوک هم رسول الله صلی الله عليه وسلم بندي راولي او يا يې سر راوړي هغه کس ته به دوی سل اوښان په انعام کې ورکوي نو هرچا غوښتل چې پيدا يې کړي يو وخت داسې وو چې په مکه کې څه کسان ناست دي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه خبرې کيږي يو کس راغلو ويل يې ما لږ وختي وليدل چې دری کسان ماته په فلاني ځای کې په مخ راغلل چې روان وو زما گمان دی چې همدا محمد او د هغه ملگري وو (دا دری کسان رښتيا هم يو رسول الله صلی الله عليه وسلم او بل ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه او بل ددوی لارښود وو) سراقه بن مالک چې په مجلس کې ناست وو خبرې کونکي کس ته يې په سترگو کې اشاره وکوله چې چپ شه .. بيا يې وويل چې دا دری کسان زه پيژنم د فلانی قبيلې کسان دي په خپل ورک شوي مال پسې په دښتو کې گرځي ده غوښتل چې دا انعام بايد زه حاصل کړم او نور څوک بايد پرې خبر نشي په مجلس کې ناست وو ترڅو چې دخلکو په مينځ کې خبرې نورې شوې نو په پټه سره ووتلو او کوم ځای چې هغه کس ښودلی وو د هغه ځای په لور يې

باندې حمله وکوي سراقه پخپله وايي چې زه پسې ور ورسېدم نو آس مې تيندک و خوړو خو زه بيا هم ور روان وم چې بيا يې تيندک و خوړو او په آخري ځل يې داسې تيندک وخوړو چې زه ترې را پرېوتلم او بيا مې چې آس ته وکتل دهغه حالت هم ډېر خراب وو نو پوه شوم چې زه دا کار نشم کولی او بيا مې په دوی پسې ور چيغه کړه ورته مې وويل چې ای زه سراقه بن جعشم يم ماته و ګورئ زه لتاسې سره خبره کول غواړم زه تاسې ته ضرر نه درکول غواړم رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه ته وويل له ده نه پوښتنه وکوه چې له مونږ سره يې څه کار دی ؟ هغه چې لمانه پوښتنه وکوله نو ما ورته وويل چې ماته څه ليکل راکړئ چې بيا کله سره مخامخ کيږو زما او ستاسې په مينځ کې به نښه وي او بيا دوی د هډوکي په ټوټه باندې ليکل وکول او ماته يې را وغورځولو ما هغه را سره را واخيستو او بېرته مکې ته راستون شوم او هغه څه چې ما ليدلي وو دهغې په اړه مې نه څه وويل او نه مې چا ته قصه وکوله .

مدينې منورې ته رسېدل

رسول الله صلى الله عليه وسلم د سراقه د واقعې نه وروسته د هېڅ قسم نوې واقعې او قصې سره مخ نشو او په امن سره مدينې منورې ته لاړو پداسې حال کې چې د مدينې خلک د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره په سخت انتظار کې وو او ځينې خو به سحر وختي د مانځه نه وروسته د مدينې نه بهر راوتل او د رسول الله صلى الله عليه وسلم لټون به يې کول چې کله به لمر ګرم شو بيا به کورونو ته لاړل پوره د ديارلسو ورځو سفر نه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسې حالت کې مدينې منورې ته ورسېدو چې د چا هم ورته فام نه وو صرف يو يهودي وو د هغه نظر پرې ولګېدو او :

پاس د کوټې نه يهودي ووې دا غر چې ښکاري
څوک
را روان دي لکه ستاسې پيغمبر چې ښکاري
د سعادت نښان د خلکو په
د تکبير چغې شوې نبي خير

ټولو مسلمانانو يې مخې ته ور منډه کړه او د
خوشحالۍ فضاء وه ټول خلک ډير زيات ورته

او په مدينه منوره کې اول د قباء کلي ته ورسېدل چېرته چې اوس مسجد قباء اباد دی او دلته د يو څه وخت پاتې کېدلو نه وروسته يې ددې جومات د ابادي تېږه کېښوده . او دلته تر څلورو ورځو پورې پاتې شو بيا د مدينې د ننه ساحې ته لاړو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ننه مدينې منورې ته روان وو د هرې قبيلې مشر به ورته په مخه کې ولاړ وو ترې غوښتل به يې چې له دوی سره پاتې شي لکن ده صلى الله عليه وسلم د خپلې اوښې مهار پرېښودلی وو او ويل يې چې دا پرېږدئ چې چېرته ځي دې ته امر شوی دی اوښه په خپله تله او خلکو ورته صرف لاره پرېښوده ترڅو چې اوښه هغه ځای ته ورسېده چرته چې اوس مسجد نبوي دي .

په مدينه منوره کې اولي کارونه

مدينې منورې ته د رسېدلو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره ډېرو کارونو انتظار کاوه چې اوس يې هغه بايد پوره کړي رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته يو سردار وو، يو استاذ هم وو، ملګری هم وو دې ټولو رابطو ترينه کار غوښتو او يو څه ډېر لوی کارونه وو او دهغې په کولو کې له بيړه (تادي) په کار وه او نور يې ناوخته کول نه کېدل چې يو څو ترينه په لاندې ډول وو .

١. د اوس او خزرج په مينځ کې پخوانۍ دښمني وه چې ډېر کسان پکې قتل شوي وو دا دښمني د رسول الله صلى الله عليه وسلم د راتلو سره ختمه شوه او

په چوکاټ کې يې لکه د ورونو داسې نوی ژوند شروع کړو .

٢. ډېر خلک داسې وو چې د مکې مکرمې نه په ډېر بد حالت کې راوتلي وو او ډېر داسې وو چې د تېښتې په شکل کې مدينې ته راغلي وو او نور هم راتلل ددوی لپاره څه انتظام کول په کار وو چې په مدينه کې دوی بايد څنګه او چېرته ژوند وکوي .

٣. په علاقه کې يهود وو چې هغوی هم په اسانه سره اسلام نه قبلولو او د مدينې منورې د خلکو نه هغوی په قدرت کې په اقتصاد کې لوړ وو دهغوی د شر نه د ځان د ساتلو انتظام کول هم ضروري کار وو .

٤. په مکه کې د پاتې خلکو سره روابط ټينګول وو او پدې سره بيرته د اسلام د رڼا د ور ننه ويستلو ضرورت وو .

٥. په مدينه منوره کې د مسلمانانو د کېناستلو او عبادت کولو او دين زده کولو لپاره د يو ځای ضرورت وو چې دوی پکې را غونډ شي او کيني .

په پورتنيو ټکو کې اول په مدينه منوره کې د امن را وستل وو هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارک قدم سره پيدا شو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کې د مسلمانانو د راټولېدلو او کېناستلو د ځای په

مطابق يې ښه شکلی او په سهولتونو باندې ښائسته او فراخ جوړ کړو بيا وروسته د مسلمانانو د زياتوالي سره تنګ شو پوره تاريخ يې ددې کتابونو د سلسلې په اول کتاب کې په تفصيل سره تر موجوده دور پورې تېر شوی دی .

د مهاجرينو او انصارو په مينځ کې ورور ګلوي

او د مکې نه د راغليو مسلمانانو د مشکلاتو د حل کولو لپاره رسول ﷲ صلی ﷲ عليه وسلم د مهاجرينو مسلمانانو او انصارو په مينځ کې ورور ګلوي جوړه کړه او پدې سره انصارو صحابه وو رضی ﷲ تعالی عنهم د مهاجرينو سره داسې رويه وکوله لکه د خپلو وروڼو سره او هغوی ته يې ځايونه ورکړل هغوی ته يې د ددوی سره د خپلو پيسو د شريکولو ست وکولو د هغوی سره يې د نوي ژوند په روانولو کې مرستې وکولې پدې سره د مسلمانانو د ننه يو ډول وحدت راغلو او دوی يې قوي کړل نو چې کله رسول ﷲ صلی ﷲ عليه وسلم د مسلمانانو جامعه جوړه کړه نو يې اوس د هغه يهوديانو سره چې په مدينه منوره کې هستېدل د ښو تعلقاتو جوړولو کوښښ شروع کړو او پدې باندې هم رسول ﷲ صلی ﷲ عليه وسلم ډېر په اسانه سره بريالی شو او د يهودو د مشرانو سره يې وکتل او دهغوی سره يې تعهد وکولو چې

خطر متوجه کيږي نو دوی به يې په شريکه سره دفاع کوي او د مسلمانانو او يهودو په مينځ کې ددې تعهد ليکل وشول او دواړو ډلو وربانديې خپل لاسليکونه وکول .

د اسلام د ترقي نه د يهودو ويره

چې يو څه وخت تېر شو يهودو وليدل چې اسلام په مدينه منوره کې څه ډول سرايت کوي او څومره په تيزۍ سره خپريږي نو دې خبرې خود غرض يهوديان وار خطا کړل او دوی ته يې دا انديښنه ور واچوله که چېرته دا اسلام په همدې ډول تيزي سره خپريږي نو معلومه خبره ده چې د مدينې منورې راتلونکی خو مسلمانانو ته ور پاتې دی نو ددې امله يې بېرته ارادې خرابې شوې او په خاصه توګه چې کله دوی وليدل چې يهوديان په اسلام کې داخليږي نو هغه کسان چې به په اسلام کې داخلېدل په هغوی پسې به يې بدې خبرې کولې او دهغه اهانت او توهين به يې کولو پدې اړه حضرت عبد الله بن سلام رضی الله تعالی عنه فرمايي چې زه هم مخکې يهودي وم چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلم ما ورته وويل ای د الله رسوله تاته معلومه ده چې يهوديان ډير بد ويونکي او د بدې ژبې لرونکي خلک دي که زه ايمان راوړم نو دوی به په ما پسې هم ډيرې بدې خبرې کوي تاسې ما چېرته پټ کړئ او

پېدې سره به دوی تاسې ته رښتيا زما حقيقت ښکاره کړي چې زه څنګه انسان يم او که چېرته دوی زما د اسلام نه خبر شي بيا خو دوی لما سره ضد کوي او خامخا به مې بد ګڼي رسول الله صلی الله عليه وسلم دی په يوه کوټه کې کينولو او د يهودو سره يې خبرې کولې چې ترې پوښتنه يې وکوله : عبد الله بن سلام په تاسې کې څوک دی؟ دوی ورته وويل چې هغه خو په مونږ کې سردار دی او د سردار زوی دی او زمونږ ديني عالم دی او د ښه عزت خاوند دی چې کله ددوی خبرې ختمې شوې نو د کوټې نه عبد الله بن سلام را ووتلو او دوی ته يې وويل : ای د يهودو ډلې دې کس (رسول الله) چې تاسې ته کوم شی راوړي دي هغه قبول کړئ او تاسې ته ستاسې د کتاب نه دا معلومه شوېده چې همدا رښتونی پيغمبر دی ستاسې په کتاب کې دده نوم او صفتونه ټول ليکلي دي زه خو همدا اوس ګواهي ورکوم چې دا د الله تعالی رسول دی او زه دده تصديق کوم

ددې خبرې د آورېدلو سره دوی زيات غصه شول او ويل يې چې ته هرڅه درواغ وايې ته درواغجن يې ... بيا حضرت عبد الله بن سلام رضی الله تعالی عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې : ما درته ويلي وو چې دوی همداسې تهمت لګونکي دي دوی ماته معلوم وو چې دوی به همداسې کوي .

خو د مدينې يهود چې له يوې خوا يې د مسلمانو

نو صرف د شیطانت د کارونو خوا ته یې مخه کړې وه او چې کله به یې د اوس او خزرج ځوانان په یو ځای سره ناست په خوشحالۍ کې وکتل نو دایې نشوای زغملی او غوښتل به یې چې ددوی په مینځ کې بیا پخواني جنګونه وای او دا ولې اوس داسې په امن سره دي بیا بیا به یې کوښښ کولو چې ددوی په مینځ کې څه د خبرو ځای پیدا کړي لکن د مهربان قائد رسول الله صلی الله علیه وسلم موجودیت هغه امن ساتلی وو.

صحابه د جنګي حالاتو سره بلد کول او سرایا لېږل

له بله پلوه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ددې چې هېڅ وخت د جنګ غوښتونکی نه وو او هر وخت یې امن خوښولو لکن په داسې حالت کې له مکې مکرمې نه را وتلو چې کفارو یې د قتل پروګرام د صفر نه تر آخره پورې تیار کړی وو نو داسې حالت یو سخت حالت او دا جنګي حالت وي نو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې هم وو دا خو یې په یاد وو چې زه په څنګه حالاتو کې را وتلم داسې ټول مهاجرین د جنګي حالت سره مخامخ وو نو پداسې حالت کې د مجاهدینو حالت ته هم نظر په کار وو او دهغوی نظامي تربیه په کار وه اګر چې دوی جنګ نه خوښولو خو چې کله د اسلام د دشمنانو سره ددوی

منوره کې په ځای شول نو نظامي فعاليتونو هم شروع وکوله چې کله به رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل صحابه د مدينې منورې نه بهر دښتو او لارو ته د څارنې او کتنې په ډول و لېږل او کله به رسول الله صلی الله عليه وسلم مبارک په خپله ورسره ووتلو د علم تاريخ په کتابونو کې هغه واقعې ته چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پکې نه وي وتلی سريه وايي او په کومه کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وتلی وي هغې ته غزوة څرنګه چې زمونږ د کتابونو پدې سلسله مونږ تاسې ته د اسلامي تاريخ نه مهمې پېښې را ټولوو نو دادی اوس ستاسې پام د رسول الله صلی الله عليه وسلم په تاريخ کې هغه نظامي پېښو ته را اړوو چې کومې واقع شوې دي .

د نظامي عملياتو پيل

د سرايااوو او غزواتو شروع اول ددېنه شوې ده چې له يوه پلوه د مکې کفار د مسلمانانو هر اړخيز دښمنان وو او ددوی ورسره جګ اعلان وو او داسې حالت وو چې که په هر ځای کې مسلمان د مکې کفارو ته په لاس ورشي دوی به يې قتلوي او هغه مالونه چې د مهاجرينو څخه په مکه مکرمه کې پاتې کېدل هغه ټول کفارو غصب کول او چورکول نو په مدينه منوره کې مسلمانانو د خپلو مالونو د بېرته لاس ته راوړلو او خپل

هغه لارو ته راوتل له کومې لارې نه به چې د شام او مکې په مېنځ کې تجارتې قافلې تېرېدلې .

سرية حمزة بن عبد المطلب (سرية سيف البحر)

په اسلامي تاريخ کې اول ځل وو چې د هجرت په اومه مياشت د روژې په مبارکه مياشت کې د حضرت حمزة بني عبد المطلب رضی الله تعالی عنه په مشرۍ کې ۳۰ کسان مجاهدين چې ټول پکې مهاجرين وو د جنګ په نيت را ووتل او د بحر احمر ساحل ته ددې لپاره را ورسېدل چې دهغه تجارتي قافلې مخه ونيسي چې د ابو جهل په مشرۍ کې د شام نه مکې مکرمې ته روانه وه د سيند د غاړې سره نېږدې يو بل ته سره مخامخ شول او د جنګ لپاره يو بل ته تيار شول چې پدې وخت مجدي بن عمرو الجهني چې د همدې ساحې اوسيدونکی وو او د دواړو ډلو (مسلمانانو او مشرکانو) سره يې تعهد لرلو ددوی په مينځ کې وګرځېدو کله به مسلمانانو ته راغلو او کله به کفارو ته ورغلو تردې چې دوی يې دواړه رضا کړل چې جنګ بايد ونشي او بيغير د جنګ نه د مکې کفار مکې ته روان شول او حضرت حمزة رضی الله تعالی عنه د خپلو ملګرو سره مدينې منورې ته را غلل او د يادونې وړ ده چې پدې واقعو کې رسول الله صلی الله عليه وسلم صرف مهاجرين مجاهدين لېږل ځکه چې د انصارو سره په شوي قرارداد کې ليکلي وو چې دوی به دده نه به مدينه منوره کې

باندې ضروري نه وو چې بايد د مدينې نه بهر هم دوى ورسره جنګ ته را ووزي .

سرية عبيدة ابن الحارث (رض) (سرية رابغ)

دوهمه هغه سريه وه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لېږلې وه د هجرت په آتمه مياشت د شوال په مياشت کې وه د مسلمانانو له لوري نه شپېته او د يو قول له مخې اتيا کسان ټول مهاجرين وو مشري يې عبيدة بن الحارث کوله د مسلمانانو سپين بيرغ د حضرت مسطح بن اثاثة په لاس کې وو غرض يې دهغه قافلې د مخې نيول وو چې د شام نه مکې ته روانه وه او مشري يې ابو سفيان کوله چې دوه سوه کسان ورسره وو دواړه ډلې يو بل ته سره مخامخ شول لکن صرف غيشي يې سره وار کړل او د تورو جنګ و نشو او همدا سريه وه چې په اسلام کې لمړى غيشى حضرت سعد بن ابي وقاص وار کړو د غيشو د يو څه تبادلې نه وروسته هغوى مکې خواته لاړل او مسلمانان بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول .

سرية سعد ابن ابي وقاص (رض) (سرية خرار)

دا دريمه سريه وه او دا د ذی القعدې په مياشت کې وه چې د هجرت نهمه مياشت وه او پدې سريه کې شل کسان مهاجرين وو مشري يې حضرت سعد ابن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه کوله او سپين بيرغ د حضرت مقداد بن عمرو په لاس کې وو او د قريشو د تجارتي قافلې د مخې د نيولو لپاره وتلي وو او دوی ته امر شوی وو چې د خرار تر علاقه به نه تيريږي دوی چې هغه ځای ته ورسېدل نو قافله تردې ځای نه پرون تېره شوې بيا يې د خپل مهربان قائد رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر مطابق له خرار نه وړاندې قدم وانه خيست او بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول .

غزوة ودان (د ودان غزا)



د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په تاريخ كې لمړۍ هغه غزا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پكې وتلى دى هغه غزوة ودان وه دا هغه غزوه وه چې د مدينې منورې نه ٢٥٦ كېلو متره لرې په هغه

غزوة ابواء هم ويل کيږي او د يادونې وړ ده چې ابواء هغه ځای دی چېرته چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مور آمنه بي بي دفن شوې ده دا غزوه هغه وخت واقع شوه چې کله د هجرت په دوهم کال د صفر د مياشتې په دولسمه نېټه حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلو شپېتو کسانومهاجرينو صحابه وو سره پدې نيت ووتلو چې د سريې نه مکې ته د هغه رواني قافلې د رسېدلو مخه ونيسي چې ابو سفيان (چې په دې وخت کې لا په اسلام نه وو مشرف شوی) مشري کوله خو ابو سفيان ددې قافلې په تېرولو باندې بريالی شو او ددې امله پدې وتنه کې هېڅ ډول جګړه مېنځ ته رانغله لکن ددې وتنې په نتيجه کې يو لوی کار وشو چې د مسلمانانو او يوې مشهورې قبيلې بني ضمره سره د صلح او امن تړون وشو او ددوی سره داسې تعهد وشو چې دوی به له مسلمانانو سره او مسلمانان به له دوی سره جګړه نه کوي او نه به د يو بل په خلاف له بل چا سره مرسته کوي او دا تړون د حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم او د بني ضمرة د قبيلې د مشر عمارة بن مخشي الضمري الکناني په مينځ کې وشو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته داسې ليکل پرېښودل (دا ليک د محمد رسو الله له لوري د بني ضمرة قبيلې لپاره دی دا چې د دوی ځانونه او مالونه د مسلمانانو له لوري نه په امن کې دي او که

لپاره مبارزه كوي او كه چېرته مسلمانان ددوى مرستې ته اړ شي دوى به ورسره مرسته كوي په همدې خبره بانديې الله او دهغه رسول ګواه دي)

په دې وتنه كې لويه كارنامه همدغه تړون وو او ددې قبيلې سره تړون د مسلمانانو لپاره ځكه د ستاينې وړ وو چې دا قبيله په هغه لاره باندې واقع وه چې مكه مكرمه او سوريه يې سره تړله او پدې وتنه كې رسول الله صلى الله عليه و سلم له خپلو صحابه وو سره پنځلس ورځې په سفر باندې وو .

پدې غزوه كې د رسول ا لله صلى الله عليه وسلم د قافلې بيرغ سپين وو چې د حضرت حمزه رضى الله تعالى عنه په لاس كې وو او په مدينه منوره كې يې حضرت سعد ابن عبادة په خپل خلافت باندې پرېښى وو .


غزوة بواط (د بواط غزا)



دا غزا هم د هجرت په دوهم كال د ربيع الاول په مياشت كې وه رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوو سوو (۲۰۰) صحابه وو كرامو سره چې ټول پكې مهاجرين وو پدې نيت ووتلو چې د بواط په علاقه كې د قريشو د قافلې چې د شام نه مكې مكرمې ته د امية بن خلف الجمحي په مشرئ كې روانه وه

په قافله کې موجود خلک د مسلمانو ددې پروګرام نه خبر شول هغوی خپل حرکت له يوې خوا نه تېز کړو او له بله پلوه يې هغه لاره پرېښوده چې کومه به په عامه توګه د قافلو د تللو لپاره استعمالېده نو پدې ډول يې قافله تېره کړای شوه او مسلمانانو ددې قافلې مخه ونشوای نيولی پدې غزا کې د مسلمانانو سپين بيرغ د حضرت سعد ابن ابي وقاص رضی الله عنه په لاس کې وه او رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت سعد ابن معاذ په مدينه منوره کې د خپل خليفه په توګه باندې پرېښی وو .

غزوة العشيرة (د العشيره غزا)



دا هغه غزا وه چې په کومه کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو نيم سلو مجاهدينو سره او په يو قول د دوو سوو کسانو سره د هجرت په دوهم کال د جمادى الاول په مياشت کې پدې نيت را ووتلو چې د قريشو د قافلې لپاره په لاره کې په کمين کې کيني پدې وخت کې هم د رسول الله بيرغ سپين وو او د حضرت حمزة بن عبد المطلب رضى الله

تردي چې العشيره او يا العشيراء علاقې ته را ورسېدو اود مياشتې تر آخره پورې همدلته د د قريشو د قافلې د راتلو په انتظار کې پاتې شو او تر آخره پورې د کومې جګړې يا قافلې سره مخامخ نه شو او په همدې وخت کې په عشيره کې کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت علي رضی الله تعالی عنه وليد چې په خاورو باندې ويده وو نو هغه ته يې د ابا تراب لقب ورکړو بالآخره رسول الله صلی الله عليه وسلم او ملګري يې بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول او ددې شپو په دوران کې يې حضرت ابا سلمة بن عبد الاسد په مدينه منوره کې د خپل خليفه په توګه باندې پرېښی وو .

غزوة سفوان (البدر الاولى)



دا غزوه د هجرت په دوهم كال د جمادى الثاني په مياشت كې واقع شوه په يو قول د غزوة العشيرة نه صرف لس ورځې وروسته واقع شوه او هغه وخت دا وتل مينځ ته راغلل چې كله كرز بن جابر الفهري (چې پدې وخت كې لا په اسلام مشرف شوى نه وو) د مدينې منورې د خلكو د مال د

منوره کې حضرت زيد بن حارثه رضى الله تعالى عنه په مدينه منوره کې د خپل خليفه په توګه پرېښود او دى صلى الله عليه وسلم د خپلو ملګرو سره پداسې حالت کې چې سپين بيرغ يې حضرت علي رضى الله تعالى عنه ته په لاس کې ورکړى وو د کرز په طلب کې ووتلو او دهغه په لټون کې د سفوان علاقې ته ورسېدل چې په بدر کې موقعيت لري (ددې امله ديته لمړى بدر ويل کيږي) خو کرز تردې علاقه هم تېر شوى وو او مسلمانانو ته په لاس ورنغلو (کرز هم بيا وروسته په اسلام مشرف شو او د عرنينو په طلب کې (چې هغوى مال څروونکى وژلى وو او مال يې تښتولى وو)کوم جنګيالي لېږلي شوي وو ددې مجاهدينو مشري کرز کوله.

سرية عبد الله بن جحش رضى الله تعالى عنه (سرية نخلة)

د هجرت په دوهم کال د رجب په میاشت کې رسول الله صلى الله علیه وسلم حضرت عبد الله بن جحش رضى الله تعالى عنه د لږو کسانو سره دیوه روایت له مخې د اوو کسانو سره د مکې خوا ته په سفر باندې ولېږلو چې لاندې کسان ورسره وو .

1. حضرت ابو حذيفة بن عتبة
2. حضرت عمرو بن سراقة
3. حضرت عامر بن ربيعة
4. حضرت سعد بن ابي وقاص
5. حضرت عتبة بن غزوان
6. حضرت واقد بن عبد الله
7. حضرت صفوان بن بيضاء

رضوان الله تعالى عليهم اجمعين .

او یو خط یې ورته ورکړو او ورته یې وفرمایل چې د دوو ورځو سفر نه وړاندې به دا خط نه ګورې چې کله یې دوه ورځې سفر وکولو نو خط یې خلاص کړو چې پکې لیکلي وو کله چې زما دا خط ته وګورې نو لاړ به شې تر نخلة پورې (چې د مکې او طائف په مینځ کې وه) هلته به د مکې د کفارو حالات و ګورې او احوال به یې مونږ ته

آورو او اطاعت يې كوو) او خپل سفر يې مخ په وړاندې جاري وساتلو كله چې د معدن نومي ځاى ته ورسېدل د حضرت سعد بن ابي وقاص او حضرت عتبة بن غزوان رضى الله تعالى عنهما نه اوښ ورك شو دوى دهغې په لټون كې پاتې شول او حضرت عبد الله بن جحش له خپلو ملګرو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حكم مطابق وړاندې لاړل تردې چې نخلة ته ورسېدل او ترصد او څارنه يې كوله چې پدې وخت كې ورباندې د قريشو يوه قافله راغله چې تجارتي قافله وه او د شام له لوري نه راغله مكې ته روانه او او عمرو بن الحضرمي ، عثمان بن عبد الله بن مغيرة ، نوفل بن عبد الله بن المغيرة ، حكم بن كيسان، د هشام بن مغيرة ازاد كړل شوى غلام پكې وو ددې قافلې سره د صحابه وو جنګ شو د حضرت واقد بن عبد الله رضى الله تعالى عنه په غيشي باندې عمرو بن الحضرمي ولګېدو او ووژل شو او دوه مشركين يې ژوندي ونيول ا و له ځان سره يې مدينې منورې ته روان كړل او يو څه يې په لاس كې هغه مالونه وو چې د قافلې نه يې اخستي وو دوى چې مدينې منورې ته ورسېدل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې ما خو تاسې ته د جنګ اجازه نه وه كړې ، تاسې خو مونږ صرف د څارنې او ترصد په غرض لېږلي وئ تاسې جنګ ولې وكولو او پدې سره د يهودو خبرې هم مسلمانانو ته را خلاصې شوې چې

وكولو په مكه كې مشركانو ډنډوره ترې جوړه كړه چې محمد د حرم په مياشتو كې جنګ وكولو او يو كس يې ووژلو او دوه يې اسيران بوتلل او څه مالونه يې هم لوټ كړل او په دوى باندې خپلو مسلمانانو ورونو هم ملامتي وويله چې تاسې داسې كارونه ولې وكول چې تاسې ته وربانديې امر نه وو شوى چې كله دا خبرې زياتې شوې الله تعالى وحى را ولېږله چې د عبد الله بن جحش رايه او هغه څه چې هغه كړي وو هغه يې تائيد كړه :

سورة بقرة آية ٢١٧

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ

ترجمه : پوښتنه كوي دوى له تا نه د حرم په مياشتو كې د جنګ كولو په اړه ورته ووايه چې پدې مياشتو كې جنګ كول لويه او سخته خبره ده خو منع كول د الله له لارې نه او له مسجد حرام نه او ويستل د اهل د مسجد حرام له هغه نه دا د الله په وړاندې سخت دى او فتنه را پورته كول له قتل نه سخته او لويه خبره ده .

امام ابن قيم رحمه الله په يوه ځاى كې وايي : چ

يې هم ونه ويل چې په اشهر الحرم کې جنګ کول ښه کار دی بلکه ويې فرمايل دا ډيره لويه خبره ده او ښه کار نه دی لکن هغه څه چې دښمنان يې کوي هغه تردې هم لويه بده خبره ده نو ددې په ځای چې تاسې دا ملامت کوئ هغوی په هغه کارونو کې ملامت کړئ چې هغوی يې کوي .

له بله پلوه هغه دوه کسان (حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت عتبه بن غزوان رضی الله تعالی عنهما) چې د اوښ په طلب کې د حضرت عبد الله بن جحش نه پاتې شوي وو هغوی مشرکينو ته ژوندي په لاس ورغلل او د بنديانو په ډول يې له ځان سره بوتلل او مسلمانانو چې دوه کسان بنديان راوستلي وو هغه عثمان بن عبد الله او حکم بن کيسان وو بيا يې دا بنديان سره تبادله کړل خو هغه وژل شوی کس عمرو بن الحضرمي د مشرکينو په زړه باندې بوج پاتې شو او مسلمانانو ته به يې هروخت په زړه باندې وينې را آوښتې تردې چې د بدر د غزا وخت شو او ددوی تمه وه چې دلته به مونږ د خپل مړي بدل له مسلمانانو څخه اخلو او هم به دوی ته د ټولو هغه کارونو سزا ورکوو چې مونږ ورته پرې غصه يو .

غزوة بدر الکبری

تاريخ

دا غزا د هجرت په دوهم کال د رمضان د مياشتې په اولسمه نېټه د جمعې په ورځ واقع شوه .


موقعيت



دا غزا د بدر په ساحه د کوهيو په خوا کې چې

متره فاصله لري او دا چې دی ځای ته بدر ولی وايي مختلف اقوال دي پکې
په يو قول ددی ځای نسبت مشهور سړي بدر بن مخلد بن نضر بن کنانة ته شوی دی چې هغه يو وخت دلته راغلی وو په يو قول کې ددې ځای نسبت بدر بن حارث ته کيږي ، يا بدر دهغه کوهي نوم دی چې دلته واقع دی نو ځکه دې ټولې علاقې ته بدر وايي او هغه کوهي ته بدر ددې امله ويل کېدو چې دا ګرد جوړ وو او يا دا چې اوبه يې صفا وي چې د شپې به چا پکې ور وکتل نو سپوږمۍ ورته پکې ښکاره کېده امام واقدي دا ټول قولونه رد کړي دي او ويلي يې دي دا ځای دی چې بدر ورته ويل کيږي او داسې نوم يې دی لکه په دنيا کې چې ټول ځايونه يو خاص نوم لري او وجه د تسميې ئې نه وي معلومه .




غرونه
ريګونه
مصب وادي الصفراء
د رسول الله (ص)
د کيناستلو ځاى
هديره
د مسلمانانو جنګيالي
کوهى
د جنګ ميدان
غرونه
هغه غرونه چې ابو سفيان يې تر شا قافله تيره کړه
هغه کوهى چې مسلمانانو
د جنګ نه وړاندې ډک کړو
د کفارو جنګيالي

په غزا کې شريکې ډلې

دحق او باطل په مينځ کې فيصله کونکې جګړه وه له يوې خوا نه د زمانې موسی او له بلې خوا نه د زمانې فرعون جنګ ته وړاندې شوي وو چې د مسلمانو د لوري مشري پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم کوله او د مشرکانو د لوري مشري عمر ابن هشام (ابو جهل) کوله د مسلمانو له لوري نه ۳۱٤ او په بل روايت ۳۱۳ مجاهدين په جنګ کې شريکان وو د دوی سره دوه آسونه وو يو د حضرت زبير ابن العوام او دوهم د حضرت مقداد بن اسود الکندي رضی الله تعالی عنهما وو او ۷۰ اوښان وو په مجاهدينو کې ۷۳ کسان مهاجرين او ۲٤۱ يې انصار رضی الله تعالی عنهم وو په انصارو کې ۱۷۰ د خزرج له قبيلې نه او پاتې ۷۱ د اوس له قبيلې څنې وو او د يو بل روايت له مخې مسلمانان ۳۱۷ کسان وو ۸٦ مهاجرين وو او ۲۳۱ انصار حضرات وو چې ۱۷۰ د خزرج د قبيلې وو او ٦۱ کسان د اوس قبيلې وو او عمومي جنډه د حضرت مصعب ابن عمير القرشي العبدوي په لاس کې وه چې په سپين رنګ کې وه او رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل لشکر په دوه برخو ويشلی وو يوه د مهاجرينو برخه وه دهغې جنډه او بيرغ د حضرت علی رضی الله تعالی عنه په لاس کې

دا دواړه بيرغونه تور وو د لښكر عمومي قومانده د حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم په لاس كې

وه د قريشو له لوري نه ۱۰۰۰ جنګيالي وو سل پكې د آسونو سپاره جنګيالي وو اوه سوه كسان پكې زغره وال وو او ګڼ شمېر اوښان پكې وو .

د غزا وجه

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته خبر راغلو چې ابو سفيان د قريشو د يوې قافلې مشري كوي چې د شام له لوري نه را روانه شوه او مكې ته ځي حضرت ابو ايوب انصاري رضی الله تعالی عنه فرمايي چې مونږ په مدينه منوره كې وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل (ماته خبر را رسېدلی دی چې د قريشو يوه قافله د شام نه را روانه شوېده تاسې نه غواړئ چې دهغې مخې ته ور ووزئ كېدای شي الله تعالی يې ستاسې لپاره غنيمت كړي؟ مونږ ورته وويل چې هو مونږ وروتل غواړو .

پدې قافله كې له يوې خوا ډېر زيات مال وو چې اندازه يې تر ۵۰۰۰۰ پنځوس زرو درهمه پورې رسېدله او له بلې خوا د دفاع لپاره ورسره صرف تر ٤۰ پورې كسان وو نو د مسلمانانو لپاره قيمتي موقع وه چې كفارو ته په اقتصادي ليول

هلته چې څوک حاضر وو هغوی ته يې وويل چې څو ددې امله هغه کسان چې دې غزوې ته د وتلو نه پاتې وو په هغوی باندې هيڅ ډول ملامتي رانغله ځکه پدې غزوه کې وتل اختياري وو امر پرې نه وو شوی .

بدر ته روانېدل

مسلمانان روان شول لکه مخکې چې تېره شوه چې صرف ۷۰ اوښان وو نو په يوه اوښ به دوه يا دری کسان وو حضرت علي او حضرت لبابة رضی الله تعالی عنهما د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يوه اوښ کې شريکان وو دوی به په نمبر نمبر په اوښ سپرېدل او دوه به ورسره په پښو تلل چې کله به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پښو د تللو نمبر راغلو نو دوی به ورته وويل چې ستا په ځای به مونږ په پښو لاړ شو نو ده مبارک صلی الله عليه وسلم به ورته ويل چې نه خو تاسې زما څخه تکړه ياست او نه خو زه داسې يم چې اجر ته مې ضرورت نشته نو زه خپل وار په خپله په پښو تللو باندې تېروم .

کله چې په لاره کې د روحاء علاقې ته ورسېدل رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت ابي لبابة ته وويل چې ځه ته لاړ شه په مدينه کې د خليفه په توګه پاتې شه او حضرت عبد الله ابن ام مکتوم رضی الله تعالی عنه به د خلکو د مانځه امامت کوی او

وسلم سره د اوښ دريم ملګرى حضرت مرثد بن ابي مرثد رضى الله تعالى عنه شو

د ابو سفيان مرسته غوښتل له مکې نه

ابو سفيان چې د ښې تجربې خاوند وو نو پدې پوهېدو چې مکې ته غزېدلې لاره له خطرونو څخه ډکه ده ددې امله به يې له هر هغه چا نه پوښتنه کوله چې دوى ته به په مخ ورتلل چې په لاره کې خو څوک نه وو؟ تاسې خو څوک ونه ليدل؟ او داسې نور آخر په همدې معلوماتو کې ورته معلومه شوه چې محمد صلى الله عليه وسلم له خپلو ملګرو سره را وتلى دى نو چې کله ابو سفيان ددې نه خبر شو چې مسلمانان يې لاره نيول غواړي او د خطر احساس يې وکولو نو خپل يو نفر ضمضم بن عمرو الغفاري يې مکې مکرمې ته را ولېږلو او د قريشو نه يې وغوښتل چې را بهر شي او د خپلې قافلې مرسته وکوي ضمضم په ډېره تېزه منډه راغلو او مکې ته يې ځان را ورسولو او په مکه کې په خپله سپرلۍ باندې سر چپه و دريد چې مخه يې شا ته کړه او خپلې جامې يې وشکولې مخ يې ککړ کړو او خلکو ته يې چيغه کړه اى خلکو اى قريشو ستاسې مالونه محمد او دهغه ملګرو ته د لاس ته ورتللو په حال کې دي زه فکر نه کوم چې ستاسې په لاس به درشي هلئ زر کوئ د خپلې قافلې مرسته وکوئ.

د مکې د کفارو تياري

د مکې خلک چې د ټولو مالونه په همدې قافله کې وو ددې خبر په آورېدلو باندې غصه شول او ټولو د وتلو تياري شروع کړه هرڅوک پدې مجبور وو چې يا به پخپله ځي او يا به د ځان په ځای څوک پيدا کوي چې دده له لوري دې جنګ ته لاړ شي د مکې په مشرانو کې صرف ابو لهب جنګ ته د تللو نه پاتې شو او هغه په خپل ځای باندې عاص ابن هشان ولېږلو او په عاص باندې دهغه ٤٠٠٠ درهمه قرض وو ددې قرض په بدل کې هغه دده له لوري نه جنګ ته لاړو کله چې په اول کې د جنګ په لوري روانېدل نو عدد يې شاوخوا ١٣٠٠ کسان وو چې سل پکې د آسونو واله وو او ٦٠٠ کسان پکې د زغره واله وو او ډېر اوښان وو خو وروسته پکې ځينو فکر وکولو چې په مخه کې د بني بکر قبيله ده که هغوی د دوی سره جنګ وکوي او هغوی هسې نه هم د دوی دښمنان وو نو بيا به قصه خطرناکه وي نو دوی ټولو غوښتل چې خپله اراده بدله کړي خو پدې وخت کې شيطان ورته د سراقه بن مالک (د بني کنانة د مشر) په شکل کې راغلو او ابو جهل ته يې ويل چې تاسې مه ډارېږئ زه لتاسې سره يم او دوی ته يې ډاډ ورکړو او زړه يې ورکړو نو بيا دوی اراده بدله نه کړه خو بيا هم د جنګياليو شمېره تر ١٠٠٠

د مکې د لښکر روانېدل

د مکې کفار ډېر په کبر او غرور سره د خپلو کورونو څخه را ووتل لکه الله تعالی چې فرمايي سورة انفال آية ٤٧

وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾

ترجمه : او تاسې مه کيږي په څېر د هغه کسانو چې د خپلو کورونو څخه را ووتل په سرکشي او په ځان ښودلو سره خلکو ته او دوی منع کوي د الله له لارې نه او الله په هغه څه باندې چې دوی يې کوي ښه احاطه کونکی دی .

د مکې لښکر په بېړه سره د شمال په لوري د بدر د ځای په طرف روان شو د ټولو په زړونو کې خوشحالي پدې وه چې په ښو جنګي سامانونو باندې پوښلي وو او ښه جنګي آلات ورسره وو او په شمار کې هم ښه لوی لښکر وو خو په دوی کې مشر عتبة چې د لويې تجربې مالک مشر وو هغه وويل چې که دا جنګ مو چېرته له خلکو سره وي نو په اوله حمله کې به يې لکه د وچو خځلو په څېر له ځان

اسبابو مالکان او په شمېره کې هم لږ وو) او که چېرته دا جنګ مو له خدای سره وي نو بیا خو مونږ لا څه تردي نور هم لوی قوتونه به ماتې خوري .

ددوی لښکر د بدر په لور روان وو چې د وادي عسفان نه تېر شول بیا وادي قدید نه تېر شول او بیا وادي جحفه ته ورسېدل.

د ابو سفیان لاره بدلول

ابو سفیان په خپل مهارت او په چالاکي سره د قافلې لاره بدله کړه هغه لاره چې د بدر په خوا راغلې وه او د قافلو د تېرېدلو لپاره عمومي لاره وه هغه یې پرېښوده او قافله یې د غرونو شاه ته چې په نقشه کې (ددې قصې په سر کې په دیارلسم مخ کې) ښکاره کړل شوېده تېره کړه او قافله یې تر خطر وویسته او د قریشو جنګیالیو ته یې خط ولېږلو چې قافله په خیر سره را تېره شوه او دوی دې بېرته مکې ته ستانه شي او دا خط د مکې لښکر ته په وادي جحفه کې ور ورسېدو .

د مکې لښکر ته د ابو سفیان د خط رسېدل

د قريشو جنګياليو اراده وکوله چې مکې ته ستانه شي لکن ابو جهل وويل چې نه مونږ به څو بدر ته هلته به درى شپې پاتې کيږي هلته به اوښان حلالوو او ښځې به ګډوو او شرابونه به څښو چې ټول عرب پرې خبر شي بيا به دهغې نه وروسته بېرته مکې ته را ګرځو او که مونږ بېرته اوس وګرځو نو مسلمانان به بيا په مونږ باندې هروخت داسې رعب اچوي او نور به هم زړور شي.

الله تعالى فرمايي سورة انفال آية ٣٠

وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ 

ترجمه : بد تدبير کوي دوى او الله هم تدبير کوي او الله ډير ښه تدبير کونکى دى .

د ابو جهل د خبرې تائيد ټولو قريشو وکولو صرف اخنس بن شريف د بني زهرة قبيلي د جنګياليو سره ددې خبرې تائيد ونه کولو او وئې ويل چې مونږ د خپلې قافلې د دفاع لپاره راوتلي وو او هغه اوس په امن سره را تېره شوه نو مونږ بېرته مکې ته ګرځو او را وګرځېدل او ددېنه وروسته بيا ښکاره شوه چې د بني زهره په اړه د شريف بن اخنس رايه ډيره قيمتي وه نو ځکه ددېنه وروسته په بني زهره کې د شريف بن

بني هاشم هم غوښتل چې لاړ شي خو ابو جهل ورته وويل چې پدې سخت حالت کې مونږ مه پرېږدئ يو څه وخت دی بيا به ټول په شريکه سره ځو لښکر د ابو جهل په مشرۍ بدر ته راورسېدو او د بدر د ميدان سره په خوا کې په يو ځای کې دېره شول.

مسلمانانو ته د مکې د لښکر معلومات را رسېدل

مسلمانان لا په لاره کې وو چې د مکې د خلکو د عمومي وتنې او د هغه لوی لښکر په اړه خبرونه ورته را ورسېدل چې دومره زيات او دومره په ا سلحو باندې مجهز را وتلي دي خو چې څومره دوی دا خبرې آورېدې د مسلمانانو په زړونو کې د جنګ عزم کمزور نه شو او لا يې جنګ او غزا ته په زړونو کې لېوالتيا پيدا کېده ځکه که پدې وخت کې مسلمانانو شا ته قدم اخيستی وای پدې کې د اسلام اهانت کېدو او په سياسي ډګر کې د مسلمانانو کمزوري وه ددېنه وروسته به کفار ډېر خوشحال شوي وو همدې عزم مسلمانان پرې نه ښودل چې شا ته شي او نه يې غوښتل چې ددوی د ځان ساتنې له امله د اسلام نوم کمزوری شي او دهغه جسد شکل واخلي چې روح پکې نه وي .

د جنګ ډګر ته د وړاندې کېدلو نه وړاندې شورى

اوس هغه وخت راغلو چې په ظاهري ډېرو لږو اسبابو سره د لوى طاغوت مقابلې ته بايد مسلمانان وړاندې شي او په ظاهر كې دا مقابله ډېره ګرانه وه نو دا چې اوس به د جنګ ميدان ته وړاندې كيږي او كه څنګه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو ملګرو سره مشوره شروع كړه چې چې څه وكوي ؟ ځينو پكې وويل چې مونږ خو دداسې جنګ تيارى نه وه كړې نه به داوي چې ورسره مخامخ نه شو او له جنګ نه ځان وژغورو او په خبرو سره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم قانع كول غوښتل چې جنګ ونه كوو او د همدوى په اړه باندې قرانى ايتونه نازل شول چې فرمايي سورة انفال آية ٥

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥

ترجمه : لكه څرنګه چې را وويستلې ته ستا رب ستا له كور نه په حقه سره او بې شكه ځينې مسلمانان خوښ نه وو .

الله تعالی چې په هرڅه باندې عالم سمیع او بصیر دی مسلمانانو ته وایي چې سورة انفال آیة ۷

وَإِذْ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحْدَى ٱلطَّآئِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقْطَعَ دَابِرَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧﴾

ترجمه :در په یاد کړه هغه وخت چې الله تعالی له تا سره وعده کوله د یو د دوو ډلو چې هغه به ستا وي او تاسې خوښوله چې هغه ډله دې ستاسې شي کوم چې د کمې دفاع خاوندان وو (قافله) او الله تعالی غوښتل چې حق ثابت کړي په خپلو دلیلونو سره او د کافرانو بنیاد پرې کړي .

د مهاجرینو ځینو مشرانو لکه ابو بکر صدیق حضرت عمر او حضرت مقداد بن عمرو خبرې وکولې او وئې ویل چې مونږ به اوس د دښمن سره مقابله کوو او د دوی سره به مخامخ کیږو حضرت مقداد رضی الله تعالی عنه په خپلو خبرو کې وویل (ای د الله رسوله هغه څه وکوه چې تاته ښه ښکاره کیږي مونږ لتا سره یو مونږ به داسې تاته ونه وایو لکه بنی اسرائیلو چې حضرت موسی علیه السلام ته ووېل سورة مائدة آیة ٢٤ .

ترجمه: څه ته او ستا رب لاړشئ جنګ وکوي مونږ دلته درته ناست يو ..
حضرت مقداد وويل اى د الله پيغمبره مونږ تاته ووايو چې ته او ستا رب لاړشئ جنګ وکوئ او مونږ هم لتاسره جنګېږو زما د قسم په هغه ذات وي چې ته يې مونږ ته را لېږلى يې كه ته مونږ برک الغماد (د ځاى نوم دى چې پخوا له اسلام نه د كومې مسافې د لري والي د ښكاره كولو لپاره به دا ځاى په مثال كې راوړل كېدو) ته بوزې هم مونږ درسره ځو .

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې دا خبرې واورېدې پرې خوشحال شو ددېنه وروسته يې د انصارو په لوري و فرمايل چې تاسې هم مشوره راكړئ څه وكوو؟ پدې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم غوښتل چې د هغوى رايه هم معلومه كړي ځكه په لښكر كې ډېر خلک انصار وو او د جنګياليو لويه برخه يې تشكيل كوله د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مطلب باندې سعد ابن معاذ رضى الله تعالى عنه چې د انصارو بيرغ يې په لاس كې وو پوه شو نو را پورته شو ويې ويل (رسول ا لله داسې ښكاره كيږي لكه ستا مطلب چې مونږ وو؟) رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته و فرمايل هو ! هغه رضى الله تعالى عنه و فرمايل : مونږ په تا باندې ايمان راوړى دى او ستا تصديق مو كړى دى او پر

کړی دی چې مونږ به ستا هره خبره آورو او اطاعت به يې کوو څه دې چې خوښه وي هغه وکوه مونږ ستا ملګري يو...

د جنګ د ځای په لوري د اسلامي فوځونو حرکت

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې دا خبرې واورېدې نو خوشحال شو او د ميدان په لور يې حرکت وکولو په بحرة الوبرة نومي ځای کې يو مشرک ورسره مخامخ شو چې په جرئت او جنګيالي توب کې يې شهرت درلود هغه ورته وويل چې دی غواړي چې له دوی سره په جنګ کې ملګرتيا وکوي رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته و فرمايل چې نه ..! د يو مشرک مرستې ته اړتيا نه لرو او بيا د دوهم ځل لپاره په الشجرة نومي ځای کې ورته راغلو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته بيا هماغه خپل ځواب تکرار کړو او د دريم ځل لپاره بيا په البيداء نومي ځای کې ورته راغلو رسول الله بيا هم ورته خپل اولنی ځواب وويلو نو هغه متاثر شو او اسلام يې قبول کړو نو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اجازه ورکړه چې د صحابه وو په ډله کې د جنګ لپاره شريک شي .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري استخباراتي عمليات

كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د الصفراء نومي ځاى ته ورسېد نو د حالاتو د معلومولو لپاره پخپله رسول الله (ص) او ابوبكر صديق (رض) ووتل چې وګوري كه په كومه لاره د كفارو د لښكر په اړه دهغې د شمېرې او نورو ترتيباتو او مشرانو په اړه معلومات را پيدا كړي دوى دواړه د بدر خوا ته لاړل نو يو سپين ږيرى يې هلته ولېدو چې سفيان الضمري نومېدو له هغه نه يې څه پوښتنې وكولې چې قريش اوس په كوم ځاى كې دي؟ محمد او د هغه لښكر اوس په كوم ځاى كې دى؟ هغه چې ښه تجربه لرونكى سپين ږيرى وو نو دوى ته يې وويل : زه به تاسې ته د هغې پوښتنو ځوابونه دركړم چې تاسې يې كوئ لكن تاسې به هم راته وواياست چې تاسې څوك ياست ...؟ نو سپين ږيري وويل چې ما ته وويل شول چې محمد له خپلو ملګرو سره په فلانى ورځ باندې راوتلى دى كه هغه ماته رښتيا ويلي وي نو اوس به هغه او دهغه لښكر په فلاني ځاى كې وي (هغه ځاى يې ياد كړو چې كوم ځاى ته همدا اوس مسلمانان را رسېدلي وو) او زه خبر شوم چې قريش په فلانى ورځ را روان شوي دي كه هغه كس ماته رښتيا ويلي وي نو اوس به د هغوى لښكر په فلاني ځاى كې وي ..... كله

ياست؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : نحن من الماء او بېرته خپل لښر ته را ستانه شول .

د مکي لښکر په اړه مهم معلومات لاس ته راتلل

د همدې ورځ په آخر کې ئې حضرت علي ، حضرت زبير او حضرت سعد ابن ابي وقاص رضی الله تعالی عنهم د يو څو کسانو صحابه وو سره ولېږل چې معلومات را غونډ کړي دوی دوه ماشومان چې يو اسلم نومېده د بني الحجاج څنې وو او بل يې عريض ابو يسار نومېده پيدا کړل چې د بدر له کوهيانو څخه يې د قريشو لښکر ته اوبه وروړلې هغه دواړه ماشومان يې را ونيول او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې راوستل پدې وخت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم په مانځه ولاړ وو صحابه وو له ماشومانو څخه و پوښتل چې دا اوبه مو چا ته وروړلې؟ هغوی ورته وويل چې د قريشو جنګياليو ته صحابه وو ورته وويل چې نه تاسې دروغ واياست دا مو د ابو سفيان د قافلې کسانو ته وړلې مونږ ته وواياست چې هغه قافله اوس چرته ده ... نو دوی چې په خپل ځواب ټينګ پاتې شول نو صحابه وو هغوی ووهل بيا هغوی وويل چې هو مونږ د ابو سفيان قافلې ته دا اوبه وروړلې چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم

رښتيا وويل نو تاسې ووهل او چې کله يې درواغ درته وويل نو پرې مو ښودل ...؟ بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپله دهغوى نه پوښتنې شروع کړې ورڅخه يې وپوښتل چې د قريشو لښکر اوس چېرته دى؟ هغوى ورته وويل ددې غونډۍ شاته دى چې د عدوة القصوى سره ښکاره کيږي

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه پوښتنه وکوله چې څو کسان دي؟

دوى ورته وويل : ډېر دي

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه و پوښتل : څو کسان دي؟

دوى وويل : مونږ ته يې اندازه نه معلوميږي

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه و پوښتل : د ورځې څو اوښان حلالوي؟

دوى وويل : تقريباً نه (۹) او يا لس (۱۰) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ددېنه اندازه معلومه کړه چې يا نه سوه کسان دي او يا زر کسان دي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه و پوښتل چې په لښکر کې د مکې له مشرانو څخه څوک دي؟

دوى وويل : عتبة بن ربيعة، شيبة بن ربيعة، ابو البختري بن هشام، حکيم بن حزام، نوفل بن خويلد، حارث بن عامر بن نوفل، طعيمه بن عدي بن نوفل، نضر بن حارث، زمعه بن اسود، ابو جهل ، امية بن خلف، نبيه او منبه ابناء الحجاج، سهيل ابن عمرو او عمرو ابن عبدود .

د مکې د کفارو لخوا استخباراتي کارونه

ابو جهل د مسلمانانو د حالاتو او تعداد د معلوموللو لپاره عمير ابن وهب الجمحي (د غزوة بدر نه وروسته اسلام قبلوي) را ولېږلو هغه په خپل آس باندې د مسلمانانو د لښکر د کتلو لپاره داسې ځای ته راغلو چې مسلمانان ورته ښکاره کېدل بېرته لاړو قریشو ته یې وویل چې ما هیڅ ونه لیدل مګر صرف دا مې ولیدل چې ای قریشو ارمانونه د بلاګانو په لاسونو کې دي مسلمانان به ستاسې سره په خپلو تورو سره مخامخ کیږي د مسلمانانو څنې ستاسې هم د خلاصون څه ځای نشته که تاسې له هغوی نه یو کس ووژنی نو هغوی به هم ستاسې نه یو کس وژني نو چې سر په سر بدل شي نو بیا یې څه فایده .. تاسې په خپل کار باندې غور وکوئ ...

د باران کېدل

په همدې شپه باندې ډېر ښکلی باران وشو چې د مسلمانانو لپاره د ښکلي رحمت په شکل کې وود ځينو صحابه وو اوبو ته ضرورت شوی وو هغوی وربانديې پاک شول او د کفارو لپاره بد ترين زحمت شو په کومه زمکه باندې چې مسلمانان وو

ترې جوړه کړه ددې باران په اړه الله تعالی فرمايي سورة انفال آية ١١.

وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَـٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ ﴿١١﴾

ترجمه : او الله تعالی را وورولې په تاسې باندې اوبه له اسمانه ددې لپاره چې تاسې وربانديې پاک کړي او لرې کړي لتاسې نه پليدي د شيطان او ستاسې زړونه سره و تړي او ستاسي قدمونه محکم کړي .

په ميدان کې د لښکر لپاره بهترين ځايونه غوره کول

کله چې مسلمانان د جنګ ځای ته را ورسېدل نو هغه ځای يې خوښ کړو چې اوبو ته نېږدې وو پدې سره دوه قسمه فايدې وشوې يو دا چې مسلمانان اوبو ته نېږدې شول او بل دا چې کفار يې له اوبو نه لرې وساتل او له اوبو نه يې محروم کړل مسلمانانو ځان ته د اوبو سهولتونه پوره کړل او د باران اوبو ته يې هم حوض جوړ کړو او هغه يې وساتلې ددې نعمت نه کفار محروم وو .

کله چې د مسلمانانو د لښکر لپاره ځای تعين کړل شو نو سعد ابن معاذ رضی الله تعالی عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې دلته درته يوه (عريش) څپره جوړه نه کړو؟ هلته به تاسې پکې تشريف لری او ستاسې لپاره به د کېناستلو ځای وي رسول الله صلی الله عليه وسلم دا رايه خوښه کړه او د ميدان نه په يو څه لوړه ساحه کې ورته څپره جوړه کړل شوه (په نقشه کې ښکاره کيږي) او پدې ځای باندې اوس يو جومات جوړ دی چې مسجد العريش ورته وايي رسول الله به چې پدې څپره کې ناست وو د جنګ ميدان ورته ښکاره کېدو او د سعد ابن معاذ رضی الله تعالی عنه په مشری کې يوه ډله صحابه غوره کړل شول چې هغوی به د رسول الله صلی الله عليه وسلم له ځای نه حفاظت او ساتنه کوي او نه به پرېږدي چې د جګړې په مهال د کفارو له لوري نه څوک دېخوا ته را تېر شي .

د غزوة بدر نه وړاندې شپه

وروسته ددې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د جنګ لپاره ټول هغه ماديات برابر کړل چې دده په طاقت بشري کې وو نو بيا يې ټوله شپه الله تعالی ته په عبادت تېره کړه او دهغې شپې د دعاګانو څنې يې يوه داسې دعا وه چې ويل يې ای الله تا چې لما سره کومه وعده کړېده هغه پوره کړه ،

څوک هم پاتې نشي چې عبادت وکوي او تردې وخته به يې دعا کوله چې څادر مبارک به يې له اوږو نه پرېوتلو بيا به ابوبکر صديق رضى الله تعالى عنه ورغلو او څادر به يې په اوږو مبارکو باندې ور واچولو او ورته فرمايل يې اى د الله رسوله بس دى الله تعالى به زمونږ مدد کوي او زمونږ سره به مرسته کوي او بيا آيت نازل شو سورة انفال آية ٩.

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّى مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾

ترجمه : هغه وخت چې تاسې دعا کوله دربار د رب خپل ته بيا الله تعالى ستاسې دعاګانې قبولې کړې او تاسې ته يې وويل چې زه په زرو پرښتو چې يوپه بل پسې به راځي ستاسې مرسته کوم .


الله تعالى خپلو بندګانو ته ډاډ ورکوي چې لتاسو سره د ملائکو مرسته شته او ورته فرمايي سورة انفال آية ١٢ -١٤

إِذْ يُوحِى رَبُّكَ إِلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّى مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ سَأُلْقِى فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلرُّعْبَ فَٱضْرِبُوا۟

فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ﴿١٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٤﴾

ترجمه : کله چې الله تعالی ملائکو ته وحیی را ولېږله چې زه ستاسې سره یم پس کلک کړئ او ملاتړ وکړئ دهغه کسانو چې مسلمانان دي او زه به ډیر زر واچوم د کفارو په زړه کې ویره پس ای مسلمانانو ووهی دهغوی ورمېږونه او ووهئ ددوی د لاس او پښو طرفونه دا ځکه چې دوی مناقشه او خلاف کولو د الله او دهغه د رسول سره او الله تعالی سخت عذاب ورکونکی دی دا عذاب و څکئ او پدې پوه شئ چې د کافرانو لپاره د اور عذاب دی .

د شپې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ملګرو سره په میدا ن باندې هم را تاو شو او صحابه وو ته ئې ویل چې سبا دا د پلاني د هلاکت ځای دی او دلته به فلانی هلاکیږي او دا د رمضان ۱۷مه



يوم البدر او د قريشو په مينځ کې بې اتفاقي

د قريشو لښکر هم خپله شپه سبا کړه په سحر کې يې د جنګياليو او ځينو مشرانو په مينځ کې ددې رايه پيدا شوه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د جنګ لاره غوره نه کړي او بېرته بغير د جنګ نه مکې ته وګرځي .

حکيم ابن حزام راغى عتبة ته يې وويل چې ګوره ته د خلکو سردار يې د خلکو لپاره داسې يو کار وکوه چې تر عمره دې نېک ياد پاتې شي د ا خپله قبيله جنګ ته مه وړاندې کوه عتبة بن ربيعة پاڅېدو خلکو ته يې وويل چې د محمد سره د جنګ کولو نه ستاسې فايده څه ده؟ څه ترې جوړول غواړئ د هغه ټول ملګري ستاسې ورونه دي ستاسې د ترونو زامن او ستاسې د قبيلې خلک دي ښه به دا وي چې مونږ محمد پرېږدو چې نور عرب ورسره څه کوي زمونږ خو د خپلې کورنۍ سړی دی مونږ به ورسره جنګ نه کوو .

حکيم ابن حزام راغلو ابو جهل خپله زغره سموله ده ورته وويل چې عتبة وايي چې دا جنګ به نه کوو ابو جهل ورته ډېر زيات غصه شو او ورته يې وويل چې په هغه پانډي د محمد او د هغه

وي چې تر څو الله زمونږ او د محمد په مينځ کې فيصله ونه کوي مونږ ددې ځای نه بېرته نه ځو .

عتبة ته چې د ابو جهل دا خبرې ور ورسېدې نو هغه هم پرې ډېر زيات غصه شو ويل زر ده چې پوه به شي چې په چا باندې سحر تاثير کړی دی ، زر ده چې له بدې نتيجې ددې ضد نه به خبر شي ابو جهل پدې وډار شو چې هسې نه په رښتيا دا خبره په قوم کې لويه شي او هسې نه قوم زما لوری پرېږدي او مکې ته و ګرځي نو يې د عمر الحضرمي (چې يو څه وخت مخکې د مسلمانانو په لاس د عبد الله بن جحش په سريه کې قتل شوی وو) ورور را وغوښت او ورته يې وويل چې دا ستا حليف عتبة وګوره اوس غواړي دا خلک د مسلمانانو سره د جنګ نه منع کړي او بغير د جنګ نه يې مکې ته ستانه کړي بيا به د مسلمانانو نه ستا د قتل شوي ورور بدل څوک اخلي ورشه په خلکو کې د خپل ورور د انتقام د اخستلو روحيه را ژوندۍ کړه هغه راغلو او د خلکو په مينځ کې يې په زوره زوره چيغې وکړې ای زما قتل شويه وروره عمره! ای عمره ! ای عمره ! .... د جنګياليو په زړونو کې وينې ورته په جوش شوې او له زړونو څخه يې هغه رايه وويسته چې د عتبة خبرو پکې ځای په ځای کړې وه او د شر لوري ته يې لا ګرم کړل .

د دواړو لښکرو يو بل ته سره ښکاره کېدل

دوا ړه لښکر د جنګ ميدان ته سره په نيږدې کېدو کې شول او يو بل ورته ښکاره شول چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم د قريشو لښکر وليد نو دعا يې وکوله : اى الله دا قريش د خپل کبر او غرور سره راوتلي دي ستا سره جنګ کول غواړي او ستا د رسول تکذيب کوي اى الله ددوى په مقابل کې زما هغه مرسته وکوه چې تا يې راسره وعده کړيده .

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله عتبة بن ربيعة وليد چې په سره اوښ باندې سپور وو صحابه وو ته يې وويل چې که پدې ټوله ډله کې د خير خاوند واى نو دا د سره اوښ مالک به وو که دوى ددې اطاعت کړى واى نو ده ورته سمه لاره ښوده .

د صفونو برابرول

رسول الله صلى الله عليه وسلم په ډېره مينه سره خپل صفونه سيده برابر کړل او هر صحابي ته به يې په مينه سره ويل چې سيده و دريږه او ټولو ته

واروئ تر هغه وخته پورې توره مه را بهر کوئ څو چې هغوی تاسې ته ډېر نږدې شوي نه دي د صفونو د برابرولو نه وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم او ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه بېرته خپل ځای ته لاړل او حضرت سعد ابن معاذ رضی الله تعالی عنه يې په دروازه کې د حفاظت په نيت ودرېدو .

مشرکينو چې کله صفونه برابر کړل نو ابوجهل چې ددوی په مشرئ کې وو دعا وکوله او ويې ويل ای الله نن چې تاته څوک ډېر محبوب وي دهغوی مرسته وکوه (ده ته ځان د بتانو په عبادت کې په حقه ښکاره کېدو) الله تعالی فرمايي سورة انفال آية ١٩

إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ فَقَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡفَتۡحُۖ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدۡ وَلَن تُغۡنِيَ عَنكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـًٔا وَلَوۡ كَثُرَتۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٩

ترجمه : ای کافرانو که تاسې فتح غوښته داده فتح راغله او که تاسې اوس نور د اسلام خلاف پرېږدي نو دا ستاسې لپاره ښه ده او که چېرته

تاسې نه هيڅ شی اګر که تاسې ډېر هم یاست او پدې پوه شئ چې الله تعالی د مومنانو ملګری دی .

د جنګ اولې مرحلې

مسلمانانو د باران اوبه په يوه حوض کې جمع کړې وې چې د ضرورت په وخت کې به يې ترې استفاده کوله او پدې وخت کې د کفارو د لښکر سره د اوبو نعمت او سهولت بالکل نه وو نو د جنګ د شروع کېدو اول قدم دا وو چې يو کس د کفارو له ډلې نه اسود بن الاسود المخزومي چې ډېر بد خويه بد اخلاقه سړی وو را ووتلو او ويل يې چې زما د قسم وي يا به زه د مسلمانانو له حوض نه اوبه څښم او يا به هغه حوض ړنګوم او يا به مړ کېږم هغه د همدې نيت سيره حوض ته روان وو چې په لاره کې حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه ورپسې ورغلو او په پښو يې په توره ووهلو چې پښه يې تر پنډۍ نه شکته ور پرې کړه هغه شا په تخته څملاست او خپلو ملګرو ته يې خپله پښه ور ښکاره کوله او ځان يې بيا هم د حوض لوري ته ور کش کولو د حوض غاړې ته يا د حوض د ننه ته ورسېدو چې د حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه بل وار پرې ور ورسېدو او قتل يې کړو پدې سره د مسلمانانو حوصله نوره هم ډېره زياته لوړه شوه نو .

د جنګ شروع

د اسود بن اسود د قتل سره د جنګ لمبې شروع شوې د کفارو له لوري نه درې کسان چې جنګي تجربې يې لرلې ميدان ته را ووتل عتبة بن ربيعة، شيبة بن ربيعة، وليد بن عتبة بيا عتبة بن ربيعة مسلمانانو ته اواز کړو چې خپل درې پهلوانان راولېږئ د انصارو له مجاهدينو څخه درې کسان را ووتل او د دوی په مقابل کې و درېدل مشرکينو ورته اواز کړو چې ستاسې سره زمونږ څه کار نشته مونږ ته خپل د تره زامن را مخکې کړئ چې زمونږ سيال وي او مونږ ورسره جنګ وکوو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت عبيد بن حارث (د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تره زوی) حضرت حمزه (تره) او حضرت علي (د تره زوی) ور ولېږل پدې کې اختلاف دی چې په دې دريو کسانو کې څوک چا ته په مقابله ورغلل خو د ابو داود د حديث له مخې حضرت علی رضی الله تعالی عنه شيبة ته حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه عتبة ته او حضرت عبيد بن حارث رضی الله تعالی عنه وليد بن عتبة ته په مقابله ورغلل د بل روايت له مخې عبيده د عتبة بن ربيعة سره په جنګ شو او حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه د شيبة سره او حضرت علي رضی الله تعالی عنه د وليد سره په جنګ شو ددوی په مابين کې جنګ شروع شو

تعالی عنه زخمي شو چې بيا يې د مسلمانانو د لښکر تم ځای ته نقل کړو (چې بيا تر صفراء پورې په زخمي حالت کې ورسېدو او مدينې ته په لاره باندې شهيد شو او هماغلته په لاره کې دفن کړل شو)

عمومي يرغل

د مشرکينو ملا تراوسه پورې څکه ماته ښکاره کېږي چې دری مهم او جنګي مشران يې په اول ځل د صفر په مقابل کې له لاسه ورکړل نو يې غصه هم تر حد زياته شوه او په يوه چيغه يې لکه د يو انسان په شکل په مسلمانانو باندې تعرض شروع کړو مسلمانان د دفاع په حالت کې وو او محکم په خپل ځای باندې ولاړ وو او د کفارو د هر ډول حملې ځواب يې په پوره ميړانه سره ورکولو تردې چې جنګ ګرم شو رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله قيام ګاه کې رب ته دعا کوله چې ای الله لما سره دې چې کومه وعده د کمک کړې ده رښتيا يې کړه پدې کې يې سترګې يو څه پټې شوې چې را بيدار شو نو ابو بکر صديق ته يې زيری ورکړو ويل يې زيری درکوم چې ملائکې جنګ ته راغلې ما همدا اوس جبرائيل عليه السلام وليد چې په جنګي سامان باندې پوښلی وو او آس باندې سپور وو رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل ځای نه بېداسې

سَيُهۡزَمُ ٱلۡجَمۡعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴿٤٥﴾

ترجمه : ډېر زر به د کفارو جمع ماتې و خوري او شا به واړوي (وبه تښتي)

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم يو موټی خاورې را واخيستې او د مشرکينو لوري ته يې ور وشيندلې د هر مشرک مخ ، پوزې ، سترګو او خولې ته ترې خاورې ورسېدې ددې په اړه الله تعالی فرمايي:
سورة انفال آية ١٧ .

وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ رَمَيۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ۚ

ترجمه : او هغه وخت چې تا (په يوه موټي خاوره سره) ويشتل وکول هغه تا ونه کول (ستا په وس کې نه وه چې دهغه يو موټي خاورې نه د هر کافر مخ او سترګو ته څه حصه ور ورسوې) بلکه هغه ويشتل الله تعالی وکول (او هغه د هر کافر مخ او سترګو ته ستا د يو موټي خاورې نه څه برخه ور ورسوله) .

بې مثاله قرباني

رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل جنګيالي په جنګ ور تيز کړل او ورته يې وويل چې زما د قسم په هغه ذات وي چې د محمد نفس يې په واک کې دی

صلى الله عليه وسلم خپلو مجاهدينو ته په سخته جګړه کې اواز وکولو (ور پاڅيږئ هغه جنت ته چې عرض يې لکه د زمکې او اسمانونو دومره دی) حضرت عمير ابن الحمام الانصاري وويل بخ بخ (واه واه) عرض يې دومره دی لکه د زمکې او اسمانونو؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې بخ بخ دې ولې وويل ؟ ده وويل چې ځکه مې وويل چې کاش زه د جنت له اهل نه وای رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې ته يې له اهل نه يې او خورمايې را واخيستې يوه يې ترې وخوړه بيا يې وويل چې که زه دومره ژوندی پاتې شم چې دا خورما وخورم نو دا هم ډېر اوږد عمر دی او په جګړه ور ګډ شو تر څو چې شهيد شو . (الله يې دې لوړې درجې نصيب کړي) .

او د مسلمانانو جنګي جذبه هم څه داسې وه چې حضرت عمير ابن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه به د مسلمانو جنګيالو شاته پټېدو خپل مجاهد ورور حضرت سعد ابن ابي وقاص ورڅخه پوښتنه وکوله چې داسې ولې کوې؟ ده ورته وويل چې که رسول الله صلى الله عليه وسلم مې وويني جنګ ته مې نه پرېږدي چې ته لا کشر يې نو چې کله ورباندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سترګې مبارکې ولګېدې نو يې ورته وويل وروسته شه ! چې ده رضی الله تعالی عنه ته کله دا غږ وشو نو هغه په ژړا شو چې

بيا تر هغه وخته پورې جنګېدو چې شهيد شو . (الله يې دې لوړې درجې نصيب کړي) .

ځوابي حمله

په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم زغره آغوستې وه او پخپله په جنګياليو باندې را ګډ شو خپلو جنيګاليو ته يې ويل شدو! (پرې سخت يې کړئ) چې کله مسلمانانو جنګياليو خپل مهربان قائد په خپلو خواوو کې وليد او د هغه مبارک اواز يې واورېد چې ويل يې شدو! نو جنګي جذبه يې لا نوره هم سخته شوه او د بې ساري قربانۍ وړاندې کولو نه چا هم دريغ نه کولو او د کفارو له لوري په شوې حمله باندې يې خپله جوابي حمله ور شروع کړه مجاهدينو ته چې کله د شدو! حکم وشو لکه د بازونو په شان يې په خپل دښمن باندې ور ودانګل او دهغوی نه يې نظم ګډ وډ کړو او لاره يې ترېنه ورکه کړه صفونه يې بې نظمه شول ، قومانده يې خرابه شوه، هېڅوک يې نه پوهېدل چې څه وکوي، مسلمانانو سخته جګړه وکوله او ملائکو يې مرسته وکوله د د حضرت ابن سعد په روايت کې له عکرمه نه روايت دی چې هغه فرمايي چې کله به زه د کوم کافر سره مخامخ شوم ما به وليدلو چې دهغه سر به والوتلو ما به بالکل ونه ليدو چې

شه) كله چې يو مسلمان مجاهد په يو مشرك پسې په سختي سره منډه اخستې وه او نا څاپي يې واورېدل (اقدم حيزوم) چې په خپله مخه كې يې مشرك ته وكتل هغه شا په تخته و غورځېدو او په مخ باندې يې داسې نښه جوړه وه لكه په كمچينه چې وهلى شوى وي يو انصاري صحابي راغلو دا قصه يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وكوله هغه ورته وويل : تا رښتيا وويل دا مرسته د دريم اسمان څخه راغلې وه .

حضرت ابو داود مازني فرمايي چې زه به په كوم مشرك پسې ورتلم مخكې ددې چې هغه ته زما توره ورسيږي دهغه سر به والوتلو زه به پوه شوم چې دا بل چا ووهلو حضرت عباس بن عبد المطلب چې په زور سره جنګ ته راوستل شوى وو هغه يو انصاري صحابي د بندي په توګه را وستلو خو هغه وويل چې زه ده ژوندى ونه نيولم زه يو بل كس چې ډېر ښائسته شكل يې وو او په برګ آس باندې وو هغه ونيولم او هغه كس اوس ماته نه ښكاره كيږي هغه انصاري صحابي وويل نه ! دا ما ونيولو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل : چپ شه الله تعالى لتا سره د ملائكې په واسطه باندې مرسته كړېده .
حضرت على رضى الله تعالى عنه فرمايي مااو حضرت ابو بكر صديق رضي الله تعالى عنه ته رسول الله صلى

ميكائيل او اسرافيل دى هغه هم لتاسې سره په جنګ کې شركت كوي .

له ميدان څخه د شيطان تېښته

شيطان چې د ابو جهل سره د سراقة بن مالک په شكل كې راغلى وو هغه چې وليدل ملائكې په كفارو باندې څه كوي نو يې شا ته تګ شروع كړو حارث ابن هشام چې فكر يې كاوه چې دا سراقه بن مالک دى هغه يې كلک را ونيولو ده هغه ته په سينه كې ګذار وركړو او ځان يې ترې خلاص كړو او له ميدان نه ئې پښې سپكې كړې ابو جهل او نورو مشركينو ورته وويل چې دا څه كوې سراقه ولې لتا نه هېر شول چې تا مونږ ته ويلي وو چې زه به لتا سې سره تر آخره پورې ملګري كوم ؟
ده ورته وويل:
سورة انفال آية ٤٨

إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكُمْ إِنِّىٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ ۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٤٨﴾

ترجمه : زه اوس ستاسې نه بيزار يم ماته هغه څه ښكاره كيږي (ملائكې) چې تاسې ته نه ښكاره كيږي زه د الله نه ډاريږم او الله ډېر سخت عذاب

او ددې خبرې د کولو سره هغه تردې حده پورې و تښتېد چې ځان يې بحر ته ورسولو .

خپلو جنګياليو ته د ابو جهل ډاډګېرنه

ابو جهل غوښتل چې خپل جنګيالي زړور کړي هغه خپلو کسانو ته چيغې وهلې چې د سراقه بن مالک په شا تلل دې تاسې وارخطا نه کړي هغه له مخکې نه د محمد سره قرارداد کړی وو چې هغه به همداسې کوي د عتبة او شيبة مرګ دې تاسې وارخطا نه کړي هغوی په خپلو وتلو سره بيړه وکوله زړور شئ او په مسلمانانو باندې حملې وکوئ دهغوی د وژلو کوښښ مه کوئ موږ به هغه ژوندي نيسو او ټول به اسيران له ځانونو سره بيايو او په سخت ترين عذاب به يې وژنو خو دې خبرو د کفارو جنيګاليو ته ډېره لږه حوصله ورکړه دومره نه وه چې بيا هم د مسلمانانو بازونو مخې ته تينګ شوي وای مسلمانانو په کفارو باندې خپلې حملې لا هم نورې هغه مهال تيزې کړې کله چې د کفارو په قومانده کې ضعف ښکاره شو او په دوی کې ګډ وډي شوه .

د ابو جهل مړه کېدل

حضرت عبد الرحمن ابن عوف رضی الله تعالی عنه فرمايي چې زه د بدر په ورځ په صف کې ولاړ وم چې ښي او چپ طرف ته مې وکتل چې نوي ځوانان مې په خوا کې ولاړ وو ما دهغوی د کمې تجربې او نوي عمر په اړه فکر کول او په زړه کې مې وو چې که په خوا کې مې تکړه ځوانان او قهرمانان وای نو ... چې په دې کې يو رانه پوښتنه وکوله چې ای تره ماته ابو جهل را وښيه ! ما ورته وويل : ورا ره ته هغه څه کوې؟ ده راته وويل چې زه يې ووينم زه به ترېنه بېل نه شم ترڅو مې چې وژلی نه وي زه د هغه جذبې ته حيران شوم او دده سره مې خبرې ختمې کړې نه وې چې د بلې خوا ځوان راته همداسې څه وويل چې لږ وروسته هغه را ښکاره شو ما دوی ته وويل هغه چې تاسې يې لمانه پوښتنه کوله دا هغه کس دی .. دوی دواړه لکه د بازونو په شان پرې ور نازل شول او هغه يې قتل کړو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته چې دوی دواړه راغلل نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ترېنه پوښتنه وکوله چې هغه چا قتل کړو؟ ځوانانو هر يو ورته وويل : ما قتل کړو؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې خپلې تورې خو به مو پاکې کړې نه وي؟ دوی ورته وويل نه .. چې خپلې تورې يې ور ښکاره کړې نو يې ورته

معوذ بن عفراء رضی الله تعالی عنهما وو حضرت ابن اسحاق فرمايي چې معاذ رضی الله تعالی عنه ماته وويل چې زه په ابو جهل پسې ورغلم چې ما پرې اول ګذار وکولو دهغه پښه مې د پنډۍ سره ترېنه بيله کړه مخکې ددې چې زه ورباندې بل ګذار وکوم نو دهغه زوی په ما باندې وار وکولو او زما لاس يې رانه پرې کړو صرف د ما د لاس څرمن پاتې شوه چې زما لاس ورپورې ځړيدو هغه ځړيدلي لاس زه نه پرېښودم چې جنګ وکوم او تکليف کولم يې نو مې ورباندې پښه کېښوده او کش مې کړو له ځان نه مې بېل کړو چې پدې وخت کې معوذ رضی الله تعالی عنه راغلو او په ابو جهل يې حمله وکوله او قتل يې کړو او بيا معوذ رضی الله تعالی عنه تر هغه وخته پورې و جنګېدو چې د شهادت مقام ته ورسېدو (الله يې دې مرتبې لوړې کړي) .

د کفارو په صفونو کې د ماتې ګډېدل

بالآخره هغه وخت راغلو چې د کفارو په جنګيالو کې ماته ګډه شوه او د ميدان پرېښودلو ته اړ شول هغوی په شا باندې منډه کړه او مسلمانانو جنګياليو په هغوی پسې د شا نه منډې وهلې چې يا يې ژوندي ونيسي او يا يې ووژني او تر ډېره حده پورې يې پسې منډې کړې څومره چې کيداى شو بالاخره د جنګ نتيجه دا شوه چې د کفارو له لوري نه اويا کسان ووژل شول او اويا کسان يې ژوندي ونيول شول او نور يې له پوره شرم سره د ميدان نه په تېښته بريالي شول خو د مشرتابه ملا يې ماته شوه او تول مشهور سرداران يې د مردارو په شکل کې په ميدان کې پرېښودل د همدې کاميابې نتيجې په اړه الله تعالی فرمايي سورة آل عمران اية ١٢٣

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ



ترجمه : او په تحقيق سره الله تعالی په بدر کې ستاسې مرسته په داسې حالت کې وکوله چې په ظاهري اسبابو باندې تاسې ډېر کمزوري وئ د الله تعالی نه و ډار شئ ښايي چې تاسې شکر و باسئ

د بدر شهيدان

او د مسلمانانو له لوري نه ١٤ كسان شهيدان شول چې په لاندې لست كې يې نومونه شامل دي تفصيل به يې وروسته راشي .

مهاجرين:

1. عبيدة بن حارث
2. عمير ابن ابي وقاص
3. ذو الشمالين بن عبد عمرو
4. مهجع بن صالح
5. عاقل بن البكير
6. صفوان بن وهب

انصار:

1. سعد بن خيثمة
2. مبشر بن عبدالمنذر
3. يزيد بن الحارث
4. عمير ابن الحمام
5. رافع بن المعلى
6. حارثة بن سراقة
7. معوذ بن الحارث
8. عوف بن الحارث

په شهيدانو كې ١٣ كسان په بدر كې په مقبرة الشهداء (د شهيدانو هديره) كې دفن كړل شول او يو صحابي حضرت عبيدة بن حارث (د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تره زوى) چې بېرته مدينې

زخمي حالت کې وو هغه هماغلته په لاره کې دفن شو .

د جګړې نه وروسته د ابو جهل حال معلومول

کله چې جګړه پای ته ورسېده رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه وو ته وویل چې د ابو جهل احوال به څوک راوړي چې هغه اوس په څه حال کې دی؟ صحابه یې په طلب کې ووتل فقیه عالم صحابي حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه په داسې حالت کې پیدا کړو چې لا د ژوند سلګۍ پکې پاتې وې په غاړه یې ورته پښه کېښوده او تر ږیره یې ونیولو چې سر یې ترېنه پرې کړي په هغه وخت کې یې هم ورته وویل چې سر مې د بدن سره نېږدې پرې کړه چې د سردار سر د نورو سرونو څخه لوړ ښکاره کیږي چې عبد الله ابن مسعود یې په غاړه باندې پښه ور کېښودلې وه ابو جهل ورته وویل چې ډېر په سخت ځای دې پښه اېښې ده شپونکیه (حضرت عبد الله ابن مسعود په مکه کې مال څرولو) بیا یې له ابو جهل نه سر پرې کړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې یې کېښودو چې دا د ابو جهل سر دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چې هغه ولیدو نو یې وویل الله هغه ذات دی چې د هغه نه پغیر بل لائق د عبادت نشته دا یې

وعده رښتيا کړه بيا يې ماته وويل ما وروله هغه اوس چېرته دی چې کله عبد الله ابن مسعود هغه راوستلو او د ابو جهل جسد ته يې ودرولو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل چې دا ددې امت فرعون وو .

د مشرکينو د مړيو خښول

د کفارو د مړيو په اړه فيصله وشوه چې دوی دی په ژور ځای کې ور وغورځول شي او په دې کې يو غرض دا هم وو چې نور ددوی دا بې عزتي او دا شرم هم پای ته ورسيږي او د زمکې مخ به هم ترې پاک شي کله چې امية بن خلف نه يې د هغه زغره ويستله هغه سخت پړسېدلی وو او تر هغه وخته بيا خراب شوی وو نو چې کله يې دهغه ژور ځای لوري ته ور کش کولو نو غوښه يې نه کش کېده بلکه پرې کېدله نو دهغه کوهي نه يې په لږ فاصله کې خاورې وربانديې واړولې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغلو او د همدې ژور ځای (چې د کفارو جسدونه يې پکې اچولي وو) سرته و دريد او ويې فرمايل چې ای فلانيه، ای فلانيه .. د هغوی د مشرانو نومونه يې واخستل .. لما سره چې الله کومه وعده کړې وه هغه يې ماته راکړل آيا هغه څه تاسې ته در ورسېدل چې لتاسې سره يې وعده شوی وه؟ آيا تاسې اوس دا ارمان نه کوئ

ورته ويل چی ای پيغمبره دا ته څه کوې ته د مړيو سره داسې خبرې کوې لکه د ژونديو سره؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته و فرمايل چې هغوی لتاسې نه ښه آوري لکن هغه صرف ماته ځواب نشي راکولی .

مکې ته د کفارو د ماتې خبر رسېدل

د جنګ له ميدان څنې پاتې ژوندي کفار په غير منظمه توګه مکې ته روان شول په دښتو او غرونو کې روان وو او دوی هم نه پوهېدل چې د شرم نه به څنګه مکې ته داخليږي په اولو داخلېدونکو کې الحيسمان بن عبد الله الخزاعي وو خلکو ورنه پوښتنه وکوله چې څه حال وو ده ورته وويل چې عتبة بن ربيعة ووژل شو، شيبة بن ربيعة ووژل شو ، وليد بن عتبة ووژل شو، عمرو ابن هشام ابو الحکم (ابو جهل) ووژل شو، امية بن خلف ووژل شو او څه نور مشران يې ورته ياد کړل صفوان ورته وويل چې ماته نه ښکاره کيږي چې دده عقل دې کار کوي دا لکه چې په ځان نه پوهيږي چې دا څه وائي زما په اړه ترې پوښتنه وکوئ چې څه وايي؟ خلکو ورته وويل چې صفوان بن امية څه وکول؟ ويل هغه خو دادی ناست دی خو ما دده ورور او پلار وليدل چې ووژل شول .

کړي او هېڅوک به پدې اړه وير نه کوي لکن بيا هم داسې کورنۍ وې چې له يوې کورنۍ نه دوه او درى کسان وژل شوي وو څنګه يې کولاى شول چې ژړا ونه کوي .

د اسود بن المطلب درى زامن وژل شوي وو ده غوښتل چې پرې وژاړي لکن ددې قانون د سزا نه ويرېدو د ژړا اواز يې تر غوږ کېدو په نظر باندې کمزورى وو خپل يو غلام ته يې وويل چې ځه ته لاړ شه وګوره چې څوک خو ژاړي نه ؟ که څوک په خپلو مړيو پسې ژاړي نو زه به هم وژاړم زړه مې سم ډک دى او دننه سوزيږم خپل زوى ابو حکيمه راته ډېر زيات ياديږي چې هغه لاړو بېرته راغلو ويل يې يوه ښځه ده په خپل ورک شوي اوښ پسې ژاړي چې دا خبر يې واورېده خپل ځان يې له اختيار نه ووتلو ژړل ئې او يو څو شعرونه يې وويل چې څه داسې خبرې پکې وې چې هغه په ورک شوي اوښ پسې ژاړي او په بدر کې په خاورو شويو ځوانانو او زمريانو پسې نه ژاړي .

مدينې منورې ته د فتح زيرى راتلل

کله چې فتح د مسلمانو په لاس شوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د مدينې منورې پورتنۍ برخې ته حضرت عبد الله بن رواحة او ښکتنۍ برخې ته حضرت زيد بن حارثه د زيري سره را ولېږل او دا داسې وخت وو چې په مدينه منوره کې يهودو او منافقينو د درواغو خبرونه خپاره کړي وو او ددې اوازه يې هم خپره کړې وه چې خداى مه کړه رسول الله صلى الله عليه وسلم شهيد شوى دى او چې کله يې زيد بن حارثه رضى الله تعالى عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوښه قصواء باندې سپور وليدو نو دوى وويل چې دا اوښه مونږ پېژنو دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم ده نو چې زيد بن حارثه رضى الله تعالى عنهورباندې سپور دى نو ددې معنى داده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم شهيد شوى دى خو چې دواړه زيرى ورکونکي مدينې منورې ته را ورسېدل مسلمانان ترې را ټول شول چې ددوى نه واوري چې څه شوي دي نو چې کله يې ټولې قصې ورته وکړې او د فتح زيرى يې ورکړو د مدينې منورې ټوله فضاء د خوشحالۍ نه خنديده او د تکبير او تهليل اوازونه پورته کېدل او د الله تعالى په دربار کې شکريې وړاندې کېدلې هغه مسلمانان چې په مدينه منوره کې پاتې وو د بدر لاړو ته را ووتل ليدواله وو چې رسول الله صلى الله

مدينې منورې ته د فاتحينو جنګياليو راګرځېدل

په بدر کې د جنګ نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د دريو ورځو لپاره پاتې شو چې خپله کاميابي يقيني کړي او کفارو ته ښکاره کړي چې زمونږ اوس هم په تللو کې بيړه نه ده که اوس هم څوک د مقابلې توان په ځان کې ويني مونږ لا په ميدان کې پاتې يو د غنيمتونو په اړه د صحابه وو په مينځ کې څه تاو تريخوالی راغلی وو هغه داسې چې يوه ډله صحابه هغه وو چې دښمن يې پسې اخستی وو او هغه يې ښه پسې تر ميدان لرې کړي وو او بله ډله هغه وه چې د جنګ د پای ته رسېدو نه وروسته يې غنيمتونه را ټول کړي وو او همدلته په ميدان کې پاتې شوو وو بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړو چې ټول دې دلته را ټول شي دهغه نه وروسته قراني حکم نازل شو چې هغه مشکل يې حل کړو هغه قراني حکم داسې وو:

سورة انفال آية ١

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ فَٱتَّقُواْ

ٱللَّهَ وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم

ترجمه : دوی له تا نه پوښتنه کوي د غنيمتونو په اړه نو ورته ووايه چې غنيمتونه (راټول کړئ) د الله او دهغه د رسول دي د الله نه و ډار شئ او په خپلو مينځونو کې صلح را ولئ د الله او دهغه د رسول اطاعت وکوئ که تاسې په حقه مومنان یاست .

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه غنيمتونه ټول سره يو ځای کړل او په شريکه سره د دريو شپو د تېرولو نه وروسته د مديني په لوري روان شول او جنګي بنديان ۷۰ کسان هم ورسره وو چې يوې غونډۍ ته د مضيق او نازيه په مينځ کې ورسېدل هلته يې دمه وکوله او له غنيمت نه يې پنځمه برخه واخيسته پاتې نور يې په سمه توګه په مسلمانانو باندې تقسيم کړو کله چې الصفراء نومي ځای ته ورسېدو نو يې د النضر بن الحارث چې جنګي قيدي وو په وژلو باندې امر وکولو حضرت على رضى الله تعالى عنه يې سر ترې پرې کړو .

او چې کله عرق الظبية ته ورسېدل نو د بل قيدي عقبه بن ابي معيط په وژلو يې هم امر وکولو دا هغه کس وو چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم په مانځه کې وو ده وربانديې ګندګي اچولې وه او همدا هغه کس وو چې يو ځل يې د رسول الله

دي) او د بدر په غزوه کې يې هم د مسلمانانو په خلاف ډېر جنګ وکولو او کله چې دده په قتل باندې امر وشو انصاري صحابي حضرت عاصم ابن ثابت رضی الله تعالی عنه او په يو روايت کې حضرت علي رضی الله تعالی عنه يې سر قلم کړو .
دا دواړه هغه کسان وو چې ددوی معاف کول ممکن نه وو دا دواړه بنديان نه بلکه جنګي مجرمان وو ځکه قتل کړل شول .

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د مبارکي پيغامونه

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته په لاره باندې الروحاء نومي ځای ته ورسېدو نو مسلمانان له مدينې منورې نه راغلي هلته دده په انتظار وو او دوی ته يې مبارکي ويله او په فتح باندې يې ورسره خپله خوشحالي ښکاره کوله حضرت سلمه بن سلامة ورته وويل چې د څه شي مبارکي راکوئ مونږ د داسې چا سره مخامخ شوو لکه تړلي اوښان صرف حلالول مو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته مسکی شو او ورته يې وويل وراره دوی مشران دي .

حضرت اسيد بن حضير ورته وويل ای د الله پيغمبره حمد ثنا ده هغه ذات لره چې ته يې کامياب کړې

تاسې به د قريشو د قافلې سره مخامخ كيږي ما دا فكر نه كاوه چې تاسې به د جنګ سره مخ كېږي كه زه پوه وى نو خامخا زه هم درسره تلم رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل : هو تا رشتيا وويل .

رسول الله صلى الله عليه وسلم د كاميابي سره مديني منوري ته را ننوت او هر دښمن به ترېنه ډارېدو ډېرو كسانو ددينه وروسته اسلام قبول كړو او عبد الله بن ابى او دهغه ملګري (منافقين) هم په ظاهر سره په اسلام كې داخل شول .

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې كله مدينې منوري ته را ورسېدو نو بنديان يې د ساتنې لپاره په اصحابو باندې تقسيم كړل چې دوى به يې ساتنه او پالنه كوي .

د بنديانو سره معامله

هغه كسان چې ژوندي نيول شوي وو په هغو كى دوه كسان چې د مسلمانانو لپاره ډېر خطرناك وو او هغوى د اسلام په خلاف داسې جرمونه كړي وو چې د چا هم له زړه نشواى وتلى هغوى دواړه قتل كړل شول يو نضر بن حارث او بل عقبه بن ابي معيط قصه يې مخكې تېره شوه او د نورو بنديانو په اړه چې په هغو بنديانو كې د مختلفو صحابه وو خپلوان راغلي وو لكه د حضرت حمزه رضي الله

الله عنه ورور عقیل وو پکې او داسې نور نو ددوی په اړه مشورې کول شروع شول چې ددې قیدانو سره باید څه وشي اول رایه د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه نه واخستل شوه هغه و فرمایل چې ای رسول الله همدا زمونږ د خپلې قبیلې خلک دي ددوی نه به فدیه واخلو هغه فدیه به مونږ په جهادي مصارفو کې مصرف کړو او کېدای شي الله تعالی دوی ته هدایت نصیب کړي همدا خلک به زمونږ مټ او بازو شي .

د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه چې رایه واخستل شوه نو هغه وویل چې زما کوم خپلوان دي هغه ماته حواله کړه او عقیل یې خپل ورور حضرت علي اود حمزه ورور یې حمزه ته حواله کړه چې هرڅوک خپل خپلوان په خپله قتل کړي پدې سره به مونږ د الله په دربار کې دا خبره ثابته کړو چې له مشرکینو سره زمونږ هیڅ ډول همدردي نشته او که زمونږ هرڅوک وي او په هره مرتبه کې وي مونږ د الله تعالی لپاره هغه پرېښودلی او قتل کولی شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه رایه خوښه کړه او د هر بندي په سر یې ٤٠٠٠ درهمه مقرر کړل چې سبا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه راغی نو یې ولیدل چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابو بکر

کړئ که چېرته ماته پرې ژړا راغله نو زه به هم وژاړم او که ماته پرې ژړا را نغله نو ستاسې د ژړا لپاره به هم وژاړم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل چې د بنديانو څخه د فديې اخستنې له امله عذاب دومره رانېږدې شوی وو لکه دا ونه (نېږدې يوې ونې ته يې اشاره وکوله) الله تعالی آيتونه نازل کړل:
سورة انفال آية ٦٧ -٦٨ .

تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْآخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ لَّوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾

ترجمه : (ای مسلمانانو) تاسې د دنيا مال غواړئ او الله تعالی آخرت غواړي الله غالب او دحکمت خاوند دی که چېرته حکم د الله تعالی مخکې تېر شوی نه وای نو تاسې ته به لوی عذاب رسېدلی وو پدې مسئله کې .

خو اوس فيصله په همدې فديه باندې وشوه لکن په بنديانو کې چې کوم خلک ډېر غريبان وو د هغوی

او دوی به له فديې نه معاف وي د ځينو سره د مختلفو مصلحتونو له مخې احسانونه وشول او بغير د فديې نه پرېښودل شول لکه مطلب بن حنطب، صفي بن ابي رفاعه ، ابو عزه حجمي په دوی کې ځينو د احسان بدل پدې سره وکړو چې الله تعالی هدايت ورته وکړو او مسلمان شول او ابو عزه چې د احسان د بدل په ورکولو نه پوهېدو له مخکې نه يې د اسلام په عداوت کې يو قدم وړاندې کېښودل هغه په احد کې د خپل عمل په سزا ورسېدو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زوم ابو العاص بن حارث د را خلاصولو لپاره حضرت زينب هغه آمېل ور ولېږلو چې حضرت خديجې بي بي دېته ورکړی وو او دا اوس بېرته رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د هغه د زوم د فديې لپاره راغلو چې رسول الله وليدو نو د خپلې لور په حالت ډېر زيات خواشينی شو صحابه وو ته يې وويل که ستاسې خوښه ووي د زينب لپاره به ددې زيور ور ولېږو او دا خاوند به يې مفت ور خلاص کړو نو صحابه وو هم ورته وويل چې په دواړو سترګو نو هغه يې مفت پرېښود خو يې ورته وويل چې زينب به دومره زر را لېږې چې څنګه ته ورسيږې دی چې مکې ته لاړو نو خپل ورور کنانة ته يې وويل چې زينب ور وله ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وعده کړې ده خو هغه چې زينب بي بي د مدينې په لوري روانه کړه نو د مکې خلک ورته

له مونږ نه جوړه ځي؟ دا مونږ نه پرېږدو او که په مکه کې پاتې کيږي نو مونږ ستاسې له امله ورته څه نه وايو د ابو العاص ورور خپل غيشي را وويستو ويل که څوک تکړه وي نو زينب ته دې را نېږدې شي نو پدې کسانو کې څه مشران کسان ورته ور وړاندې شول ويل گوره دا زمونږ د مکې د ټولو خلکو لپاره شرم دی اوس و گرځئ بيا په تياره کې لاړ شئ زمونږ درته اجازه ده نو دا خبره دده هم خوښه شوه بيا و گرځېدل او د شپې بل وخت روان شول او عقيل بيا هم تر څه وخته کافر پاتې شو وروسته بيا په اسلام مشرف شو او مدينې ته لاړو هغه قصه زمونږ په کتاب (د اسلامي تاريخ له پانو څخه ٢) کې په تفصيل راغلې ده .

بيا به د مکې نه هرڅوک راتلل او د خپلو خپلوانو لپاره به يې ٤٠٠٠ درهمه ورکول او هغه به يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له قيد نه خلاصولو پدې بنديانو کې يو وليد بن وليد بن مغيره وو دده د خلاصولو لپاره يې دوه ورونه راغلل او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې ٤٠٠٠ درهمه ورکړل او دی يې راخلاص کړو چې کله خلاص شو نو اسلام يې قبول کړو چا ترې پوښتنه وکوله چې مخکې دې ولې خپل اسلام نه ښکاره کولو (چې کله په قيد کې وې) ده ورته وويل چې زه ډارېدم

ونه کولو نو چې کله يې مکې ته بوتلو نو هلته ئې سخت بندي کړو او په ډېر تکليف کې وو رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هغه د خلاصون لپاره دعا قنوت ويله بيا الله ورته لاره پيدا کړه و تښتېدو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه وو سره ملګرى شو .

يو له بنديانو څني ابو عزة عمرو ابن عبدالله الجحمي وو دا د لورانو پلار وو او هېڅ وس يې نه وو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وويل چې تاته خو معلومه ده چې ٤٠٠٠ درهمه زه نشم ورکولى او هېڅ شى نه لرم لما سره احسان وکوه او ما پرېږده نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مفت پرېښودو .

په جنګي بنديانو کې يو مشهور او غښتلى خطيب سهيل ابن عمرو هم موجود وو چې په خطابت کې يې ښه تجربه او ښکلې ژبه درلوده لکن له بده مرغه يې خپله ټوله قوه او ملکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه په بدو ويلو باندې مصرف کوله او دده ددې خبرو نه او دده د بيانونو څخه مسلمانان ډېر زيات تنګ شوي وو نو کله چې د بندي په شکل کې تړلى راغلو نو د مسلمانانو خواهش وو چې ده ته دې سخته سزا ورکړل شي په هغه کسانو کې چې د سهيل ابن عمرو لپاره يې

چې که د سهيل مخکني دوه غاښونه وويستل شي نو بيا به هغه ونه توانيږي چې لکه د مخکې په څېر د اسلام او ستاسې خلاف تقريرونه او بيانونه وکوي د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه مطلب دا وو چې د خلاصونه نه وروسته بايد سهيل د مسلمانانو لپاره دومره ضررناک نه شي لکه څومره چې مخکې وو لکن رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د رحمت نمونه وه هغه وويل چې دا خو مثله ده يعنې د الله تعالی د جوړ شوي صورت خرابول دي او په اسلام کې دا ناروا ده حتی چې اسلام د مړيو د شکل د خرابولو نه هم منع کړيده .

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې مونږ ده ته هره سزا ورکولی شو لکن دده مثله نشو کولی .

په قيديانو کې چې کله د عباس معامله راغله نو صحابه وو غوښتل چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سترګو دې هغه ته فديه معاف شي لکن رسول الله صلی الله عليه وسلم د ټولو خلکو په مينځ کې د مساوات ښکاره کولو له امله ددېنه انکار وکولو او هغه يې نه يوازې دا چې له فديې نه معاف کړو بلکه د عباس د مالدار کېدو له امله يې له هغه نه د هغه د مالداري مطابق فديه واخيستله سره ددې چې عباس د رسول الله صلی الله عليه وسلم سکه تره وو چې يووخت يې هغه په سختو

شو او صحاپه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره نېږدي خلک وو دا نا قراري له دوی نه پټه نه شوه دهغه زنځير يې نرم کړو نو چې کله هغه په قرار شو رسول الله صلى الله عليه وسلم هم په قرار شو خو ددې سره يې بيا هم د فديې نه معاف نه کړو .

مختلف واقعات

د ګرمې جګړې په وخت کې حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمايي ما را منډه کړه چې وګورم رسول الله صلی الله عليه وسلم په څه حال کې دی ما وليدل چې هغه په سجده پروت وو او ويل يې يا حی يا قوم ، يا حی يا قيوم بيا ځنې لاړم او په جګړه کې بوخت شوم ډېر ځنډ وروسته چې ورته راغلم ومې کتلو هغه په هماغه حالت کې په سجده باندې پروت وو او ويل يې چې يا حی يا قيوم بيا ترې لاړم او چې ډېر وخت وروسته ورته راغلم هغه بيا هم په همداسې حالت کې وو .

حضرت عبد الرحمن ابن عوف رضی الله عنه فرمايي چې په مکه کې زما او د اميه په مينځ کې دوستي وه چې په بدر کې مې په داسې وخت کې وليد چې دی او زوی يې دواړه يو ځای وو او زما سره زغرې وې را پورته کړې مې وي په داسې وخت کې چې نور د ژوندي پاتې کسانو د اسير کېدو وخت وو او دوی له ځان نه دفاع نشوای کولی راته ئې وويل زما په اړه دې څه دلچسپي شته کېدای شي زه تاته له زغرو نه غوره وم ؟ ما ورته وويل هو نو بيا مې زغرې هماغلته پرېښودې او تر يو لاس مې دی را ونيوله او له بله لاسه مې د هغه

به دوی بلال ته ډېر عذابونه ورکول نو اوس بلال چيغه کړه چې دا دی د کفر سر امية او بيا ئې په زوره اواز کړو چې ای انصارو دا دی د کفر سر امية پدې کې جنيګالي وربانديې را غونډ شول ما کوښش کولو چې دده نه دفاع وکوم چې د شا له خوا يوه توره راغله او دده زوی ووژل شو ده يوه په زوره چغه وکړه او له هرې خوا پرې صحابه را ټول شول او قتل يې کړو (صحيح بخاري)

حضرت عبد الله ا بن عباس رضی الله تعالی عنهما روايت کوي چې د غفار قبيلي يو کس ماته وويل چې زه او زما يو د تره زوی (چې په دې وخت کې دواړه مشرکان وو) د يوه غره خوا ته لاړو چې له هغه ځای نه د بدر د جګړې ځای ښکاره کېدو چې وګورو چې په بدر کې برياليتوب د چا په برخه کې کيږي چې وريځ راغله او په هغې کې د آسونو شور آوريدل کېدو او مونږ واوريدل چې اواز وشو (اقدم حيزوم) يعني حيزومه وړاندې شه .. ددې غږ په آوريدو سره زما د تره زوی ځای په ځای مړ شو او زه ما زړه هم نيږدې سکته کړې وه .

د ابو داود مازني رضی الله تعالی عنه نه روايت شوی دی چې هغه فرمايل د بدر په ورځ به زه کله د يو چا وژلو ته ور وړاندې شوم مخکې ددې چا

د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره يوه څپره جوړه کړل شوې وه په هغې کې په سجده باندې پروت وو او د جنګ ټول وخت يې په سجده کې هم تېر نه کړو او نه ئې خپل ټول وخت په دعا کې تېر کړو بلکه د حضرت امام احمد د روايت له مخې يې پخپله هم په جنګ کې برخه واخسته او پخپله هم د جنګياليو په صف کې و جنګېدو د ابن کثير د روايت له مخې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه به دعا ګانې هم کولې او کله به بيا جنګ ته را ګډ شول او صحابه به يې په جنګ باندې ور تېزول.

په غزوة بدر کې يوه لويه خبره دا وه چې د کفارو په زړونو کې ويره غورځېدلې وه او رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې کله هم کومې غزا ته وړاندې کېدو نو دهغه د دښمن په زړه کې به ويره وه او دا هغه رعب وو چې الله تعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورکړی وو پدې اړه حضرت جابر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايل ماته الله تعالی پنځه شيان راکړي دي چې لما نه وړاندې يې چاته نه وو ورکړي

١. ماته يې رعب راکړی په اندازه د يوې

۲. زمکه تولــه زما لپاره پاکه شوېده هرچرته مونږ کولی شو مونځ وکوو(په مخکنيو امتونو کې صرف په جومات کې عبادت کېدو).

۳. د غنيمتونو د مال خوراک ماته روا شوی دی په مخکې امتونو کې ددې خوراک نه وو روا.

٤. ماته به په آخرت کې د شفاعت اجازه وي.

٥. مخکني پيغمبران به د خاصې ساحې او خاصې علاقې لپاره پيغمبر کېدو زه د ټولې دنيا لپاره رالېږل شوی يم.

او په يوه جګړه کې رعب يعني د دښمن په زړه کې وېره داسې سلاح ده چې انسان يې پخپله لاس ته نشي راوړلی الله تعالی فرمايي:

سورة آل عمران آية ١٥١.

سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعْبَ بِمَآ أَشْرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ۖ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥١﴾

ترجمه: او مونږ په د هغه کسانو په زړونو کې رعب ور واچوو چې هغوی کافران دي دا ځکه چې دوی د الله تعالی سره هغه څيزونه شريک ګرځولي دي چې هېڅ دليل وربانديې نشته او ددوی ځای د

يو وخت کې د يهودو په اړه الله تعالى فرمايي سورة حشر آية ۲.

وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ ۚ يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ۝٢

ترجمه : او الله تعالى ددوی په زړونو کې ويره ور واچوله خپل کورونه يې پخپلو لاسونو ورانول او د مسلمانانو په لاسونو تاسې عبرت واخلئ ای د عقل خاوندانو .

غزوة بدر د فيصلې ميدان

هغه ځای وو چې پکې دا فيصله وشوه چې ددېنه وروسته به په زمکه باندې عبادت وي او که به ختم شي څرنګه چې د اسلامي لښکرو مهربان قائد پدې خبره پوه وو نو ځکه يې الله تعالى ته خپل د اميد او دعا لاسونه پورته کړل او په پوره عاجزي سره يې دعا کوله ای الله هغه چې لما سره دې وعده کړې ده هغه راکړه ای الله زما سره دې چې کړيده هغه وعده پوره کړه ای الله که دا د مسلمانانو ډله دې نن هلاکه کړه بيا به څوک پاتې نشي چې په زمکه باندې عبادت وکوي او

لوري نه ورته زيرى راغلو چې كاميابي هم ستا په اړخ كې ده .

غزوة بدر د جهاد پيل

د بدر غزا هغه واقعه وه چې د همدې ځاى نه د الله په لاره كې د جنګونو سلسله شروع شوه او په اوله شروع كې يې الله تعالى كاميابي د مسلمانانو په لوري كړه د ټول عمر لپاره د مسلمانانو لپاره يو د خوشحالۍ خبر دى او ددېنه وروسته چې په تاريخ كې څومره جنګونه د الله تعالى د رضا لپاره كيږي د غزوة بدر سره يې يو قسم تعلق او تړون شته ځكه چې د همدې واقعې پر مهال الله تعالى داسې احكام راليږلي دي چې تر قيامت پورې به د مجاهدينو لار ښونه كوي .

غزوة بدر د لوړ مقام لرونكي مبارزه

غزوة بدر د ټولو هغه جنګونو چې د الله تعالى د رضا لپاره كيږي بېل مقام او شرف لري او ددې لپاره څو وجې دي .

۱. دا لمړۍ غزا وه چې د اسلام په اظهار او ښكاره كېدنې كې يې ډېر مهم رول درلود او د اسلام د خپرېدنې په لړۍ كې د شروع د ټكي مثال لري .

بېل کړل چې باطل که هر څو لوی شي او که هرڅو زيات شي لکن د رښتوني حق مقابله نشي کولی او له بلې خوا يې ښکاره کړه چې حق او باطل کله هم يو د بل سره نه خپليږي نو ځکه په بدر کې زوی او پلار، ورور او ورور او داسې نور نېږدي خپلوان سره وجنګېدل .

غزوة بدر په انسانانو کې تصور پيدا کړو چې مدار د کاميابي د قوت او وسائلو او جنګيالو زيات والی نه دی بلکه مدار د کاميابي د الله تعالی سره تړون دی او دا چې څوک د الله تعالی سره څومره نېږدې وي کاميابي به په هماغه اندازه دده سره تړلې وي .

پداسې وخت کې چې قريشو فکر کاوه چې نن به په زمکه باندې د اسلام آخري ورځ وي لکن هغه الله تعالی په خپل حفاظت سره وساتلو او له مخکې نه يې نور هم پياوړی کړو نو د بدر غزوه داسې حيثيت لري لکه پدې ورځ چې اسلام له سر نه په نوي پيدائښت سره پيدا شوی وي .

غزوة بدر د زمکې په مخ باندې د جهل ملا ماتيدل وو چې په ظاهر کې يې دوی د ټولو مشرانو څخه او مينه والو څخه محروم کړل او په زړونو کې يې د حوصلې او جذبې نه محروم کړل او کله چې

مونږ بايد وګرځو اوس خو د محمد سره د جګړې کولو هيڅ ضرورت پاتې نه شو ده وويل چې زما د قسم وي په لات او عزى باندې چې څو مو په بدر کې درى شپې نه وي کړي بېرته نه ګرځو نو هلته به په درى شپو کې دوى څه کوي؟ خوراکونه به کوي، ښځې به ګډوي ، ميلې به کوي او عربو ته او ټولو خلکو ته به زور ښکاره کوي چې دوى له چا څخه نه ډارېږي او ددېنه وروسته به نه محمد او نه بل څوک مونږ ته پورته و ګوري پدې اړه الله تعالى فرمايي سورة انفال آية ٤٧-٤٨

وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾ وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَعْمَـٰلَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلْيَوْمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّى جَارٌ لَّكُمْ ۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ

مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٤٨﴾

ترجمه : او تاسې مه کيږئ په څېر دهغه کسانو چې د خپلو کورونو څخه را ووتل په سرکشي او په ځان ښودلو سره خلکو ته او دوی منع کوي د الله له لارې نه او الله په هغه څه باندې چې دوی يې کوي ښه احاطه کونکی دی او په هغه وخت کې چې شطان دوی ته ددوی عملونه ښائسته کړل او دوی ته يې وويل چې نن په تاسو باندې هېڅوک غلبه کونکي خلک نشته نو هرکله چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې شيطان په شا باندې روان شو او ويې ويل چې زه ستاسې نه بېزار يم ماته هغه څه ښکاره کيږي چې تاسې ته نه ښکاره کيږي زه د الله د عذاب نه ډاريږم الله تعالی ډېر سخت عذاب ورکونکی دی .

غزوة بدر يو درس او عبرت

غزوة بدر د شروع نه تر آخره پورې يو ژوندی درس دی داسې درس نه دی چې ليکلی دی او بايد ولوستل شي نه تقرير دی چې واورېدل شي او نه

په رښتوني ډول خپل ځان الله ته نېږدې کړي نو د الله تعالی مرسته ده ته نېږدې ده او هرڅوک چې په پاکه عقیده سره د الله تعالی د رضا لپاره را پورته شي الله تعالی یې داسې مرسته کوي چې ټول کار به الله تعالی ورته کوي:

سورة انفال آیة ١٧

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِىَ ٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾

ترجمه: پس دوی تاسې مړه نه کړل بلکه الله تعالی مړه کړل او هغه وخت چې تا (په یوه موټي خاوره سره) ویشتل وکول هغه تا ونه کول (ستا په وس کې نه وه چې دهغه یو موټي خاورې نه د هر کافر مخ او سترګو ته څه حصه ور ورسوې) بلکه هغه ویشتل الله تعالی وکول (او هغه د هر کافر مخ او سترګو ته ستا د یو موټي خاورې نه څه برخه ور ورسوله) .

غزوة بدر یو ژوندی ځواب

کافرې ډلې سره مقابله راشي نو سوال پيدا کيږي چې څنګه به دا مقابله کيږي؟ څنګه به د کاميابۍ طمع کيږي؟ نو ددې ټولو خبرو ځواب د بدر غزوه ده لکه چې الله تعالی فرمايي:

سروة انفال آية ٥-٦

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ٦

ترجمه : لکه څرنګه چې را وويستلې ته ستا رب ستا له کور نه په حقه سره او بې شکه ځينې مسلمانان خوښ نه وو دوی لتا سره جګړه کوله په سمه خبره کې وروسته ددېنه چې ښکاره شوه لکه دوی چې د مرګ طرف ته ور شړل کيږي او دوی ورته ګوري .

غزوة بدر يو سبق

په غزوه بدر کې الله تعالی مسلمانانو مجاهدينو ته د کاميابي حاصلولو طريقې ور وښودې او دا دهغوی لپاره يو سبق وو او دهغوی تربيه يې وکوله او پدې اړه يې پوره سورة انفال ورته نازل کړو چې مختلف اړخونه لري هم پکې هدايات دي هم پکې د کمک وعدې دي او هم پکې مهمو واقعو ته اشاره ده او داسې نور ... او په همدې غزوه کې مسلمانانو دا هم زده کړل چې د

په غزوة بدر کې مسلمانانو ته دری نعمتونه

په غزوة بدر کې الله تعالی مسلمانانو ته دری لوی نعمتونه ورکړل يو ښه خوب وو چې د اطمنان نښه ده داسې صحابه هم وو چې د جنګ په وخت کې به يې توره له لاسه وغورځېده بيا به يې را پورته کړه ، بل باران وو چې د بدر له غزوې نه مخکې وشو او د مسلمانانو لپاره رحمت او د کفارو لپاره بد ترين زحمت وو او بل ملائکې وې چې راغلې وي او په ميدان کې له مسلمانانو سره ملګرې وې قصې يې مخکې تېرې شوې .

غزوة بدر د مسلمان قائد لپاره درس

غزوة بدر تر قيامته پورې د مسلمان قائد لپاره درس دی چې کله هم حالات له مخکې نه بدليږي ددې لپاره چې د نوي حالت په اړه بايد څه وکوي نو قائد بايد له خپلو ملګرو سره مشوره وکوي او دهغوی رايه واوري لکه کله چې د صحابه وو نه قافله تېره شوه او ددوی اوس د قافلې په ځای د جنګياليو سره مخامخ کېدل شول نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه وو سره مشوره وکوله او د هغوی رايه يې په غوره سره واورېده او بيا يې په هغه رايه باندې عمل وکولو چې کومه د اکثرو ملګرو وه .

په غزوة بدر کې لویه قوه

دا چې مسلمانانو کامیابي تر لاسه کړه نو ددوی سره په ظاهري اسبابو کې څه هم داسې نه وو چې دهغه وخت خلکو یا تر قیامته پورې چې څوک دا واقعه مطالعه کوي چې ددې کامیابي لامل یې وګڼي ځکه ددې کامیابي لامل په سترګو نه ښکاره کېدونکی نعمت وو چې هغه ایمان دی همدا هغه شی وو چې د مدني لښکر ۳۱۳ کسان یې د کفارو د لوی لښکر مخې ته وروسته ددې ودرول چې هغوی په ټولو جنګي اسبابو باندې مجهز وو او د مسلمانانو د دوو آسونو په مقابل کې هغوی ۱۰۰ آسونه لرل او داسې نورې ډېرې ظاهري برتریانې وې چې د مکې کفارو د ځان سره راوړې وې دا ټول او هرڅه یوې خواته کېښودل شول او هغه ایمان چې د مسلمانانو مجاهدینو په زړونو کې وو هغه ددې لامل شو چې کفارو ماتې و خوړه او یو عیني شاهد چې ژوندی لاړو په مکه کې ئې ابي لهب ته قصه کوله ورته ویل تره په تا باندې دې بده ونه لګیږي مونږ چې د هغوی سره مخامخ شوو نو خپلې غاړې مو هغوی ته ونیولې څنګه یې چې خوښه وه داسې یې وهلو او څنګه یې چې خوښه وه داسې یې وژلو مونږ دهغوی سره څه هم نشو ای کولی او پدې ځای کې د الله تعالی دا مبارک آیت رښتیا شوی چې الله تعالی فرمایي :

سورة انفال آية ١٧-١٨

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ ٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ إِنَّ
ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾ ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ



ترجمه : پس دوی تاسې مړه نه کړل بلکه الله تعالی مړه کړل او هغه وخت چې تا (په یوه موټي خاوره سره) ویشتل وکول هغه تا ونه کول (ستا په وس کې نه وه چې دهغه یو موټي خاورې نه د هر کافر مخ او سترګو ته څه حصه ور ورسوې) بلکه هغه ویشتل الله تعالی وکول (او هغه د هر کافر مخ او سترګو ته ستا د یو موټي خاورې نه څه برخه ور ورسوله) ددې لپاره چې مومنانو ته له خپله لوري نه ښه ورکړه وکړي الله تعالی بهترین آوریدونکی او عالم دی او پدې خبره باندې تاسې پوه شئ چې الله د کافرانو چل لره ډېر سست کونکی دی .

په کوم ځای کې چې الله تعالی مونږ ته امر کوي چې ځانونه جنګ ته تیار کړئ هلته هم تر ظاهري

ځای کې کفار د مسلمانانو د هغه وسلې څخه نه ډاريږي چې ددوی په لا سونو کې وي بلکه له هغه باطني اسلحې څخه خطر محسوس کوي چې ددوی په زړونو کې وي نو که هغه سلاح چې د مسلمان مجاهد سره په زړه کې وي چې ايمان دی که هغه کمزوري وي نو ظاهري سلاح چې څومره زوروره وي کفار دهغې څخه نه ډاريږي او نه مسلمانان بريالېتوب تر لاسه کولی شي ځکه چې بيا به د الله تعالی نصرت ورسره نه وي لکه الله تعالی چې فرمايي سورة آل عمران اية ١٦٠

إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ



ترجمه : که چېرته الله ستاسې مرسته وکوي نو څوک هم په تاسې باندې نشي غالب کېدلی او که چېرته هغه تاسې ښکته کړي نو بيا به څوک ستاسې مرسته کوي دهغه نه وروسته او په الله باندې د مومنان توکل وکړي .

د بدر په غزوهٔ کې د کاميابي بل لوی سبب وروسته د کلک ايمان نه د مسلمانانو په مينځ کې ټينګه وروري او ښه تعلق وو او دا په لاس نه جوړيږي دا هم د الله تعالی له لوري نه يو نعمت وو چې په مسلمانانو يې پيروز کړی وو ځکه خو الله تعالی هم فرمايي:

سورة انفال ٦٣

وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْۚ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مَّآ أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾

ترجمه : او الله ددې مومنانو په زړونو کې مینه ور اچولې ده که ته ټول هغه څه چې په زمکه کې دي مصرف کړې ته په خپل لاس ددوی په زړونو کې مینه نشې ور اچولی لکن الله ددوی په مینځ کې مینه ور اچولې ده الله تعالی غالب او د حکمت خاوند دی .

او چې کله هم مسلمان جنګیالي په خپلو کې سره د ورونو په څیر تړلي وي او یو پر بل مهربان او د قرباني په ځای کې هر یو له بل نه مخکې ور غورځیږي نو مخکې د جنګ نه فیصله کېدلی شي چې فتح د مسلمانانو په برخه ده لکه د بدر په غزوة کې چې مسلمانانو ټولي قومي، رنګي او نسلي رابطې پرېښودې وې او د یو ځان په ډول د الله تعالی د رضا لپاره جنګېدل نو ځکه الله تعالی ورباندې کامیابي پیرزو کړه او الله تعالی

سورة النساء آية ٧٦

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ۖ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾

ترجمه : هغه كسان چې مومنان دي د الله تعالى په لياره كې جنګ كوي او هغه كسان چې كافران دي د شيطان په لاره كې جنګيږي پس ووژنئ د شيطان ملګري بېشكه د شيطان فريب ډېر ضعيف دى .

د جنګ نه وړاندې اطمنان او دالله تعالى ذكر كول

د بدر په ميدان كې د كاميابي له اسبابو څخه يو دا وو چې مسلمانان وارخطا نه وو او د دښمن سره د مخامخ كېدو په وخت او له هغه وړاندې يې د الله تعالى ذكر كولو او الله تعالى هم ورته فرمايل:

سورة انفال آية ٤٥ .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةً فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ

ترجمه : اى مومنانو چې کله تاسې مخامخ شوئ په جنګ کې يوې ډلې ته نو کلک اوسئ (حوصله له لاسه مه ورکوئ) ددې لپاره چې کاميابي مو په برخه شي د الله تعالى ذکر ډېر کوئ .

او کله هم چې د جنګ په وخت کې مسلمان پدې آيت باندې عمل وکوي الله تعالى به کاميابي ورکوي لکه په بدر کې يې چې ورکړه الله تعالى مونږ ددې بل مثال هم ښيي چې فرمايي:
سورة بقرة آية ٢٥٠

وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٥٠

ترجمه : کله چې مسلمانان جالوت او دهغه لښکر ته ور ښکاره شول نو يې وويل اى الله په مونږ باندې صبر را نازل کړه او زمونږ قدمونه کلک کړه او مونږ ته د کفارو په مقابله کې مدد راکړه .
په بل ځاى کې الله تعالى فرمايي :

سورة آل عمران آية ۱٤۷

وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾

ترجمه : او ددوی به همدا یوه خبره وه چې دوی به ویل ای زموږ ربه زموږ ګناهونه راته معاف کړه او زموږ په کارونو کې اسراف مونږ ته و بښه او زموږ قدمونه کلک کړه او د کفارو په مقابله کې راسره مرسته وکوه .

د جنګیالیو سره د قائد مشوره

په جنګ کې د کامیابي د اسبابو څني یو هم د خپلو جنګیالیو سره مشوره کول دي چې باید څه وکوو چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه چې قافله ددوی نه تېره شوه او اوس به د قافلې په ځای دوی د جنګیالیو سره مخامخ کیږي نو د خپلو ملګرو سره کیناستو او همدا به یې ویل چې اشیروا علی (ماته مشوره راکړئ) چې اوس څه وکوو؟ د شورى پوره قصه مخکې تېره شوې ده نو پداسې وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم شورى د صحابه وو سره ټولو اسلامي قائدینو ته درس ورکوي چې دوی دي هم همداسې وکوي او دا

ددښمنانو حال معلومول

په جنګ کې د کاميابي بل سبب د دښمن په حال باندې ځان پوه کول دي رسول الله صلى الله عليه وسلم دا کار په بدر کې يو ځل پخپله کړى وو او يو ځل يې صحابه رضى الله تعالى عنهم ليږلې وو (قصه يې په تفصيل سره تېره شوېده) نو د بدر د غزا نه وروسته تر قيامت پورې اسلامي قائدينو ته درس دى چې بايد دوى هم د مخامخ کېدو نه وړاندې بايد تر خپله وسع پورې د دښمن حال ځان ته معلوم کړي .

ځوانمردي او وفاء

مسلمان قائد او مسلمان مجاهدين بايد ځوانمرده وي ابو البختري هغه کس وو چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم په مکه کې وو نو ده به ورسره ښه رويه کوله او تر خپلې وسې پورې به يې خلک ده صلى الله عليه وسلم ته د تکليف ورکولو نه منع کول او ده به هم څه قسم تکليف نه ورکولو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو مجاهدينو ته اعلان وکولو چې که چا ته ابو البختري په مخه ورغلو نو هغه دې نه قتل کوي ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم غوښتل چې دهغه د نيکيو بدل ورکړي او دهغه سره ځوانمردي وکوي لکن دا بيا بېله

زياد البلوي رضی الله تعالی عنه مخامخ شو هغه يې و پېژندلو صحابي رضی الله تعالی عنه ورته وويل چې ستا د قتل نه مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړي يو هغه ورته وويل او دا زما ملګری جنادة الليثي؟ حضرت مجذر رضی الله تعالی عنه ورته وويل چې نه مونږ ته صرف ستا د نه وژلو حکم شوی دی ستا د ملګري د قتل نه مونږ نه يو منع کړل شوي بيا ابو البختري ورته وويل چې نه زه داسې نه شم کولی چې خپل ملګری پرېږدم بيا به په مکه کې ښځې څه وايي چې خپل ملګری يې پداسې سخت وخت کې پرېښودو .. نو يې د صحابي سره جنګ کول شروع کړو بالاخره حضرت مجذر رضی الله تعالی عنه وربانديې بريالی شو او ابو البختري يې قتل کړو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلو ورته ويل يی ای د الله رسوله زما د قسم په هغه ذات وي چې زما نفس يې په واک کی دی ما کوښښ وکولو چې ابو البختري به زه تاته ژوندی راولم لکن هغه لما سره جنګ وکولو بالاخره هغه ما قتل کړو .

اسلامي ورور ولي تر نسبي ورور ولي لوړه ده .

حضرت مصعب بن عمير چې د مسلمانانو جنډه يې په لاس کې وه ورور يې د کفارو له لوري نه

خپل ورور يې د يو انصاري په لاس کې بندي وليدو نو هغه انصاري ته يې وفرمايل دا خپل بندي دې کلک ونيسه مور يې مالداره ده ډېره ښه فديه به درکړي . ورور يې په نا اميدي سره ورته وکتل او ورته يې وويل چې د خپل ورور د مصيبت په حالت کې داسې خبره؟ ده رضی الله تعالی عنه ورته وويل چې کوم ورور؟ زما ورور خو دا انصاري دی مطلب يې دا وو چې مونږ خپلې ټولې خپلولۍ تر اسلام قربان کړي دي او اوس مو لويه خپلولي اسلام ده .

د عکاشه د توري معجزه

حضرت ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې ذکر کړي دي چې حضرت عکاشه بن محصن رضی الله تعالی عنه پداسې سختي سره جنګ کولو چې توره يې په لاس کې ور ماته شوه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلو چې توره مې ماته شوه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته يواوږد لرګی په لاس کې ورکړو چې واخله پدې سره جنګ کوه ده چې کله هغه په لاس کې وښورولو يوه اوږده سپينه توره ترې جوړه شوه په جنګ باندې ور ګډ شو تر هغه وخته پورې يې جنګ پرې کولو چې جګړه پای ته ورسېده او بيا هماغه توره د عکاشه سره وه او په هر جنګ کې يې کاروله تردې چې د حضرت ابو بکر صديق

غزوة بدر یوم الفرقان

د غزوة بدر ورځ ته یوم الفرقان او یوم التقی الجمعان هم ویل کیږي .

ددې امله چې پدې ورځ باندې حق او باطل ښه سره بېل شول او کوم چې حق وو الله تعالی ورته بری ورکړو او کوم چې باطل وو الله تعالی ورته رسوایي ورکړه نو دې ورځې ته یوم الفرقان ویل کیږي او پدې ورځ باندې هغه دوه ډلې سره مخامخ شوې چې په ټوله دنیا کې وې همدا دوه ډلې یوه د اسلام او بله د کفر نو ځکه ورته یوم التقی الجمعان هم ویل کیږي او دا دواړه نومونه یې په قران کریم کې په یو آیت کې راغلي دي:

سورة انفال آیة ٤١

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤١ .

ترجمه : او پوه شئ هغه څه چې تاسې په غنیمت کې ونیول پنځمه برخه یې د الله ده او د رسول ده

څه باندې چې مونږ نازل کړي دي په خپل بنده باندې په هغه ورځ چې حق له باطل نه ښه ښکاره شو او هغه وخت چې دوه ډلې سره يوځاى شوې الله تعالى په هر څه باندې قادر دى .

دوستي او دښمني د الله لپاره

مسلمان مجاهد بايد دوستي او دښمني صرف د الله لپاره وکوي او د هغه چا سره دوستي وکوي چې دده په نظر الله ته به نېږدې وي او دهغه چا سره دښمني وکوي چې د الله تعالى د قوانينو بغاوت کوي د بدر په غزا کې مجاهدينو ددې قانون ژوندى مثال قائم کړو مثالونه يې ستاسې په خدمت کې دي :

١. د حضرت حذيفه رضى الله عنه د کورنۍ درى غړي خپل پلار يې عتبة ، تره يې شيبة، او سکه ورور يې وليد هم د کفارو په ډله کې ووژل شول د شهيدانو تجهيز او تکفين په سمه توګه وشو او د کفارو د مړيو په اړه حکم وشو چې په يوه ژور ځاى کې د ور وغورځول شي چې کله عتبة ددې ژور ځاى په لوري ور کش کول کېدو نو حضرت حذيفه وليد هغه خفه او پريشان شو رسول الله ترې پوښتنه وکوله چې آيا ته د خپل پلار په مرګ خپه شوې؟ ده رضي الله تعالى عنه ورته و فرمايل چې اې

ماته مې پلار ډېر د ښه عقل او پوهې خاوند ښکاره کېدو زما ارمان وو چې که هغه د كفر له تيارو نه را وتلی وی او په اسلام مشرف شوی وی بيا مړ وای صرف دې خبرې خفه کړم .

۲. حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه په اسلامي لښکر کې لوړ رتبه جنګيالی وو او د هغه زوی عبد الرحمن په دې وخت کې د کفارو په صف کې جنګېدو .

۳. ابو مصعب ابن عمير د مسلمانانو د بيرغ پورته کونکی وو او دده ورور ابو عزيز ابن عمير د کفارو لخوا جنګېدو چې بيا ژوندی نيول شوی وو (قصه يې تېره شوه) .

٤. په بدر کې د مسلمانانو شعار (احد احد) وو معنی يې دا چې مونږ صرف د يو الله لپاره جنګ کوو بل هېڅ تعلق او رابطه زمونږ په جنګ کې مطرح نه ده

كامياب مومنان

د جنګ بدر په وخت کې چې کومو مومنانو په پوره ځوانمردۍ سره کفارو ته ماتې ورکړه هغه ټول رښتوني مومنان وو او ددوی لپاره یو څو داسې صفتونه وو چې هغه باید په یو مسلمان کې وي بیا به هغه ته الله تعالی د فتح مخ ورښکاره کوي او هغه صفتونه په قران کریم کې په لاندې ډول بیان شوي دي سورة انفال آیة ۲-٤

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا
تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢
ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣
أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ
وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤

ترجمه : بېشکه رښتوني مومنان هغه کسان دي چې کله الله یاد کړل شي نو دوی وویرېږي او چې کله په دوی باندې د الله آیتونه تلاوت کیږي نو ددوی ایمان نور هم زیاتیږي او دوی په الله باندې توکل

ډول سره مومنان دي ددوى لپاره د دوى د رب سره درجې دي او ددوى لپاره بښنه ده او ښه روزي ده .

په پورتني آيت کې د کاميابو مسلمانانو لپاره پنځه صفات ذکر شوي دي نو چې څوک هم د الله تعالى په لاره کې جهاد کوي او بيا نصرت دهغه نه غواړي الله تعالى به ورسره داسې مرسته وکوي لکه په بدر کې يې چې وکوله لکن ددې پنځو صفاتو وجود پکې ضروري دى .

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلاصه توګه په يو حديث کې فرمايي :
ترجمه : ترڅو چې تاسې زما په سنتو باندې برابر ياست تاسې به کامياب ياست او که تاسې زما د سنتو څخه کاږه شوى نو بيا به الله تعالى په تاسې باندې داسې يو څوک مسلط کړي چې نه به هغه لتاسې نه وېرېږي او نه به هغوى په تاسې باندې رحم کوي تردې چې تاسې بېرته زما سنتو ته را وګرځئ

حضرت عمر ابن الخطاب رضى الله تعالى عنه چې کله حضرت سعد ابن ابي وقاص د مجاهدينو په مشرى کې چېرته لېږلو ورته يې وويل چې دخپلو جنګياليو د ګناهونو څخه به د دښمن څخه زيات ډار کوئ

ځکه کاميابيږي چې دهغوی دښمنان ګناهګاران وي
.

امپراطور هرقل يوه ورځ د خپلو قوماندانانو څخه پوښتنه وکوله د مسلمانانو په اړه چې تاسې ماته دا ووایاست دا چې تاسې ورسره جنګ کوئ هغوی همدا ستاسې په شان انسانان نه دي؟ تاسې زيات ياست که هغوی؟ دوی ورته وويل چې مونږ هر وخت وربانديې زيات وو او چې کله هم مونږ د هغوی سره مخامخ شو نو مونږ وربانديې څو چنده زيات وو ... ده ورته وويل چې بيا ولې تاسې هروخت د هغوی په مقابل کې ماتې خورئ؟ ټول خلک چپ وو يو مشر دخلکو د مينځ نه را پورته شو او ده ته يې دده د پوښتنې ځواب ورکړو چې مونږ دهغوی په مقابل کې ځکه ماتې خورو چې هغه داسې خلک دي چې د شپې مونځ کوي او د ورځې روژې نيسي ، هغوی خپلې وعدې پوره کوي، په نېکو کارونو باندې امر او له بدو څنې منع کوي ، هغوی په چا باندې ظلم نه کوي او هروخت له انصاف نه کار اخلي ، مونږ چې په هغوی باندې حمله وکوو نو هغوی صبر کوي او چې په مونږ باندې حمله وکوي نو دروغ نه وايي !!

راز ساتل

په جنګي میدان کې د کامیابي په لویو سببونو کې د راز ساتل دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم به هروخت راز ساتلو او چې کله به هم په کوم طرف وتلو نو راساً به یې خپل هدف نه ښکاره کولو او د بدر په غزا کې یې هم پدې خپل عادت باندې عمل کړی وو او خپل راز یې ساتلی وو مثالونه یې په لاندې ډول دي .

۱. مخکې قصه تېره شوه چې د حالاتو د معلومولو لپاره چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګری ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه را وتلي وو نو د سپین ږیري نه یې و پوښتل چې مونږ ته د محمد او د هغه د لښکر په اړه ووایه او مونږ ته د قریشو او د هغوی د لښکر په اړه ووایه او صرف د قریشو پوښتنه یې تړې ونه کولو ځکه بیا به د هغه شک شي چې ګني دوی د مسلمانانو له ډلې څخه دي.

۲. چې کله هغه سپین ږیري ورنه پوښتنه وکوله چې تاسې څوک یاست؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته توریه وکوله او ورته یې صرف دومره وویل چې نحن من الماء او صراحتاً یې ورته ونه ویل چې مونږ مسلمانان یو او هغه ته ځواب ورکول

ته مونږ ته خبر وکوه بيا به مونږ هم ستا د پوښتنې ځواب درکوو .

٣. چې کله يې هغه سپين ږيري ته ځواب ورکړو نو فوراً ترې روان شول که هلته ولاړ وی نو سپين ږيري به پوښتنه کړې وه چې من الماء نه ستاسې څه مطلب دی .

٤. حضرت عائشه رضی الله تعالی عنه فرمايي چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه وو سره بدر ته روانېدو نو صحابه وو ته يې حکم وکړو چې د اوښانو له غاړو نه شرنګاني لرې کړئ .

٥. کله چې روانېدل نو چاته يې هم ونه ويل چې مونږ بدر ته ځو صرف اعلان يې وکولو چې مونږ چېرته ځو څوک چې حاضر دي راځئ.

د قائد له لوري جنګياليو ته نصيحت کول

د بدر په ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو جنګيالو ته خبرې کولې او هغوی يې په جنګ باندې ور تېز کړل او هغوی ته يې جنت او شهادت ور په زړه کړل او هغوی ته يې د پوره صبر کولو په اره ووېل او ورته يې ووېل چې تر څو مو هدف

نو توري ما را وباسئ او داسې نوري معنوي وزن لرونكې خبرې يې ورته وكولې او الله تعالى هم رسول الله صلى الله عليه وسلم ته فرمايل :
سورة انفال آية ٦٥.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَـٰبِرُونَ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّا۟ئَةٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ



ترجمه : اى پيغمبره مسلمانان په جنګ باندې ور تېز كړه كه لتاسې نه شل كسان جنګ ته وړاندې شي نو په دوو سوو به كامياب كيږي او كه سل كسان جنګ ته وړاندې شي په زرو كسانو به غالب كيږي په هغه كسانو باندې چې هغوى كافران دي ځكه چې هغوى نه پوهيږي .

د بدر په غزا کې معجزې

غزوة بدر له اول نه تر آخره پورې معجزه وه د ۳۱۳ کسانو فتح د ۱۰۰۰ کسانو په مقابل کې پخپله يوه معجزه ده ، په زمکه باندې د ملائکو جنګ کول هم معجزه ده او په لاندکرښو کې د بدر په واقعه کې څو لويو معجزو ته ستاسې توجه را ګرځوم .

د بدر په غزوة کې د رسول الله صلى لله عليه وسلم نه په ښکاره شوې معجزو کې يو دهغه غيب ويل وو او علم غيب چې صرف د الله تعالى سره دى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم څه خبرې مخکې د واقع کېدلو نه د معجزې په توګه وکولې .

۱. د امية بن خلف د وژل کېدلو په اړه خبر

د حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله تعالى عنه نه روايت دى چې د بدر له غزا نه وړاندې حضرت سعد بن معاذ مکې مکرمې ته د عمرې لپاره راغلو او په امية باندې مېلمه شو دهغه سره يې ملګري وه هغه به چې کله د شام په سفر تللو نو د حضرت سعد بن معاذ رضى الله تعالى عنه سره به مېلمه کېدلو امية حضرت سعد رضى الله عنه ته وويل چې اوس صبر وکړه چې کله نيمه ورځ شي نو بيا به د مکې مکرمې نه طواف وکوې هلته به خلک ټول په

ورته وويل زه د يثرب اوسېدونكى يم ابو جهل ورته وويل چې له يوه اړخه تاسې محمد ته پناه وركړېده او له بله پلوه داسې په امن سره طوافونه كوې؟ امية حضرت سعد رضى الله تعالى عنه ته وويل چې د ابو جهل سره په خبرو كې ګذاره كوه چې دا د مخورو خلكو له جملې نه دى خو بيا هم سعد رضى الله تعالى عنه ابو جهل ته وويل چې كه ته مونږ له طواف نه منع كوې نو مونږ به هم په تاسې باندې د شام د تجارت لاره بنده كړو امية بيا حضرت سعد ته وويل چې حوصله كوه د ابو جهل سره په نرمى خبره كوه حضرت سعد رضى الله تعالى عنه امية ته وويل چې پرې مې ږده ستا په اړه خو هم محمد صلى الله عليه وسلم ويلي چې هغوى به تا ووژني ...

امية ورته وويل : ما به ووژني؟

حضرت سعد ورته وويل : هو !

امية وويل چې محمد درواغ نه وايي كيداى شي چې ډېر زر زما مرګ واقع شي په همدې فكر كې لاړو او خپلې ښځې ته يې قصه وكوله ورته يې وويل چې ته خبره يې چې زما يثربي ورور ماته څه ووې؟

هغې ورنه وپوښتل : څه يې درته وويل؟

امية وويل: چې هغه ويل چې محمد فكر كوي چې هغوى به ما ووژني

ښځې يې وويل : زما د قسم په الله وي هغه دروا غ نه وايي .

يې ورته وويل چې تاته په زړه دي چې ستا يثربي ورور تاته څه ويلي وو؟
ده ورته وويل چې هو راته په زړه دي او زه هم نه غواړم چې بدر ته ووزم خو بيا ابو جهل ورپسې ټينګ شو او ورته يې وويل چې صرف د يوې يا دوه ورځو سفر دی ته له مونږ سره لاړ شه څکه چې ته خو د مکې له مخورو خلکو څنې يې نو مجبور شو چې ورسره لاړو هلته بيا قتل کړل شو .

۲. د بدر په شپه باندې د ځينو مشرانو د مرګ ځايونه ښکاره کول.
په هغه شپه چې سبا ته يې د بدر جنګ واقع کيږي رسول الله صلی الله عليه وسلم د څه صحابه وو سره په ميدان کې چکر وهلو او څه ځايونه يې صحابه وو ته ور وښودل چې سبا دلته فلانی مړ کيږي او دلته به فلانی هلاکيږي بيا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه يوه ورځ فرمايل چې زما د قسم په الله وي چې دوی په هماغه ځايونو باندې مړه شول چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته ښودلي وو .

۳. حضرت عباس ته دهغه مال ور ښودل .
کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د حضرت عباس نه فديه وغوښته نو هغه ورته وويل چې ای رسول الله دا مال زه له کومه کړم چې تاته يې راوړم؟

ورته وويل چې که په ما باندې په دې سفر کې څه وشول نو دا مال دی چې ما د بني فضل، عبد الله او قثم لپاره خښ کړی دی ... هغه ورته وويل چې زما د قسم وي زما يقين دی چې ته پيغمبر يې پدې خبره خو څوک هم نه وو خبر چې ته وربانديې خبر يې .

٤. عمير ابن وهب ته هغه خبرې کول چې ده او صفوان په مکه کې پټې سره کړې وې .

حضرت عروة بن زبير فرمايي چې عمير بن وهب الجمحي د صفوان بن اميه سره کېناستو د بدر د واقعې نه وروسته او صفوان هغه شيطان وو چې د مسلمانانو په ازارولو کې او د اسلام په خرابولو کې يې ډېر کار کولو عمير ورته وويل چې که چېرته په ما باندې قرض نه وای او که په ما پسې عيال او ماشومان نه وای نو همدا اوس مې توره اخيستله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په قتل پسې تلم ، صفوان چې دده جذباتي حالت وليدو نو يې ورته وويل چې ځه ستا ټول قرض او ستا د عيال نفقه په ما شوه که ته ځې ... نو ده هم توره واخيستله روان شو مدينې منورې ته په داسې وخت کې ورسېد چې په جومات کې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د صحابه وو سره ناست وو او د بدر خبرې کېدې چې حضرت عمر رضی الله تعالی

اواز وکولو چې دا هغه د الله دښمن دی عمير چې د بدر د جنګ نه وړاندې يې زمونږ جاوسوسي کړې وه او زمونږ د عدد د معلومولو کوښښ يې کړی وو (قصه يې مخکې تېره شوه) او دا خامخا د شر لپاره راغلی دی (څکه توره ورسره وه) بيا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلو ورته يې وويل چې عمير راغلی دی هغه ورته وفرمايل چې دلته يې راولئ حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورغلو هغه يې را ونيولو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې راوستلو او توره يې څينې نيولې وه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې پرې ئې ږده او عمير ته يې وويل را نېږدې شه عمير چې نيږدې ورغلو نو يې وويل انعموا صباحاً (دا د جاهليت د زمانې سلام وو) رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې الله تعالی مونږ ته تردې غوره سلام راکړی دی. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم تربنه پوښتنه وکوله: څه ته راغلی يې؟

عمير ورته وويل:

چې زوی مې ستاسې سره قيدي دی د هغه د خلاصون لپاره راغلی يم.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: نو بيا دا توره درسره څه کوې؟

ده وويل: دا توره دې خدای خرابه کړي دې مونږ ته څه خير راکړو؟

عمير ورته وويل چې صرف د همدي قيدي لپاره راغلی يم .
بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې هو ته او صفوان په فلاني ځای کې سره ناست وئ او د بدر په جنګ کې د مړو کسانو خبرې مو کولې بيا تا ورته وويل چې که په ما باندې قرض نه وای او که لما سره مې د خپل اولاد د آينده غم نه وای نو زه به وتلی وای ترڅو چې محمد مې قتل کړی وای بيا صفوان درته وويل چې ته محمد قتل کړه ستا د عيال نفقه او ستا قرض زما په غاړه شو .
ده فوراً وويل چې زه ددې ګواهي ورکوم چې ته د الله تعالی په حقه پيغمبر يې تر اوسه به ستا خبرې مونږ ته دروااغ ښکاره کېدې چې تا به مونږ ته کولې لکن اوس زه پوه شوم چې په هغه مجلس کې چې ما له صفوان سره خبرې کولې نو هلته هېڅوک هم نه وو رښتيا چې دا خبرې تاته الله تعالی کړې دي .
بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو صحابه وو ته وفرمايل چې دې خپل ورور ته مو دين ور زده کړئ او قران کريم ورته تلاوت کړئ بيا حضرت عمير رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې ما به ډير کوښښ کولو چې هغه کسانو ته تکليف ورکړم چې مسلمانان دي او ما به کوښښ کولو چې ستا په واسطه باندې د الله تعالی له لوري نه را

الله دين ته را وبلم کېدای شي الله تعالی دوی ته هدايت وکوي او که دوی ته الله تعالی هدايت هم ونه کوي نو دوی به زه د بتانو د عبادت څخه منع کوم ... نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هم ورته اجازه ورکړه هغه مکې ته راغلو .. دده نه مخکې به صفوان د مکې له خلکو سره وعدې کولې او ورته ويل به يې : زر ده چې داسې څه په واقع شي چې لتاسې نه به په بدر کې لېدلی درد هېر کړي چې څوک به له مدينې نه راتلل نو صفوان به ترې د عمير په اړه پوښتنه کوله چې هغه خو به دې نه وي ليدلی ؟ عمير چېرته وو؟ په مسافرو کې چې يو کس له مدينې نه راغلو نو صفوان ته يې وويل چې عمير خو مسلمان شوی دی نو ده قسم وکولو چې زه به کله هم له ده سره خبرې نه کوم او نه به دده سره څه ښېګڼه او نيکي کوم .. حضرت عمير رضی الله تعالی عنه چې کله مکې ته راغلو د الله تعالی د دين لارې ته يې دعوت شروع کړو او دده په لاس باندې ډېر زيات خلک مسلمانان شول .

۵. د سترګې جوړېدل

حضرت رفاعه بن رافع رضی الله تعالی عنه فرمايي چې زه په سترګه باندې په غشي ولګېدم او سترګه مې ړنده شوه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مې را منډه کړه هغه مې په سترګه کې ناړې را تف کړې

٦. د عكاشه توره .
لږ مخكې تېر شول امام ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد كې ليكلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عكاشه را منده كړه چې توره مې ماته شوه هغه ورته يو اوږد لرگى وركړو چې څه په دې سره جنگ كوه هغه چې په لاس كې وښوراوه دهغه نه اوږده سپينه توره جوړه شوه چې تر ډېره وخته د عكاشه سره وه او په هره جگړه كې يې كاروله .

٧. يو موټى خاورې .
رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل مبارك لاس كې يو موټى خاورې را پورته كړې او د كفارو په لورې يې ور وشيندلې او ويې ويل (شاهت الوجوه) دهغه موټي نه د هر كافر سترگو، خولې، پوزې ته دومره خاورې ور ورسېدې چې هغوى يې پرې مصروف كړو .

بدريان (په بدر کې شريک صحابه (رض))

په بدر کې شريک مسلمانان لکه چې مخکې تېر شول چې په يو قول ۳۱٤ کسان او د بل روايت له مخې ۳۱۳ او د بل روايت له مخې ۳۱۷ کسان د مسلمانانو له لوري په غزوة بدر کې شريکان وو او هغه کسان چې د بدر په غزوة کې شريکان وو هغوی ته بدريان ويل کېدل د بدريانو نومونه د خپل کتاب لپاره تبرک ګڼم او ستاسې فام ورته را اړم .

مهاجرين بدريان

بنو هاشم

1. فخر کائنات او د بدريانو مهربان قائد صلی الله عليه وسلم
2. حمزة بن عبد المطلب
3. علي بن أبي طالب
4. زيد بن حارثة (چې رسول الله (ص) ورته زوی ويلي وو)
5. أنسة (مولی رسول الله (ص))
6. أبو کبشة (مولی رسول الله (ص))

8. مرثد بن أبي مرثد الغنوي) حليف حمزة بن عبد المطلب)

بنو المطلب بن عبد مناف

1. عبيدة بن الحارث
2. الطفيل بن الحارث بن المطلب
3. الحصين بن الحارث بن المطلب
4. مسطح بن أثاثة

بنو عبد شمس بن عبد مناف

1. عثمان بن عفان (د حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم د لور حضرت رقية رضى الله تعالى عنها بيماري له امله يې ونشواى كولى چې بدر ته راشي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په بدريانو كې حساب كړو او غنيمت يې هم ورته وركړو.)
2. أبو حذيفة بن عتبة
3. سالم مولى أبي حذيفة
4. عبد الله بن جحش الأسدي
5. عكاشة بن محصن الأسدي
6. شجاع بن وهب الأسدي
7. عقبة بن وهب الأسدي
8. يزيد بن رقيش الأسدي
9. بو سنان بن محصن الأسدي
10. سنان بن أبي سنان الأسدي

13. ثقيف بن عمرو السلمي
14. مالك بن عمرو السلمي

بنو نوفل بن عبد مناف

1. عتبة بن غزوان المازني
2. خباب (مولى عتبة بن غزوان)

بنو عبد الدار بن قصي

1. مصعب بن عمير
2. سويبط بن سعد بن حرملة

بنو عبد العزى بن قصي

1. الزبير بن العوام
2. حاطب بن أبي بلتعة
3. سعد (مولى حاطب)

بنو زهرة بن كلاب

1. عبد الرحمن بن عوف
2. سعد بن أبي وقاص
3. عمير بن أبي وقاص
4. المقداد بن عمرو
5. مسعود بن ربيعة

8. خباب بن الأرت

بنو تيم بن مرة

1. أبو بكر الصديق
2. طلحة بن عبيد الله
3. بلال بن رباح
4. عامر بن فهيرة
5. صهيب بن سنان

بنو مخزوم

1. أبو سلمة بن عبد الأسد
2. شماس بن عثمان
3. الأرقم بن أبي الأرقم
4. عمار بن ياسر
5. معتب بن عوف

بنو عدي بن كعب

1. عمر بن الخطاب
2. زيد بن الخطاب
3. سعيد بن زيد
4. عمرو بن سراقة
5. عبد الله بن سراقة
6. مهجع (مولى عمر بن الخطاب)
7. عامر بن ربيعة
8. واقد بن عبد الله

11. خالد بن البكير

بنو جمح

1. عثمان بن مظعون
2. قدامة بن مظعون
3. عبد الله بن مظعون
4. معمر بن الحارث

بنو سهم

1. خنيس بن حذافة

بنو عامر بن لؤي

1. عبد الله بن مخرمة
2. عبد الله بن سهيل بن عمرو
3. عمير بن عوف
4. سعد بن خولة

بنو الحارث بن فهر

1. أبو عبيدة بن الجراح
2. عمرو بن الحارث
3. سهيل بن وهب
4. صفوان بن وهب
5. عمرو بن أبي سرح

انصار بدريان

د اوس قبيله

2. عمرو بن معاذ
3. الحارث بن أوس بن معاذ
4. الحارث بن أنس بن رافع
5. سعد بن زيد بن مالك
6. سلمة بن سلامة بن وقش
7. عباد بن بشر بن وقش
8. سلمة بن ثابت بن وقش
9. رافع بن يزيد بن كرز
10. الحارث بن خزمة بن عدي
11. محمد بن مسلمة
12. سلمة بن أسلم
13. أبو الهيثم بن التيهان
14. عبيد بن التيهان
15. عبد الله بن سهل

بنو سواد بن كعب

1. قتادة بن النعمان
2. عبيد بن أوس بن مالك

بني رزاح بن كعب

1. نصر بن الحارث
2. عبد الله بن طارق
3. معتب بن عبيد

بنو حارثة بن الحارث

3. أبو بردة بن نيار

بنو عمرو بن عوف

1. عاصم بن ثابت
2. معتب بن قشير
3. عمرو بن معبد
4. سهل بن حنيف

بنو أمية بن زيد

1. مبشر بن عبد المنذر
2. سعد بن عبيد بن النعمان
3. عويم بن ساعدة
4. رافع بن عنجدة
5. عبيد بن أبي عبيد
6. ثعلبة بن حاطب

بنو عبيد بن زيد

1. أنيس بن قتادة
2. معن بن عدي بن الجد
3. ربعي بن رافع بن زيد

بنو ثعلبة بن عمرو بن عوف

1. عبد الله بن جبير
2. عاصم ابن قيس
3. أبو ضياح بن ثابت
4. سالم بن عمير

بني جحجبي بن كلفة

1. المنذر بن محمد بن عقبة
2. أبو عقيل بن عبد الله بن ثعلبة

بنو غنم بن السلم

1. سعد بن خيثمة
2. المنذر بن قدامة
3. مالك بن قدامة
4. تميم (مولى سعد بن خيثمة)

بنو معاوية بن مالك

1. جابر بن عتيك
2. النعمان بن عصر
3. مالك بن نميلة

د خزرج قبيله

بنو الحارث بن الخزرج

1. عبد الله بن رواحة
2. خارجة بن زيد
3. خلاد بن سويد

بنو زيد بن مالك

1. بشير بن سعد بن ثعلبة
2. سبيع بن قيس
3. عباد بن قيس
4. سماك بن سعد

بنو جشم بن الحارث

1. عبد الله بن زيد بن ثعلبة (الذي رأى نداء الأذان في النوم)
2. حريث بن زيد بن ثعلبة
3. خبيب بن إساف
4. سفيان بن بشر

بنو جدارة بن عوف

1. زيد بن المري
2. تميم بن يعار
3. عبد الله بن عمير بن حارثة

بنو خدرة

1. عبد الله بن الربيع بن قيس

بنو عوف

1. عبد الله بن عبد الله بن أبي بن سلول
2. أوس بن خولي

بنو جزء بن عدي

1. زيد بن وديعة
2. رفاعة بن عمرو بن زيد
3. عقبة بن وهب بن كلدة
4. عامر بن سلمة بن عامر
5. معبد بن عباد بن قشعر
6. عامر بن البكير

2. ملیل بن وبرة
3. عتبان بن مالك
4. عصمة بن الحصين

بنو قربوس بن غنم

1. أمية بن لوذان

بنو أصرم بن فهر

1. عبادة بن الصامت
2. أوس بن الصامت (الذي ظاهر زوجته)

بنو دعد بن فهر

1. النعمان بن مالك بن ثعلبة

بنو مرضخة

1. مالك بن الدخشم

بنو لوذان بن غنم

1. الربيع بن إياس
2. ودفة بن إياس
3. عمرو بن إياس
4. المجذر بن زياد
5. عباد بن الخشخاش
6. عبد الله بن ثعلبة بن خزمة
7. نحاب بن ثعلبة بن خزمة
8. عتبة بن ربيعة بن خالد

بنو ساعدة بن كعب

بنو البدن

1. عامر بن عوف بن حارثة
2. أبو أسيد مالك بن ربيعة
3. مالك بن مسعود

بنو طريف

1. عبد الله بن حق
2. كعب بن حمار بن ثعلبة
3. بسبس بن عمرو
4. ضمرة بن بشر
5. زياد بن بشر

بنو جشم بن الخزرج

1. خراش بن الصمة
2. تميم(مولى خراش بن الصمة)
3. عبد الله بن عمرو بن حرام
4. عمير بن الحمام
5. حباب بن المنذر
6. معاذ بن عمرو بن الجموح
7. معوذ بن عمرو بن الجموح
8. خلاد بن عمرو بن الجموح
9. عقبة بن عامر بن نابئ
10. حبيب بن الأسود (مولى لهم)
11. ثابت بن ثعلبة بن زيد

بنو عبيد بن عدي

1. عبد الله بن الجد بن قيس
2. بشر بن البراء
3. الطفيل بن النعمان
4. عبد الله بن حمير الأشجعي
5. خارجة بن حمير الأشجعي

بنو النعمان بن سنان

1. جابر بن عبد الله بن رئاب
2. عبد الله بن عبد مناف بن النعمان
3. خليدة بن قيس بن النعمان

بنو خناس

1. جبار بن صخر
2. يزيد بن المنذر
3. عبد الله بن النعمان بن بلدمة
4. الضحاك بن حارثة بن زيد
5. سواد بن زريق بن ثعلبة
6. معبد بن قيس بن صخر
7. عبد الله بن قيس بن صخر

بنو سواد بن غنم

1. سليم بن عمرو بن حديدة
2. قطبة بن عامر بن حديدة
3. عنترة (مولى سليم بن عمرو)

2. عبس بن عامر بن عدي
3. ثعلبة بن عنمة
4. أبو اليسر كعب بن عمرو
5. عبد الله بن أنيس
6. عمرو بن طلق بن زيد
7. سهل بن قيس بن أبي كعب

بنو زريق بن عامر

4. سعد بن عثمان بن خلدة
5. الحارث بن قيس بن خلدة
6. جبير بن إياس
7. عباد بن قيس بن عامر
8. أسعد بن يزيد بن الفاكه
9. الفاكه بن بشر بن الفاكه
10. عائذ بن ماعص
11. معاذ بن ماعص
12. مسعود بن سعد بن قيس

بنو العجلان بن عمرو

1. رفاعة بن رافع
2. خلاد بن رافع بن مالك
3. عبيد بن زيد بن عامر

2. فروة بن عمرو
3. رخلية بن ثعلبة
4. خالد بن قيس بن مالك
5. خليفة بن عدي

بنو حبيب بن عبد حارثة

1. رافع بن المعلى

بنو النجار

1. أبو أيوب خالد بن زيد

بنو عمرو بن عبد عوف

1. عمارة بن حزم بن زيد
2. سراقة بن كعب بن عبد العزى
3. ثابت بن خالد

بنو عبيد بن ثعلبة

1. حارثة بن النعمان بن رافع
2. سليم بن قيس بن قهد

بنو عائذ بن ثعلبة

1. سهيل بن رافع بن أبي عمرو
2. عدي بن أبي الزغبا (حليف لهم)

بنو زيد بن ثعلبة

1. مسعود بن أوس بن زيد
2. أبو خزيمة بن أوس بن زيد
3. رافع بن الحارث بن سواد

2. معوذ بن الحارث (ابن عفراء)
3. معاذ بن الحارث (ابن عفراء)
4. رفاعة بن الحارث (ابن عفراء)
5. النعمان بن عمرو بن رفاعة
6. عامر بن مخلد بن الحارث
7. عبد الله بن قيس بن زيد
8. قيس بن عمرو بن قيس
9. ثابت بن عمرو بن زيد
10. عصيمة الأشجعي
11. وديعة بن عمرو الجهني

بنو عتيك بن عمرو

1. ثعلبة بن عمرو بن محصن
2. سهيل بن عتيك بن النعمان
3. الحارث بن الصمة

بنو قيس بن عبيد

1. أبي بن كعب
2. أنس بن معاذ

بنو عدي بن عمرو

1. أبو طلحة زيد بن سهل
2. أوس بن ثابت

بنو عدي بن عامر

1. حارثة بن سراقة بن الحارث

4. سليط بن قيس بن عمرو
5. ثابت بن خنساء بن عمرو
6. عامر بن أمية بن زيد
7. سواد بن غزية بن وهيب

بنو حرام بن جندب

1. أبو الأعور كعب بن الحارث
2. قيس بن السكن
3. سليم بن ملحان
4. حرام بن ملحان

بنو عوف بن مبذول

1. قيس بن صعصعة
2. عبد بن كعب بن عمرو
3. عيصمة الأسدي

بنو ثعلبة بن مازن

1. قيس بن مخلد بن ثعلبة

بنو مسعود بن عبد الأشهل

1. النعمان بن عبد عمرو
2. الضحاك بن عبد عمرو
3. سليم بن الحارث بن ثعلبة
4. جابر بن خالد
5. سعد بن سهل

بنو قيس بن مالك

رضوان الله تعالی علیهم اجمعین

د غـــزوة بختور شهيدان



د غزوة بدر شهيدان

مهاجرين شهيدان

مهاجرين شپږ كسان شهيدان وو
١. ذو الشمالين
نسب يې : عبير بن عبد عمور بن نضلة بن عمرو بن غبشان بن سُليم بن مالك (او په يو قول ملكان) ابن افصى بن حارثة بن عمرو بن عامر الخزاعي .
مور يې : نُعمى بنت عبد الحارث بن زُهرة .

عمير رضى الله تعالى عنه د بني زهرة حليف وو او له هغه وخته نه يې حليف وو كله چې دده پلار مكې ته راغلو او د عبد الحارث بن زهرة سره يې حلف او تعهد وكولو او دهغه لور (د عمير مور نُعمى) يې په نكاح كړه او د هغې نه بيا عمير پيدا شو .

حضرت عمير ته ذو الشمالين ددې امله ويل كېدو چې دى په كار كې ډېر غښتلى وو او په يو وخت كې به يې په دواړو لاسونو سره كار كولو .

حضرت عمير (ذو الشمالين) رضى الله تعالى عنه په

الله صلی الله علیه وسلم هغه وخت چې د مهاجرینو صحابه وو ورورګلوي یې د انصارو سره جوړوله نو دده ورور ګلوي یې د زید بن الحارث سره جوړه کړې وه او زید بن الحارث الانصاري الخزرجي هم هغه کس وو چې په بدر کې په شهادت ورسېد (قصه یې وروسته راځي) .

د بدر په جنګ کې حضرت عمیر (ذو الشمالین) رضی الله تعالی عنه تر هغه وخته پورې جنګېدو ترڅو چې شهید کړل شو ښکلي ځوانمردي یې ښکاره کړه، ښه مبارزه یې وکوله د مشرکینو لخوا ووژل شو د یوه قول له مخې اسامة الجشمي کافر قتل کړو الله تعالی یې دې په جنتونو کې مرتبې لوړې کړي .

٢. صفوان بن وهب
نسب یې : صفوان بن وهب بن ربیعة بن هلال بن ربیعة بن هلال بن وهب بن ضبة بن الحارث بن فهر بن مالک بن النضر بن کنانة القرشي الفهري .
او په بل قول : صفوان بن وهب بن ربیعة بن عمرو بن عامر بن ربیة بن هلال بن مالک بن ضبة بن الحارث بن فهر بن مالک بن النضر بن کنانة القرشي الفهري .

مور یې : البیضاء دعْد بنت جحدم بن عمرو بن عائش بن ظرب بن الحارث بن فهر.

او د صفوان رضی الله تعالی عنه دوه نور ورونه وو سهل او سهیل رضی الله تعالی عنهما او دوی ټولو ته به د البیضاء زامن ویل کېدل .

صفوان رضی الله تعالی عنه هم د هغه صحابه وو له جملې نه وو چې د اسلام په اوائلو کې په اسلام مشرف شوی وو او د هغه کسانو له جملې نه وو چې د اسلام د ترقي لپاره یې هېڅ شی د قربانۍ څخه نه وو ګرځولی او چې کله یې هجرت وکولو هغه وخت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهاجرینو او انصارو په مینځ کې وروروګلوي جوړوله نو دده او د حضرت رافع بن المعلی الانصاري الخزرجي رضی الله تعالی عنه په مینځ کې یې ورور ګلوي جوړه کړې وه او هغه هم په بدر کې په شهادت ورسېد (قصه یې وروسته راځي) د بدر په غزوه کې د ټولو مسلمانانو په څېر حضرت صفوان رضی الله عنه هم بې ساري قرباني ورکړه او تر آخره پورې د کفارو په صفونو کې مخامخ ورتلو او تر آخره پورې یې جنګ ته شا نه کړه او الله تعالی دده شکل د کافرانو لپاره یو الهي عذاب ګرځولی وو او د جنګ په وخت کې یې ډېر په پوره جذبه سره تکبیر او لا اله الا الله ویل چې د کفارو زړونه یې په لړزه کول تردې چې شهید کړل شو .

او د طُعیمة بن عدي بن نوفل عبد مناف په لاس

يو قول کې هغه حضرت حمزة (اسد الله و اسد رسوله) بن عبدالمطلب رضی الله تعالی عنه په لاس قتل شو .

٣. عاقل بن البکير رضی الله تعالی عنه

نسب يې : عاقل بن البکير بن عبد ياليل بن ناشب بن غيرة بن سعد بن ليث بن بکر بن عبد مناة الکناني الليثي او دی د بني عدي بن کعب بن لؤی حليف وو او په جاهليت کې يې د عبدياليل سره حلف وو .

حضرت عاقل بن البکير رضی الله تعالی عنه د هغه صحابه وو څنې وو چې د اسلام په اول کې يې ايمان راوړی وو او په دار الارقم بن ابي الارقم کې ئې بيعت کړی وو په مدينه کې چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم د مهاجرينو او انصارو په مينځ کې وروړګلوي جوړوله نو دده وروړ ګلوي يې د حضرت مُبَشِر بن عبد المنذر الانصاري الاوسي رضی الله تعالی عنه سره جوړه کړې وه او دی رضی الله تعالی عنه هم د بدر د شهيدانو څنې دی .

دی چې کله اول مسلمان شو نو خلکو به ده ته د جاهلت په دور کې غافل ويل نو رسول الله صلی الله عليه وسلم يې هغه نوم په عاقل ورته بدل کړو .

او د بدر په جنګ کې د مالک بن زهیر الجُشمي لخوا ووژل شو او په بدر کې دده درى نورو ورونه عامر ، خالد او اياس رضى الله تعالى عنهم اجمعين هم جنګېدل .

٤. عُبَيْدَةُ بْنُ الحَارِثِ بْنُ المُطَّلِبِ رضى الله تعالى عنه

نسب يې : عبيدة بن الحارث بن المطلب بن عبد مناف بن قُصَيَّ القرشي المُطلبي.

مور ئې : سُخَيْلة بنت خُزَاعي بن الحُويَرْث الثقفية.

حضرت عُبَيْدَةُ بْنُ الحَارِثِ بْنُ المُطَّلِبِ رضى الله تعالى عنه هغه وخت اسلام راوړى وو چې هغه وخت لا رسول الله صلى الله عليه وسلم دار الارقم ته نه وو تللى مديني منورې ته يې د خپلو ورونو الطُّفَيْل او الحُصَيْن سره په شريکه هجرت کړى وو او کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه منوره کې د مهاجرينو او انصارو په مينځ کې وروږګلوي جوړوله نو دده وروږ ګلوي يې د عُمير بن الحُمَام الأنصاري السلمي رضي الله عنه سره جوړه کړې وه او دى رضى الله تعا لى عنه هم د بدر د شهيدانو څخې دى .

ښه مرتبه درلوده د هجرت په اول کال په ربيع الاول او د يو قول له مخې په شوال کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمړي ځل لپاره ده ته د اسلام بيرغ په لاس ورکړی وو او د شپېتو په يو قول د اتيا کسانو مهاجرينو مجاهدينو سره په يوه سريه کې لېږلی وو کله چې د احياء نومي ځای ته ورسېدل د کفارو د يوې ډلې سره مخامخ شول چې تقريباً دوه سوه کسان وو چې مشري يې ابو سفيان بن حرب په يو قول ابو جهل ، په يو قول مکرز بن حفص الاخيف کوله خو په تورو سره مخامخ نه شول صرف د غيشو د وارولو مقابله وشوه او بېرته سره شاته شول او د علم تاريخ ماهرينو دلته اشاره کړيده چې پدې وخت باندې په اسلام کې اول غيشی د حضرت سعد بن ابي وقاص په بل قو د سعد بن مالک له لوري وار کړل شو .

او په همدې وخت کې له مشرکينو څنې دوه کسان مقداد بن عمرو البهراني د بني زهرة حليف او عتبة بن غزوان بن جابر د بني نوفل بن عبد مناف بن قصي حليف مسلمانانو ته را و تښتېدل او دوی دواړو مخکې نه اسلام راوړی وو او اوس د مشرکينو په صفونو کې صرف ددې لپاره راوتلي وو چې د مسلمانانو صفونو ته ځان را ورسوي .

شيبة بن ربيعة او زوى يې وليد نو يې وغوښتل چې ددوى مقابلې ته دې درى كسان راشي نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حكم مطابق دوى ته حضرت حمزة بن عبد المطلب ، علي بن ابي طالب او عبيدة بن الحارث رضى الله تعالى عنهم ور ووتل د يو قول له مخې حضرت حمزة رضى الله تعالى عنه د شيبة سره مقابله وكوله او ډېر زر يې كار ورختم كړو او شيبة يې ووژلو حضرت علي رضى الله تعالى عنه د وليد سره په جنګ شو لږ شيبة وروسته يې مړ كړو او حضرت عبيده بن الحارث رضى الله عنه د عتبة سره په جنګ شو هغه هم ووژل شو او حضرت عبيدة رضى الله تعالى عنه زخمي شو په يو قول كې حضرت حمزة رضى الله تعالى عنه د عتبة سره او عبيدة رضى الله تعالى عنه د شيبة سره جنګ وكولو .

ددې مقابلې په اړه الله تعالى فرمايي سورة الحج آية ١٩-٢٤

۞ هَٰذَانِ خَصْمَانِ ٱخْتَصَمُوا۟ فِى رَبِّهِمْ ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ ٱلْحَمِيمُ  يُصْهَرُ بِهِۦ مَا فِى بُطُونِهِمْ وَٱلْجُلُودُ  وَلَهُم

مِنْ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ
ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى
مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا
وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ
ٱلْقَوْلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾

ترجمه : دا دوه ډلې دي چې دوی له يو بل سره جګړه وکړه په شان د رب خپل کې پس هغه کسان چې کافران دي جوړې به کړل شي دوی ته جامې له اور نه او تويول کيږي به ددوی په سرونو باندې سختې ګرمې اوبه او ويلې کيږي به پدې سره هغه څه چې ددوی په خېټو کې دي او ددوی څرمنې او ددوی لپاره به ګرزونه وي د وسپنې هرکله چې دوی غواړي چې را ووزي لدې غم نه نو بېرته ته به پکې ور ګرځول کيږي وڅکئ سخت عذاب بېشکه الله تعالى داخلوي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نيک کارونه يې کړي دي جنتونو ته چې ترې لاندې ويالې بهيږي ور آغوستل کيږي به دوی ته د سرو زرو زيورات او ددوی جامې به د

حضرت قیس بن عباد رضی الله تعالی عنه ویل چې ما ابا ذر رضی الله تعالی عنه ولید ویل یې چې دا آیتونه د هغه کسانو په اړه نازل شوي دي چې په بدر کې د جګړې د پیل نه مخکې مقابلې ته وړاندې شوي وو .

په هر صورت حضرت عبیدة رضی الله تعالی عنه په زخمي حالت کې د مجاهدینو مرکز ته نقل کړل شو او په بدر کې تر ټولو مشر مجاهد وو چې پدې وخت کې یې عمر ٦٣ کاله وو همدا حضرت عبیدة رضی الله تعالی عنه وو چې کله د مسلمانانو مرکز ته نقل کړل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له مخ مبارک نه ګرد پاکولو او د غزوة بدر د ختمېدلو نه یوه شپه وروسته مدینې ته په لاره کې په شهادت ورسېدو او په صفراء نومي ځای کې دفن کړل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې پخپله قبر ته ور ښکته شوی وو او دده لپاره یې د ښه والي ګواهي ورکړه .

الله تعالی حضرت عبیدة ته ډېر ښه قسمت ورکړی وو چې د ٦٣ کلونو په عمر کې یې د عزت او فخر مرګ شهادت ورته نصیب کړو الله تعالی یې په مونږ او په هرمسلمان پیرزو کړي او الله تعالی د دده مرتبې لوړې کړي .

وايي چې يو وخت رسول الله صلى الله عليه وسلم د څه صحابه وو سره نازية نومي ځاى ته لاړو نو صحابه وو وويل چې مونږ ته د مشكو بوى راځئ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل : چې دلته د ابي معاويه يعني عبيدة رضى الله تعالى عنه قبر دى .

٥. عُمَيْرُ بْنُ أبي وقاص رضى الله تعالى عنه .

نسب يې : عمير بن أبي وقاص (د ابي وقاص خپل نوم مالک دى) مالك بن أهيب بن عبد المناف بن زهرة بن كلاب القرشي الزهري, وعمير هو أخٌ لسعد بن أبي وقاص رضي الله عنهما.

مور يې : حَمْنة بنت سفيان بن أمية بن عبد شمس.

حضرت عُمَيْرُ بْنُ أبي وقاص رضى الله تعالى عنه هم له هغه صحابه وو څخه دى چې د اسلام په شروع كې په ايمان مشرف شوى وو او چې كله يې مدينې منورې ته هجرت كړى وو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دده ورور ګلوي د حضرت خبيب بن عدي الانصاري الاوسي رضى الله تعالى عنه سره جوړه كړې وه چې په مكه مكرمه كې شهيد كړل شو او د مكې په زمكه يې د اول شهدي افتخار خپل كړو او په مكه كې اول كس وو چې د الله تعالى د دين له ا مله په مكه كې په دار و ځړول شو او په دار

بدر کې الحارث بن عامر وژلی وو او دوی اوس ترې خپل انتقام واخستو .

او دا چې څنګه يې ونيولو او څنګه يې مکې ته بوتلو قصه يې د همدې سلسلې (د اسلامي تاريخ له پانړو څخه) په دوهم کتاب کې تېره شوېده .

حضرت عمير رضی الله په نوې ځوانۍ کې وو چې عمر يې تر ١٦ کلونو څخه زيات نه وو او شهادت يې په زړه باندې يوازينی لوی ارمان وو بېشکه چې اسلام د ژوند هغه نظام دی چې په نفسونو کې ايمان ننباسي او زړونه قربانۍ او فداکاري ته تحريکوي او هغه څوک چې د همداسې رښتينې ايمان سره د شهادت مرتبه پيدا کړي نو رښتونې کاميابي يې تر لاسه کړه او حضرت عمير رضی الله تعالی عنه ډېر زيات ډاريدو چې دا مرتبه له لاسه ورنه کړي او هسې نه چې ترې محروم شي چې يو وخت د مسلمانانو جنګيالو تر شا خپل ځان پټ پټ کوي خپل مجاهد مشر ورور حضرت سعد ابن ابي وقاص ترينه پوښتنه کوي داسې ولې کوې؟ دی وايي چې که رسول الله صلی الله عليه وسلم مې ووينې بيا به هغه راته ووايي چې ته وړوکی يې جنګ ته مه ځه نو چې څه وخت وروسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر نظر لاندې راغلو نو يې ورته وويل چې ته وړوکی يې جګړې ته به ته نه ځې نو دی رضی

وکوي چې کله په جګړه کې ورته د شرکت اجازه وشوه نو مشر مجاهد ورور سعد ابن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه يې د تورې بند لږ ورته ددې لپاره وړوکی کړو چې په غاړه کې به يې واچوله نو په زمکه ترينه لګېده او چې په جګړه باندې ور ګډ شو ترڅو چې شهيد شوی نه وو نو نه يې وروسته وکتل او نه شاته شو او لوی کافر ازلي بدبخت عمرو بن عبدود العامري په شهادت ورسولو او دا مشرک د حضرت علی رضی الله تعالی عنه په لاس د خندق په غزوة کې د هجرت په پنځم کال خپل انجام ته ورسېدو او ووژل شو .

وړوکی حضرت عمير رضی الله تعالی عنه الله تعالی ته ډير ګران وو چې د عمر په نوي پسرلي کې يې ورته شهادت نصيب کړو الله تعالی دی زمونږ ملاقات ورسره په جنت کې د شهيدانو په صف کې وکوي او الله تعالی د دده مرتبې لوړې کړي .

٦. مِهْجَعٌ مولی عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه
د تاريخ په کتابونو کې د مهجع په اړه معلومات نشته خو ويل کيږي چې دا په اصل کې د يمن وو او دا غلام وو بيا وربانديې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه احسان وکړو وايې اخستو او ازاد يې کړو .

صلی الله علیه وسلم دده وروركلوي د حضرت سراقة بن عمرو بن عطية بن النجار الأنصاري الخزرجي رضي الله عنه سره جوړه كړې وه چې د هجرت په آتم كال د موتة په غزوة كې په شهادت ورسېدو .

يو وخت چې كله مشركين په هغه ځاى كې تېرېدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته ناست وو او ضعيف مسلمانان ترې ور ټول وو په هغوى كې صهيب بن سنان، عمار ابن ياسر، بلال ابن رباح، خباب بن الارت او مهجع رضی الله تعالی عنهم وو مشركينو وويل (په درواغو سره) چې كه پيغمبر دا كمترين خلك له ځان نه لرې كړي مونږ ورسره كينو او دهغه خبرې آورو لكن دا كسان زمونږ د مجلس قابل نه دي دا زمونږ سيالان نه دي .

پدې اړه الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل چې كله هم دا مسلمانان له خپل ځان څخه لرې نه كړي :

سورة انعام اية ٥٢

وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ

ترجمه : له ځان نه ونه شړې هغه کسان چې دعا غواړي له رب خپل نه په سبا او بيګاه کې غواړي مخ دهغه په تا باندې ددوی له حساب نه هيڅ شی نشته او نه ستا د حساب نه په هغوی باندې څه شته او که ته دوی وشړې نو ته به د ظالمانو له جُملې نه شې .

الله تعالی پدې آيت سره ښکاره کړه چې هغه کس چې غريب وي خو د ښه ايمان خاوند وي په څو چنده د هغه کس نه غوره دی چې ښه مال ولري او د ايمان د نعمت نه محروم وي او صرف ايمان او تقوی د بهتري معيار دی .

د بدر په واقعه کې حضرت مهجع رضی الله تعالی عنه اول شهيد وو چې د مسلمانانو په صفونو کې وشو د تاريخ د کتابونو له مخې دی په صف کې ولاړ وو چې په غيشي باندې ولګېدو او وغورځېدو او عامر بن الحضرمي کافر وويشتو او دا مشرک هم لږ ساعت وروسته د حضرت عمار بن ياسر رضی الله تعالی عنه ووژلو .

الله تعالی په مهجع باندې رحم وکولو چې بهترين مرګ د شهادت يې ورته نصيب کړو الله تعالی يې دې مرتبې لوړې کړي او الله تعالی دې مونږ په قيامت کې دده سره د شهيدانو په صف کې مخامخ کړي .

انصار شهيدان

د انصارو له جملې نه آته کسان شهيدان وو .

١. حضرت حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ رضی الله تعالی عنه .
نسب يې : حارثة بن سراقة الحارث بن عدي بن عامر بن غنم بن عدي بن النجار الأنصاري الخزرجي.

مور يې : الربُّيَّعُ بنت النضر عمة أنس بن مالك رضي الله عنه.

په کوم وخت کې چې حارث رضی الله تعالی عنه شهيد کېدو ښکلی ځوان وو تولـه دنيا يې پرېښې وه او يو الله تعالی ته يې مخه کړې وه د شهادت سره يې زيات شوق وو يو وخت يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې ای د الله رسوله ما خپل ځان له دنيا نه را ټول کړی دی او خپلې شپې مې ويښې کړې دي او د ورځې تنده تېروم او ماته داسې ښکاره کيږي لکه زه چې د الله په عرش باندې ولاړ وم او په جنت کې اهل جنت را ته ښکاره کيږي رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل چې دې بنده ته د ايمان نور په زړه کې ور اچول شوی دی .

د بدر په غزوة کې يې د ترصد کار کولو او بدې

بولي نو مسلمانو جنګيالو ته به وايي چې دی پخپله وظيفه باندې ولاړ وو نو غيشی ورته راغلو او په غاړه کې پرې ولګېدو او شهيد شو او د انصارو له لوري نه دا لمړی شهيد وو او د کفارو له لوري نه راغلی غيشی وو ويل کيږي چې حبان بن الرقة وويشتلو .

د حضرت حارثة رضى الله تعالى عنه مور رضى الله تعالى عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چې ای دا لله رسوله ماته د حارثة نه قصه وکوه چې هغه اوس چېرته دی که هغه په جنت کې وي نو زه به صبر وکوم او که په جنت کې نه وي نو زه به نوره هم وژاړم رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل په جنت کې ډېر جنتونه دي او ستا زوی اوس په جنت الفردوس الاعلى کې دی .

۲. حضرت رَافِعُ بْنُ الْمعُلَّى رضى الله تعالى عنه
نسب يې : رافع بن المعلى بن لوذان بن حارثة بن عدي بن زيد بن ثعلبة بن زيد مناة بن حبيب بن عبد حارثة بن مالك بن غضب بن جشم الأنصاري الخزرجي.
حضرت رَافِعُ بْنُ الْمعُلَّى رضى الله تعالى عنه د هغه کسانو له جملې نه وو چې د اسلام په ابتداء کې په ايمان مشرف شوی وو د بدر په غزوه کې ورو ورو په صفونو کې تر هغه وخته

کلک استقامت وركړو او تكړه يې كړو تر هغه وخته پورې جنګېدو ترڅو چې شهيد شوى نه وو الله تعالى يې په جنت كې مرتبې لوړې كړي او الله تعالى دې مونږ د شهيدانو پيغمبرانو او نيكانو په صف كې ورسره مخامخ كړي .

۳. حضرت سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ رضى الله تعالى عنه
نسب يې : سعد بن خيثمة بن الحارث بن مالك بن كعب بن النحاط بن كعب بن حارثة بن غنم بن السلم بن امرئ القيس بن مالك الأنصاري الأوسي.
حضرت سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ رضى الله تعالى عنه هغه كس وو چې مكې مكرمې ته يې اويا (۷۰) په يو قول دري اويا (۷۳) كسان چې دوې پكې زنانه وې مكې ته راوستل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د منى سره نېږدې ځاى كې بيعت وكولو او رسول الله صلى ا لله عليه وسلم په دوى كې دولس كسان نقيبان غوره كړل چې دوى به په قوم كې خلكو ته اسلام ور ښيي او استاذي به كوي او حضرت سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ رضى الله تعالى عنه يې بني عوف ابن عمرو ته نقيب مقرر كړو او كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې ته مهاجر شو نو د اول ځل لپاره په بني عمرو ابن عوف كې په كلثوم بن الهدم الاوسي باندې مېلمه شو چې مشر سپين ږيرى وو او د زيات عمر خاوند وو او چې كله دده نه ووتلو نو بيا د حضرت سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ

دلته هم رسول الله صلى الله عليه وسلم په اصل کې د حضرت سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ رضى الله تعالى عنه سره مېلمه شوى وو خو د كلثوم بن الهدم د مشر والي له امله هغه ته ورغلى وو نو پدې کې ددې صحابي حضرت سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ رضى الله تعالى عنه لوړه مرتبه ښكاره كيږي .

په مدينه منوره کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دده ورور ګلوي د حضرت أبي سلمة بن عبد الأسد المخزومي رضي الله عنه سره جوړه کړې وه .

د حضرت أم سلمة هند بنت أمية رضي الله عنها سره يې واده کړى وو .

دى او دده پلار خيثمه رضى الله تعالى عنهما دواړه په هغه صحابه وو کې وو چې د اسلام په اوائلو کې په اسلام کې داخل شوي وو .

چې کله بدر ته د وتلو وخت شو نو په ده او پلار کې يې د يو کس وتل په کار وو او بل کس بايد په کور کې پاتې شي چې د کورساتنه و غيره کارونه وکوي دواړو پدې تينګار کاوه چې زه بايد لاړ شم ترديې چې دواړو سره قرعه (پچه) واچوله په هغه کې قرعه د ده را ووتله نو بيا پلار ورته وويل چې خير دى ته پاتې شه او ما

واى نو تاته به مې خپل حق دركړى واى لكن معامله د كوم دنياوي شي نه ده بلكه د جنت معامله ده .

بالآخره سعد رضى الله تعالى عنه بدر ته راغلو كله چې دواړه صفونه سره مخامخ شول په پوره ځوانمردي باندې و جنګېدو او بې ساري قرباني يې وړاندې كړه نه تر آخره پورې شاته راغلو او نه يې وروسته وكتل په كفارو باندې د ناڅاپي تندر په څېر تر هغه وخته پورې ور غورځېدو چې د طُعيمة بن عديل، په يو قول د عمرو بن عبد ود په واسطه شهيد كړل شو الله يې دې مرتبې لوړې كړي او مونږ دې ورسره د انبياوو، شهيدانو او نيكانو په صف كې د قيامت په ورځ يو ځاى كړي روح يې دې ښاد وي .

٤. حضرت عُمَير بن الحُمَام رضى الله تعالى عنه .
نسب يې : عمير بن الحمام بن الجموح بن زيد بن حرام بن كعب بن سلمة الأنصاري الخزرجي.

له كومه وخت چې حضرت عُمَير بن الحُمَام رضى الله تعالى عنه د شهادت په فضائلو او دشهيدانو لپاره په لوړو مرتبو باندې خبر شوى وو د شهادت شوق يې په زړه كې پداسې اندازه سره ګرځولو چې بالكل د جنون تر حد پورې يې د

جنت ته چې عرض يې لکه د زمکې او اسمانونو دومره دى) حضرت عمير ابن الحمام الانصاري وويل بخ بخ (واه واه) عرض يې دومره دى لکه د زمکې او اسمانونو؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې بخ بخ دې ولې وويل ؟ ده وويل چې ځکه مې وويل چې کاش زه د جنت له اهل نه واى رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې ته يې له اهل نه يې او خورمايې را واخيستې يوه يې ترې وخوړه بيا يې وويل چې که زه دومره ژوندى پاتې شم چې دا خورما وخورم نو دا هم ډېر اوږد عمر دى او په جګړه ور ګډ شو تر څو چې شهيد شو. الله تعالى يې دې مرتبې لوړې کړي

او د خالد بن اعلم الخزاعي کافر له لاسه په شهادت ورسېدو او دا ازلي بدبخت هم د احد په غزوة کې چې دهجرت په دريم کال وه د قزمان منافق په لاس ووژل شو او قزمان هغه کس وو چې زخمي وو او د کنانة نه يې يو غيشى را واخيستو او ځان يې پرې پخپله ووژلو او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه وويل چې دى د اور له اهل څخه دى .

٥.٦ . حضرت عَوْفُ، ومُعَوَّذ بْنُ الحارِثِ رضى الله تعالى عنهما .

نسب يې : عَوْفُ، ومُعَوَّذ بْنُ الحارِثِ ابنا الحارث بن رفاعة بن الحارث بن سواد بن مالك بن غنم

مور ئې : عَفْراء بنت عُبيد بن ثعلبة بن عبيد بن ثعلبة بن غنم بن مالك بن المجار.

دوی دری وروڼه وو عوف، ومعوذ، ومعاذ او د مور په نوم سره يې شهرت درلود او د عفراء زامن به ورته ويل کېدل له هغه کسانو څخنې وو چې د اسلام په اوائلو کې په اسلام مشرف شوي وو او تر خپلې تولې وسې پورې يې ددين د مرستې کوښښونه کړي وو او په هرځای يې ددې مقدس دين لپاره د هېڅ ډول قرباني نه مخ نه وو اړولی .

حضرت عوف بن الحارث رضي الله عنه په بيعة العقبة الاولی کې شريک او او ورور يې معاذ رضي الله عنهما په بيعة العقبة الثانية کې شريک وو چې ۱۲ کسان نور انصار مسلمانان ورسره وو او دری واړه وروڼه عوف، ومعوذ، ومعاذ رضي الله عنهم په بيعة العقبة الثالثةکې شريکان وو .

د بدر په غزوه کې دری واړو وروڼو برخه اخيستې وه او ښه په څوانمردي باندې و جنګېدل په دوی وروڼو کې اول حضرت عوف رضی الله تعالی عنه ميدان ته په داسې حالت کې ودانګل چې د الله تعالی په مينه باندې بې حاله ښکاره کېدو او داسې مقابله يې کوله چې د کفارو نه يې زړه ويستلو او د الله په رښتينې مينه سره مست وو په

چې د شهادت جام يې په نصيب شو (الله يې دې په جنت کې مرتبې لوړې کړي) .

بيا حضرت معاذ او معوذ دواړو ورونو د جنګ ميدان ته ودانګل او د يو قول له مخې لوى طاغوت ابو جهل هم د همدوى دواړو بازانو په لاس باندې قتل کړل شو لکن د بل قول له مخې د ابو جهل په وژنه کې معوذ بن عفراء او معاذ بن الجموح رضى الله تعالى عنهما شريکان وو .

په هر صورت د بدر په غزوة کې دوى درى واړه ورونه رضى الله تعالى عنهم شريکان وو او عوف او معوذ رضى الله تعالى عنهما يې شهيدان شول او معاذ رضى الله تعالى عنه زخمي شو او تر ډېره وخته پورې ژوندى وو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې په ټولو غزواتو کې برخه اخيستې ده او بيا د حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه په زمانه کې او د يو قول لله مخې د حضرت علي رضى الله تعالى عنه په زمانه کې وفات شو روح يې دې ښاد وي .

۷. حضرت مُبَشَّرُ بْنُ عبد الـمْنُذْرٍ رضی الله تعالی عنه

نسب يې : مبشر بن عبد المنذر بن زنبر بن زيد بن أمية بن زيد بن مالك بن عوف بن عمرو بن عوف بن مالك الأنصاري الأوسي.

د نېکه مرغه او له ښه بخته حضرت مبشر رضی الله تعالی د بدر په لور د مسلمانانو د روانو لښکر ملګری شو او الله تعالی هلته ورته د شهادت لوړ مقام ورکړو او په پوره غيرت سره تر هغه وخته پورې و جنګېدو ترڅو چې شهيد شوی نه وو دده په اړه حضرت ابو جابر عبد الله بن عمرو السلمي الانصاري رضی الله تعالی عنه فرمايي چې ما حضرت مبشر رضی الله تعالی عنه په خوب کې وليد تر اُحد وړاندې ما ته يې ويل چې ته په يو څو ورځو کې مونږ ته را روان يې ما ورته وويل چې ته چرته يې؟ ده راته وويل مونږ په جنت کې يو چېرته مو چې زړه وي هلته اوسيږو .. ما ورته وويل چې ولې ته په بدر کې وژل شوی نه وې؟ ده راته وويل هو وژل شوی وم بېرته را ژوندی شوم .

دا خبره چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ما وکوله نو هغه راته وويل ای اباجابره دا شهادت دی .

٨. حضرت يَزِيدُ بْنُ الحْاَرِثِ رضى الله تعالى عنه
نسب يې : يزيد بن الحارث بن قيس بن مالك بن أحمر بن حارثة بن مالك الأغر بن ثعلبة بن كعب بن الخزرج بن الحارث الأنصاري الخزرجي.

مور يې : فُسْحُم من بَلْقَين, او دى هم د مور په نوم سره مشهور وو (د فسحم زوى به ورته ويل كېدل).
يزيد بن حارث هم له هغه صحابه وو نه يو وو چې د اسلام په اوائلو كې په اسلام مشرف شوي وو د بدر په غزوة كې د خپلو مجاهدينو ورونو په څنګ كې د مقدس دين په دفاع كې او د الله تعالى د مباركې كلمې د لوړ والي لپاره تر هغه وخته پورې و جنګېدو چې تر څو د طعيمة بن عدي له لوري وژل شوى نه وو الله تعالى ورته لوړه مرتبه د شهادت نصيب كړه الله يې دې د ټولو شهيدانو سره مرتبې لوړې كړي او الله تعالى دې مونږ له دوى سره د قيامت په ورځ د انبياوو عليهم السلام او د نيكانو او شهيدانو په صف كې يو ځاى كړي .

ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

1410هـ- 1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ-1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28- السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة

٢٩–المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

3٠– طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

3١– المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

3٢– القيادة العسكرية في عهد الرسول صلى الله عليه وسلم، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

3٣– إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.